# ښځيوال خصوصي حقوق

## (د بهرنيانو حقوق او وجايب)

**ليکوال**

عبدالوهاب

کال : ۱۳۹۳

www.ketabton.com په انترنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

# د بهرنيانو حقوق او وجايب


| | |
|---|---|
| ليکوال : | عبدالوهاب |
| د چاپ شمير: | ۱۰۰۰ ټوکه |
| خپرووونکي : | علمي خپروندويه ټولنه / ګرديز |
| کمپوز : | په خپله ليکوال |
| ډيزاين : | سيدرحيم کوچي |
| چاپ کال | ۱۳۹۳ |



د چاپ ټول حقوق له خپروندويه ټولني سره خوندي دی



د ترلاسه کيدو ځايونه

**علمي کتاب پلورنځی**

پکتيا ، د ګرديز ښار، غزني لين، د عبدالحميد ګرديزي مارکيټ ، افغانستان

اړيکشميرې : ۰۷۷۲۹۳۶۳۴۱-۰۷۷۲۲۸۸۱۹۰

برېښناليک : ilmiketabtoon@yahoo.com

پکتيا: اوښتون خپرونديه او کلـــــــتوري ټولنـــــــــــه

خوست: رحيمي کـــــــــــتاب پلـــــــــــــــــورنځي

جلال اباد : مـــــومند کـــــــــتاب پلـــــــــــورنځي

جلال اباد: ګـــــودر کـــــــتاب پلــــــــــورنځي

کابل: خــــــــيبر کــــــــتاب پلـــــــــــــورنځي

کابل: مســــــــتقبل کــــــتاب پــــــــــــلورنځي

کندهار: صــــــــداقت کــــــتاب پلــــــــــورنځي

هلمند: سيدجـــــــمال الدين کـــــــتاب پلـــــــورنځي



www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

إنه من سليمان وإنه

بسم الله الرحمن الرحيم

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

## د خپرندویه ټولنې یادابښت

علمي خپروندویه ټولنه هلې ځلې کوي ترڅو هغه علمي اثار چې د چاپ څخه پاتې دي په لوړ کیفیت سره چاپ کړي چې په همدې لړ کې داخل د محترم استاد عبدالوهاب نوی علمي اثر چې د (بهرنیانو حقوق) تر عنوان لاندې یې په خپله مورنۍ ژبه پښتو باندې لیکلی دی چاپ کړ، نوموړی کتاب(دبهرنیانو حقوق) چې موضوعات یې د افغانستان په بیلا بیلو پوهنتونو کې د حقوقو او سیاسي علومو په پوهنځیو کې تدریس کیږي تر دې مهاله په پښتو ژبه ندی چاپ شوی او د لومړي ځل لپاره د ښاغلي استاد عبدالوهاب د هڅو په پایله کې د درنو استادانو، محصلینو او نورو لوستونکو خدمت ته وړاندې شو.

په همدې ډول علمي خپرندویه ټولنه تل هڅې کوي چې د ښاغلي وهاب صیب د کتاب په څیر نورو ارزښتناک کتابونه چاپ کړي او د درنو لوستونکو د مطالعې تنده پرې ماته کړي. په پای کې علمي خپرندویه ټولنه ښاغلي لیکوال ته د نوموړي اثر مبارکي وایي او په راتلونکي کې ورته د نورو علمي اثارو په لیکلو او ژباړلو کې د لوی رب له دربار څخه د توفیق غوښتنه کوي.

قاری محمد نسیم سعادت

د علمي خپروندوی ټولني مشر

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

## د پیل خبرې

لکه څه ډول چې پوهېږو اوسنی عصر یا نننی نړۍ د روابطو، اړیکو او همدارنګه د تنګ راتنګ نړۍ ده یعنی په اوسني وخت کې بشر د خپل متبوع هیواد په قلمرو کې منحصر او محصور نه دی بلکې د انسانانو تر منځ روابط او اړیکې د ښار او هیواد د څلور دیوالیو د محدودې څخه وتلي او په نړیواله کچه یې پراختیا پیداکړیده. نن ورځ په میلیونونو کارکوونکي د خپلو متبوع هیوادونو پرته په نورو بهرنیو هیوادونو کې په مختلفو کارونو بوخت او مشغول دي، په لسګونو زره خلک د محصل، محقق او استاد په نوم د بهرنیو هیوادونو په پوهنتونونو کې په مختلفو برخو کې مصروف دي، په زرګونو سوداګر دخپل متبوع هیواد د سرحدونو څخه دباندې په بهرنیو هیوادونو کې دخپلو سوداګریزو مالونو د خرڅولو او اخیستلو لپاره هڅه او کوشش کوي او په میلیونونو پناه وړونکي او کډوال د نړۍ په مختلفو هیوادونو کې ژوند کوي، چې د مختلفو قوانینو، فرهنګونو، مادي او معنوي ارزښتونو سره مخامخ کیږي. خلاصه دا چې هره لحظه په لسګونو زره انسانان د غیر قابل اجتناب ضرورتونو په اساس د خپلو متبوع هیوادونو د پولو او سراحداتو څخه بهر او د نورو هیوادونو سرحداتو او خاورو ته داخلیږي او د یوه ټاکلي وخت لپاره هلته ژوند او استوګنه کوي، چې نوموړي افراد باید د ځینو حقوقو څخه برخمن او د ځینو وجایبو متحمل شي، یعنی د خپل ځان په مورد باید د قوانینو له حیثه یو واضح او غیر مبهم وضعیت ولري. او که بهرنیان د عمومي او خصوصي حقوقو له حیثه محدودیتونه ولري باید مشخص او واضح شي. په همدې ترتیب سره که بهرنیان په ځینو مواردو کې د زیاتو خصوصي حقوقو څخه برخمن وي هغه هم باید مشخص شي. نو پدې اساس نن ورځ د پخوانیو دورو برعکس، چې بهرنیان په محل اقامت یا میزبان هیواد کې د حداقل حقوقو څخه برخمن نه وو، بهرنیان د ژوند په مختلفو اقتصادي او ټولنیزو برخو او په ځانګړي ډول دخصوصي حقوقو او قسماً د یو سلسله عمومي حقوقو څخه هم برخمن دي، چې د یو لړ حقوقو څخه د بهرنیانو برخمن کیدل له یوه هیواده تر بل هیواد پورې توپیر لري، خو عمدتاً په هیوادونو کې د خصوصي حقوقو څخه برخمن کیدل په متقابله

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

قانوني، سياسي او عملي رويې (چلند) او ځينې وختونه په دوه اړخيزو او څو اړخيزو تړونونو پورې تړاو لري. په همدې ترتيب سره بهرنيان نن ورځ په محل اقامت هيواد کې د يوسلسله هغه حقوقو څخه برخمن دي، چې د بشر د ژوندانه لپاره اړين او لازمي دي لکه د ژوند حق، د آزادی حق، د مذهبي مراسمو د اجراکولو حق، د تحصيل حق، د ورود حق، د عبور حق، د اقامت حق، د خروج حق، د غير منقولو اموالو پرته د مال او ملکيت د لرلو او مصونيت حق، د مسکن د مصونيت حق او داسې نور...

اساساً د بهرنيانو نوموړي بشري حقوق په مهمو نړيوالو اسنادو کې لکه د بشر حقوقو نړيواله اعلاميه، د بشر حقوقو نړيواله اسلامي اعلاميه، د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق، د پناه وړونکو په وضعيت پورې اړوند کنوانسيون او د بهرنيانو په مورد د ملګرو ملتونو په اعلاميه کې هم په پراخه پيمانه سره منعکس او تضمين شويدي، همدارنګه د بهرنيانو نوموړي حقوق د افغانستان د مدونو حقوقو دورې له پيل (١٣٠١کال) راپديخوا د افغانستان په مختلفو قوانينو کې هم منعکس شويدي، چې پدې اثر کې د بهرنيانو حقوق او وجايب د هيواد د نافذه قوانينو او نړيوالو معتبرو اسنادو له نظره د مطالعې او بررسی لاندې نيسو.

بنا ً په نړيواله کچه د موضوع اهميت او په ملي ژبو او بالخصوص په پښتو ژبه کې پدې مورد د معلوماتو عدم مجوديت دې ته وهڅولم، چې پدې هکله مطالعه او تحقيق پيل کړم تر څو له يوه پلوه بهرني اتباع د محل اقامت هيواد نافذه قوانينو او مقرراتو له لارې د بهرنيانو لپاره په رسميت پيژندل شويو حقوقو څخه خبر او معلومات ترلاسه کړي او له بله پلوه نور خلک او په ځانګړي ډول د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی محصلين، چې په راتلونکي کې د قانون او عدالت مجريان دي د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو څخه، چې د افغانستان په مختلفو قوانينو او نړيوالو معتبرو اسنادو کې يې انعکاس موندلی لازم معلومات ترلاسه کړي.

بناپردې پدې ليکنه کې پر داخلي او خارجي منابعوسربيره د امکان تر حده د ټولو هغه قوانينو او مقرراتو څخه هم استفاده شويده، چې د بهرنيانو په حقوقو او وجايبو پورې د اړوندو احکامو لرونکي دي. په همدې ترتيب سره د هغه نړيوالو اسنادو څخه هم استفاده شويده، چې د بهرنيو اتباعو دحقوقو او انساني کرامت د ساتنې

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

لپاره د نړیوالې ټولنې له لورې تدوین او تدوین شویدي، چې دا سناد عمدتاً د بشر حقوقو نړیوالې اعلامیې، د بشر حقوقو نړیوالې اسلامي اعلامیې، د مدني اوسیاسي حقوقو نړیوال میثاق، د پناه وړونکو په وضعیت پورې اړوند کنوانسیون او د بهرنیانو په مورد د ملګرو ملتونو اعلامیې ته شاملیږي.

او په اخر کې د شیخ زاید پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی د ټولو استادانو او په ځانګړي ډول د پوهنیار محمد شفیق مندوزي څخه زیاته مننه کوم، چې د دې لیکنې په لیکلو کې راسره زیاته همکاري او علمي لارښوونې کړیدي د خدای(ج) له درباره ورته د اوږد ژوند او په کارونو کې د بریالتوب غوښتنه کوم.

په درنښت

عبدالوهاب

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

# تقریظ

د محترم عبدالوهاب د "د بهرنیانو حقوق او وجایب" تر عنوان لاندې علمي او څېړنیزه لیکنه، مې په غوراو دقت له سر څخه تر پایه ولوستله، زما له نظره نوموړي لیکنه چې د نړیوالو خصوصي حقوقو د ډېرې مهمې موضوع په رابطه لیکل شویده، یوه عمده ښیګڼه یې دا ده چې د دې اثر په لیکلو کې د نویو او لومړۍ لاس داخلي او خارجي سرچینو څخه استفاده شویده، او هم د افغانستان د قوانینو موقف د هرې موضوع په رابطه پکې روښانه شویدی.

نوموړي اثر په شکلي بڼه په دوه فصلونو کې ترتیب شویدي چې په لومړی فصل کې د بهرنیانو عمومي پیژندګلوي، د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو تاریخي سیر، د بهرنیانو ډولونه، د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو مباني او د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو منابع په پنځو مبحثونو کې او په دوهم فصل کې په افغانستان کې د بهرنیانو حقوقو او وجایب د عمومي او خصوصي حقوقو په ساحه کې او همدارنګه د بهرنیانو د اقامت، عبور او خروج حقوق او د بهرنیو حکمي اشخاصو حقوق په ترتیب سره په څلورو مبحثونو کې لیکل شویدي.

نوموړی لیکنه چې په روانه او ساده پښتو ژبه لیکل شوي، د پښتو ژبې لیک دود هم پکې په ښه ډول رعایت شویدی او د بهرنیانو په حقوقو او وجایبو پورې د اړوندو مسایلو او موضوعاتو اړخونه په واضع او مفصل ډول څېړل شویدي، چې د موضوع په رابطه پکې ټول اړین او ګټور معلومات پکې راټول شویدي.

پخپل نوبت سره په پښتو ژبه د دا ډول مغتنم اثر لیکل یوه لویه لاسته راوړنه بولم او د افغانستان د ټولو پوهنتونو د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځیو د محصلینو او په عموم کې د کتاب او مطالعې مینه والو ته د دې اثر د مطالعې توصیه کوم. او لیکونکي ته یې د ژوند په ټولو چارو کې د بریالیتوب او کامیابی غوښتنه کوم.

**په درنښت**

**پوهنمل محمدالله مندوزی**

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

د شیخ زاید پوهنتون د حقوقو او سیاسي علومو پوهنځی ریس

تقریظ

انسان د انسانیت له مخې اړ دی چې انساني ارزښتونه وپیژني، ویې پالي او د هغوی درناوی وکړي، هر څومره چې د انسان په ژوند کې د انساني ژوند د اړتیاوو او غوښتنو د رفع کولو په موخه علمي او انساني مبارزه او هڅې شتون ولري نو په همغه اندازه سره انساني لوړ ارزښتونه او معیارونه هم خوندي کیږي. هر انسان په ټولنه کې د یو لړ حقوق تر څنګ د یو لړ وجایبو سره نږۍ ته سترګې غړوي، هغوی چې په ټولنه کې د خپلو حقوقو ترڅنګ خپل وجایب درک کړي نو له شک پرته چې ځان هره شیبه او هره لحظ د ټولنې پر وړاندې مسوول بولي، د ۲۱ پیړۍ انسان د نړیوال کلي اوسیدونکی دی، د یو کلیوال په عنوان اړ دی چې د کلیوالو له حقوقو او وجایبو ځان خبر کړي، هر څومره چې د انسان پوهه په دې اړه ژوره وي نو په همغه اندازه په دې کلي کې د ټولو انسانانو حقوق خوندي او وجایبو ته ژمن وي . محترم ورور عبدالوهاب یو له هغې ځوانانو له ډلې څخه دی چې په خپل کم عمر کې یې په خپل مسلک کې د عمر په نسبت زیات مزل کړی، د حقوقو د بخش یوه مهمه او ژوره برخه یې څیړلي، ډېر ښکلي اود مسلک اړوند مواد یې په ډېر ښکلي شکل نه یوازې دا چې راټول کړي بلکې په ډېره خوږه او روانه ژبه یې بیان کړي دي. د لیکونکي دا مهمه علمي او مسلکي ټولګه نه یوازې دا چې دده د علمي پانګې په پیاوړتیا کې مهمه ثابته شوي بلکې ددې مسلک د پلټوونکو او لټوونکو په لار کې هدف ته د رسیدو له پاره ښه موکه په لاس ورکوي، هغه څه چې د حقوقو پوهنځي د یو زده کړیال له پاره ډېر اړین دي، لیکونکي په ډېر ښکلي انداز په دې علمي ټولګه کې راټول کړي، هغه څه چې

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

انسان يې د ډېرو کتابونو د مطالعې څخه په لاس راوړلی شي د ليکونکي همدا يوه ټولګه يې انسان ته په ګوتو ورکوي، دا چې نړۍ د نړيوالتوب اصل ته په پام سره په يو کلي او کور بدله شوي نو همدې ټکي ته په پام سره په دې کلي کې اوسيدل دده ايجاب کوي چې يو د بل په حقوقو او د حقوقو پر وړاندې يو د بل په وجايبو ځانونه خبر کړو، محترم عبدالوهاب، د وخت د غوښتنې سره سم دا موضوع په ډېر ښکلي شکل شربلي او بالاخره يې په ډېره روانه ژبه د حقوقو د مسلک د مينوالو له پاره وړاندې کړي، هغه څه چې په دې ټولګه کې ډېر مهم دي هغه دا دي چې ډېر لوی او مهم مسايل يې په ډېر لنډ او ښکلي شکل سره بيان کړي او راټول کړي دي، ډېر ژور مسايل يې په ډېرو لنډو او پر معنی الفاظو کې ښکاره کړي. زه نه يوازې دا چې د ګران عبدالوهاب دا علمي هڅه او کړنه ستايم بلکې په دې عرصه کې ورته د لا زياتو برياوو غوښتونکی يم، کران ورور عبدالوهاب که د خپل مسلک سره خپله مينه همداسې جاري وساتي نو له شک پرته چې په ډېره کمه موده کې به د خپل مسلک په يو ځليدونکي ستوري بدل شي. هيله مې داده چې زمونږ ځوان نسل د ليکونکي په لار قدم کيږدي او دداسې علمي پنځونو په مټ د خپلې کړيدلي، ځوريدلي ، جنګ او جګړې وهلي ټولنې له پاره د خدمت مصدر وګرځي.

**په ټوله علمي او هيوادنۍ مينه**

**استاد ميرولي جان لکنوال**

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

## تقریظ

محترم عبدالوهاب، چې خپله علمي او څېړنيزه ليکنه يې د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو تر عنوان لاندې ليکلي، نوموړي ليکنه مې له سر څخه تر پايه مطالعه کړه او د نوموړي ليکنې په مورد خپل نظر په لاندې ډول څرګندوم:

نوموړی علمي ليکنه د مطالبو په لړليک، د پيل خبرو او مقدمې سربېره په دوه فصلونو کې ترتيب او ليکل شويده، چې په لومړي فصل کې د بهرنيانو عمومي پېژندګلوي، د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو تاريخي سير، د بهرنيانو ډولونه، د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو مباني او د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو منابع او په دوهم فصل کې په افغانستان کې د بهرنيانو حقوق او وجايب د عامه حقوقو او خصوصي حقوقو په ساحو کې او پدې سربېره د بهرنيانو د اقامت، عبور او خروج حقوق او همدارنګه په افغانستان کې د بهرنيو حکمي اشخاصو حقوق او وجايب په مفصل ډول سره څېړل شويدي او په پای کې د يوې پايلې او نتيجه ګيری په شکل سره اختتام مومي.

نوموړی ليکنه چې په روانه پښتو ژبه ليکل شوي او د پښتو ژبې ليک دود پهم پکې په ښه ډول رعايت شوی، پر معتبرو داخلي او بهرنيو منابعو سربېره د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو په مورد د هيواد نافذه قوانينو او مقرراتو او نړيوالو قواعدو او کنوانسيونونو څخه هم استفاده شوي.

د يادولو وړ ده، چې د دا ډول اثر تحقيق او ليکل په عملي او اکاډميکه ساحه او خاصتاً د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د محصلينو لپاره ګټور او هغوی ته د نوموړی اثر د مطالعې توصيه کوم پردې او د هغې ليکوونکي ته د خدای(ج) له دربار څخه د لازياتو برياليتوبونو غوښتنه کوم.

**په احترام**

**پوهنيار محمد شفيق مندوزی**

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

**د شيخ زايد پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی استاد**

## لړليک

موضوع صفحه

لومړۍ فصل........................................................................25
كليات ........................................................................25
لومړۍ مبحث........................................................................25
د بهرني تعريف او عمومي پيژندګلوي........................................................................25
۱- لغوي تعريف ........................................................................25
۲- اصطلاحي تعريف........................................................................25
۳- حقوقي وضعيت (حقوق او وجايب)........................................................................27
دوهم مبحث ........................................................................30
د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو تاريخي سير........................................................................30
لومړی پراګراف ........................................................................30
په نړۍ كې د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو تاريخي سير ........................................................................30
لومړۍ جز - په ابتدائې ټولنو كې د بهرنيانو حقوق او وجايب........................................................................30
الف - په پخواني يونان كې د بهرنيانو حقوق او وجايب........................................................................31
ب - په پخواني روم كې د بهرنيانو حقوق او وجايب........................................................................32
دوهم جز - په منځنيو پيړيو كې د بهرنيانو حقوق او وجايب........................................................................33
دريم جز - په اوسني عصر كې د بهرنيانو حقوق او وجايب ........................................................................35

www.ketabton.com په انټرنيټ كې د پښتو ژبې انلاين كتابتون

لړلیک

موضوع صفحه


دوهم پراگراف ................................................................ 36

په افغانستان کې د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو تاریخي سیر ............................... 36

لومړۍ جز - د امان الله خان د حکومت پر مهال د بهرنیانو حقوق او وجایب......... 36

دوهم جز - د نادرخان د حکومت پر مهال د بهرنیانو حقوق او وجایب............... 38

دریم جز - د ظاهر شاه د حکومت پر مهال د بهرنیانو حقوق او وجایب ............. 39

څلورم جز - د داؤد خان د حکومت پر مهال د بهرنیانو حقوق او وجایب ............ 41

پنځم جز - د دیموکراتیک گوند د حکومت پر مهال د بهرنیانو حقوق او وجایب ........................................................................ 42

شپږم جز - د مجاهدینو د حکومت پر مهال د بهرنیانو حقوق او وجایب ............ 44

اووم جز - د طالبانو د حکومت پر مهال د بهرنیانو حقوق او وجایب ................ 44

دریم مبحث.................................................................... 45

د بهرنیانو ډولونه ................................................................ 45

لومړۍ پراگراف - د معاصرو حقوقو له نظره د بهرنیانو ډولونه..................... 45

لومړۍ جز - عادي بهرنیان................................................... 46

الف - مقیم بهرنیان.......................................................... 46

۱- دایمي اقامت ................................................................ 47

۲- موقتي اقامت ................................................................ 47

دوهم جز - کډوال ( مهاجر)............................................. 47

مهاجرت ډولونه................................................................ 48


www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

الف - فردي مهاجرت ........................................................................ 48

لړلیک

موضوع صفحه

ب - تولیز مهاجرت ........................................................................ 48
ج - اجباري مهاجرت ........................................................................ 49
د- اختیاري مهاجرت........................................................................ 49
ه - قانوني مهاجرت ........................................................................ 49
دریم جز – پناه اخیستونکی........................................................................ 51
څلورم جز - توریستان........................................................................ 54
پنځم جز - محصلین........................................................................ 55
شپږم جز - سوداګر ........................................................................ 55
اووم جز - ژورنالیستان ، عکاسان او نور افراد ، چې په مختلفو مطبوعاتي او نشراتي فعالیتونو کې کار ترسره کوي........................................................................ 55
اتم جز – کارکوونکي........................................................................ 56
نهم جز - فراري مجرمین........................................................................ 56
لسم جز - د تسهیلاتو غوښتونکي ........................................................................ 57
یولسم جز - آواره ګان........................................................................ 57
الف - جنګي آواره........................................................................ 58
ب- د طبیعي حوادثو او مصیبتونو آواره........................................................................ 58
دولسم جز- مامور ........................................................................ 59
الف – غیر سیاسي مامور ........................................................................ 59

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

ب- سياسي مامور ........................................................................59
دوهم پراګراف ........................................................................60
د اسلام له نظره د بهرنيانو ډولونه ........................................................................60

لړليک

موضوع صفحه

لومړۍ جز - اهل کتاب يا اهل ذمه ........................................................................60
**ايا د ذمه تړون يواځې د اهل ذمه سره منعقد کېږي او که د هغې څخه پرته د نورو سره هم منعقد کيږي؟** ........................................................................61
دوهم جز - مستامن ........................................................................62
دريم جز - غير اهل کتاب ........................................................................62
څلورم مبحث ........................................................................64
د بهرنيانو د حقوقو مباني او اساس ........................................................................64
لومړۍ پراګراف ........................................................................65
داخلي قوانين (د خود الزاميت مبنا) ........................................................................65
دوهم پراګراف ........................................................................66
د متقابل التزام اساس ( متقابل روش يا د دولتونو ترمنځ د بهرنيانو په نسبت متقابله رويه ) ........................................................................66
١ – د حق د منشا په لحاظ متقابل روش ........................................................................68
٢ – د يو حق د وجود شرط ، متقابل روش ........................................................................68
لومړۍ جز- متقابل سياسي روش ........................................................................69
١ – د دوه اړخيزه معاهدو په انعقاد سره متقابل سياسي روش ........................................................................69
٢- په نړيوالو او منطقوي اتحاديو پورې په الحاق سره متقابل سياسي روش ........................................................................69
دوهم جز- متقابل قانوني روش ........................................................................70

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

دریم جز – متقابل عملي روش ........................................................................ 72
څلورم جز- متقابل مساعد روش ........................................................................ 73
دریم پراګراف- په نړیوالو تړونونو کې د غړیتوب په اساس د التزام مبنا ............ 74

لړلیک

موضوع صفحه

الف- فلسفي او اخلاقي نظریه ........................................................................ 76
ب - سیاسي نظریه ........................................................................ 77
دریم مبحث........................................................................ 79
د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو منابع........................................................................ 79
لومړی پراګراف ........................................................................ 79
د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو داخلي منابع ........................................................................ 79
دوهم پراګراف ........................................................................ 80
د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو نړیوالې منابع........................................................................ 80
لومړی جز - د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه........................................................................ 81
دوهم جز - د هغه اشخاصو په مورد چې د محل اقامت هیواد تابعیت نلري د
ملګرو ملتونو د عمومي اسامبې د ۱۹۸۵ کال اعلامیه ........................................ 82
دریم جز – د پناه وړونکو د وضعیت په مورد د ۱۹۵۱کال کنوانسیون ............... 83
دوهم فصل ........................................................................ 84
په افغانستان کې د بهرنیانو حقوق او وجایب ........................................................................ 84
لومړی مبحث........................................................................ 84
د عامه حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوقو او وجایب ........................................ 84
لومړی پراګراف ........................................................................ 85

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

د اساسي حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق او وجایب.................................85
لومړی جز- د افغاني اتباعو انحصاري اساسي حقوق.........................................85
۱- د جمهوري ریاست د مقام لپاره د نوماندۍ حق...........................................86

لړلیک

موضوع صفحه

۲- د جمهوري ریاست د معاونیت حق..............................................................86
۳- د وزیر کیدو حق.....................................................................................86
۴ – د سترې محکمې په عالي شورا کې غړیتوب او د قاضي په حیث د دندې د اجرا کولو حق.....................................................................................87
۵- د ملي شورا د غړیتوب حق.......................................................................88
۶- د لوی څارنوال او څارنوال کیدو حق..........................................................89
۷- د مدافع وکالت حق....................................................................................89
۸- د رایې ورکولو(انتخابولو) حق.....................................................................90
۹- د اعتصابونو او مظاهرو حق.......................................................................91
۱۰- د سیاسي ګوندونو د تاسیس حق................................................................91
دوهم جز – هغه اساسي حقوق چې بهرنیان ورڅخه برخمن دي.........................92
۱- د ژوند حق..............................................................................................92
۲- د آزادی او انساني کرامت حق..................................................................95
۳- د مذهبي مراسمو د اجرا کولو حق...........................................................97
۴- د مخابراتو او مراسلاتو د محرمیت حق......................................................98
۵- په مال باندې د تعرض څخه د مصؤنیت حق..............................................99

www.ketabton.com په انټرنېټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

۶- په اوسیدنځای(مسکن) باندې د تعرض څخه مصونیت ................................. 101
دوهم پراګراف ........................................................................ 103
د جزا حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق او وجایب ................................. 103
لومړی جز – د جزا حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق................................. 103
۱- د برئ الذمه پیژندلو حق ......................................................... 103

لړلیک

موضوع صفحه

۲- د جرایمو د شخصي والي پرنسیپ حق ................................................. 104
۳- د شکنجې او انساني کرامت خلاف جزا د ټاکنې د منع حق.............................. 106
۴- د مدافع وکیل د لرلو حق.......................................................... 106
۵- د محکمې په جریان کې د ژباړن د لرلو حق........................................... 107
۶- قضا ته د مراجعې حق.............................................................. 108
دوهم جز – د جزا حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو وجایب ................................. 111
دریم پراګراف ........................................................................ 112
د کار حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق او وجایب.................................... 112
څلورم پراګراف........................................................................ 117
د مالي حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو وجایب ......................................... 117
دوهم مبحث ......................................................................... 118
د خصوصي حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق او وجایب ............................. 118
لومړی پراګراف ....................................................................... 119
د عیني حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق او د هغې محدودیتونه..................... 119
دوهم پراګراف ........................................................................ 121

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

د فامیل حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق او وجایب.................................. 121
لومړی جز – د ازودواج عقد په مورد د بهرنیانو حقوق.................................... 121
الف - د ازدواج په متني قواعدو د تطبیق وړ قانون..................................... 122
ب – د ازدواج په شکلي شرایطو د پلي کیدو وړ قانون.................................. 122
دوهم جز – د طلاق په مورد د بهرنیانو حقوق.............................................. 123

لړلیک

موضوع صفحه

دریم جز – د ازدواج عقد په مالي آثارو د پلي کیدو وړ قانون........................... 124
څلورم جز – په قضائې تفریق د پلي کیدو وړ قانون...................................... 125
پنځم جز – د والدینو او والدانو ترمنځ په وجایبو باندې د تطبیق وړ قانون......... 126
دریم پراګراف........................................................................................ 126
د وجایبو حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق او وجایب................................ 127
لومړی جز – د عقد څخه د ناشي وجایبو په مورد د بهرنیانو حقوق.................. 127
الف – د طرفینو د اختیاري اقامتګاه قانون.................................................. 127
ب – د عقد د تکمیل د محل قانون :.............................................................. 127
ج- د ارادې د انتخاب قانون:........................................................................ 128
د – د عقد د محل قانون:............................................................................. 129
دوهم جز – د حقوقي حوادثو څخه په ناشي وجایبو باندې د پلي کیدو وړ قانون.......................................................................................................... 129
څلورم پراګراف........................................................................................ 130
د تجارت حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق او وجایب.............................. 130
پنځم پراګراف.......................................................................................... 132
د میراث حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق............................................. 132

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

دريم مبحث ............................................................................................... 132
د بهرنيانو د ورود ، عبور ، اقامت او اخراج حقوق او دهغې محدوديتونه........... 132
لومړی پراګراف ........................................................................................ 133
د بهرنيو اتباعو د ورود حق ........................................................................ 133
لومړی جز – د بهرنيانو د قبول مطلقه آزادي ............................................... 133

لړليک

موضوع صفحه

دوهم جز- د بهرنيانو د قبول محدوديت........................................................ 134
الف- پاسپورټ او د هغې ډولونه................................................................... 135
۱- سياسي پاسپورټ .................................................................................. 136
۲- د خدمت پاسپورټ .................................................................................. 137
۳- تحصيلي پاسپورټ.................................................................................. 138
۴- عادي پاسپورټ ....................................................................................... 138
ب – ويزه او د هغې ډولونه.......................................................................... 139
۱- ورودي ويزه........................................................................................... 139
۲- د اقامت ويزه ......................................................................................... 142
۳- د ترانزيټ ويزه....................................................................................... 142
۴- دوه طرفه تيريدو ( ډبل ترانزيت) ويزه........................................................ 143
۵- د سياحت ويزه ....................................................................................... 143
۶- د تګ او راتګ ويزه .................................................................................. 144
۷- د زياتو سفرونو(کثير المسافرت) ويزه......................................................... 144
۸- د وتلو(خروجي) ويزه................................................................................ 144

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

دریم جز – افغانستان ته د بهرنیو اتباعو د ورود حق استثنات .......................... 146
دوهم پراګراف.......................................................................................... 147
د بهرنیو اتباعو د اقامت حق ............................................................................ 147
لومړی جز – موقت اقامت ............................................................................... 147
دوهم جز – دایمي اقامت ................................................................................ 149

لړلیک

موضوع صفحه

دریم پراګراف ........................................................................................ 150
د عبور حق............................................................................................. 150
دریم پراګراف ........................................................................................ 151
د خروج حق............................................................................................ 151
تبصره – اخراج ....................................................................................... 153
څلورم مبحث........................................................................................... 157
په افغانستان کې د بهرنیو حکمی اشخاص حقوق او وجایب............................. 157
لومړی پراګراف....................................................................................... 158
د بهرنیو حکمي اشخاصو ثبت او پیژندنه........................................................ 158
الف- د بهرنیو انتفاعي خصوصي حکمي اشخاصو ثبت او پیژندنه..................... 158
ب- د غیر انتفاعي خصوصي حکمي اشخاصو ثبت او پیژندنه ......................... 160
دوهم پراګراف........................................................................................ 161
د بهرنیو حکمي اشخاصو حقوق او وجایب.......... ........................................ 161
پایله...................................................................................................... 164
ماٴخذونه................................................................................................. 167

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

**مقدمه**

لکه څه ډول چې واضح ده د بهرنیانو حقوقي وضعیت یا حقوق او وجایب د نړیوالو خصوصي حقوقو د عمده او او اساسي مباحثو څخه ګڼل کیږي ، چې البته په نننی نړۍ کې د ارتباطي وسایلو، د مختلفو هیوادونو د اتباعو د تګ او راتګ، په فني او تخصصي برخو کې د بهرنیانو د کاري ځواک او تخصص څخه د استفادې پراختیا او د توریزم، مهاجرت او نړیوال تجارت زیاتیدل او همدارنګه د فرهنګي او علمي مبادلاتو توسعه او انکشاف د دې سبب شول، چې د نړۍ په زیاتره هیوادونو کې یو زیات شمیر بهرنیان په موقتي یا دایمي ډول د خپلو متبوع هیوادونو پرته په نورو هیوادونو کې ژوند وکړي، پرته له دې چې خپل اصلي تابعیت تغیر کړي او یا د هغې د تغیر کیدو قصد او اراده ولري. طبعاً چې په نورو هیوادونو کې د بهرنیانو اوسیدل د هغوی لپاره له ځان سره یو سلسله حقوق او وجایب لري، چې نوموړي حقوق او وجایب له یو هیواد څخه تر بل هیواد پورې توپیر لري، له همدې امله زیات شمیر هیوادونه په خپل قلمرو کې د مقیمو بهرنیانو لپاره د نړیوالو حقوقو یا داخلي حقوقو مطابق یو سلسله حقوقي تسهیلات رامنځته کوي. دا چې آیا په یو هیواد کې مقیم بهرنیان د نړیوالو حقوقو تابع دي او که د خپل متبوع یا محل اقامت(کوربه) دولت د حقوقو تابع دي؟ پدې مورد د نړیوالو خصوصي حقوقو زیات شمیرعالمانو بحثونه کړیدي، یو ډله علماء د بهرنیانو د حقوقو رعایت کول یو نړیوال نزاکت بولي او وائي، چې نړیوال نزاکت د دې غوښتنه کوي چې د یوه هیواد په قلمرو کې بهرنیانو ته د هغوی د متبوع هیوادونو د قوانینو مطابق یو سلسله حقوق ورکړل شي. په همدې ترتیب سره بله ډله علماء د بهرنیانو د حقوقو رعایت کول د نړیوال عدالت نتیجه بولي د دې طرز تفکر پلویان څرګندوي چې نړیوال عدالت د دې غوښتنه کوي، چې بهرني اتباع په یوه هیواد

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

کې د یو سلسله ټاکليو حقوقو څخه برخمن شي او د شخصي احوالو اړوند مسايلو کې د دوی د متبوع دولت قوانين رعايت شي او بلاخره بله ډله علماء هغه د دولتونو تر منځ د متقابل چلند او احترام پايله ګڼي.(۵۳ : ۱۲۵)

هغه څه چې پدې ځای کې د توجه وړ دي، دا دي چې په نړيوالو خصوصي حقوقو د بهرنيانو لپاره حد اقل حقوق مشخص شويدي او دولتونه هر وخت، چې خپل قلمرو ته د بهرنيانو د ورود او دخول موافقه وکړي او د هغوی لپاره ويزه صادره کړي، نو بايد چې د هغوی لپاره حداقل حقوق هم په رسميت وپيژني، چې د يوه انساني شخص په عنوان سره د بهرنيانو په حقوقو تيری او تجاوز د دولت د مسوليتونو باعث ګرځي، نو روښانه ده چې دولت د خپلو ټولنيزو او اقتصادي مصلحتونو په نظر کې نيولو سره هيواد ته د بهرنيانو ورود او دخول محدود او يا د بهرنيانو ورود او اقامت تشويق کړي او په هيواد کې د بهرنيانو د اقامت يا خارجي پانګونې د تشويق په منظور او د خارجي خدماتو څخه په استفادې سره د هغوی لپاره حداقل حقوق وپيژني .نو بنا پر پورته ذکر شويو ځرګندونو سره پدې ليکنه کې د بهرنيانو حقوق او وجايب په دوو فصلونو کې، چې په لومړي فصل کې د بهرنيانو حقوق او وجايب په پنځو مبحثونو کې په ترتيب سره د بهرنيانو عمومي پيژندګلوي، د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو تاريخي سير، د بهرنيانو ډولونه، د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو مبانی او د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو منابع او په دوهم فصل کې په افغانستان کې د بهرنيانو حقوقو او وجايب او د هغې محدوديتونه په څلورو مبحثونو کې په ترتيب سره د عمومي حقوقو په ساحه کې د بهرنيانو حقوق او وجايب، د خصوصي حقوقو په ساحه کې د بهرنيانو حقوق او وجايب، د بهرنيانو د ورود، عبور، اقامت او خروج حقوق او د بهرنيو حکمي اشخاصو حقوق او وجايب د څيړنې او مطالعې لاندې نيسو.

### د تحقيق ضرورت او هد ف

په اوسني عصر کې چې د نړيوالو ارتباطاتو او د اطلاعاتو د تبادلې عصر دی د بشري ټولنو په اړيکو باندې د ملي او نړيوالو حاکمو قواعدو په قلمرو کې د بشري ټولنې په حقوقي اړيکو باندې د پلي کيدونکو قواعدو د بررسی او نوي کتنې ضرورت زيات محسوسيږي. نن ورځ دا ممکنه نه ده، چې د بهرنيانو په نسبت بې اعتنا پاتې شو

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

او دهغې لپاره د بشري ژوندانه په مختلفو اړخونو کې مقررات او قوانين تنظيم نکړو، ځکه ميزبان هيوادونه کولای شي چې د هغوی د فکري توانمنديو او مادي پانګو څخه د خپل هيواد د رشد په مورد استفاده وکړي. لدې جهته پدې تحقيق کې هڅه او کوشش شويدی تر څو د بهرنيانو د حقوقي وضعيت مختلف اړخونه او حالات بيان شي چې د دې اثر عمده او اساسي هدفونه عبارت دي له :

- په هيواد کې د بهرنيانو د حقوقو د مختلفو اړخونو او حالاتو مطالعه او بررسي، چې په هغې کې ټول هغه حقوق چې بهرنيان يې په افغانستان کې لري او څرنګه کولای شي چې د دغه حقوقو څخه استفاده وکړي.
- په هيواد کې د بهرنيانو د مکلفيتونو او وجايبو درک او پيژندنه، چې دهغې په موجب يو بهرنی په ميزبان هيواد کې کوم ډول وجايب لري تر څو هغه رعايت کړي.
- د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی د محصلينو، مدافع وکيلانو او نورو اشخاصو لپاره د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو په مورد د زياتو معلوماتو راټولول.
- په مورد نظر هيواد کې د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو په مورد د نړيوالو منل شويو اصولو په اساس د حقوقو او وجايبو د درک او پيژندلو لپاره د هغه هيوادوالو سره د مرستې لپاره، چې بهرنيو هيوادونو ته د سفر قصد او اراده لري.
- د نړيوالو خصوصي حقوقو مضمون لپاره د ممد درسي موادو د تهيه او جمع کولو لپاره، چې د بهرنيانو حقوق او وجايب يې يو د عمده مباحثو څخه دی.
- د هيواد د هغه نافذه قوانينو، احکامو او مقرراتو جمع بندي کول او پيداکول چې د بهرنيانو لپاره يې په افغانستان کې حقوق او وجايب په رسميت پيژندلي دي.

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

- د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو په مورد په نړیوالو اسنادو کې د احکامو او موادو پیداکول او مطالعه کول.
- د هیواد د نافذه قوانینو او پخوانیو قوانینو د نیمګړتیاوو او نواقصو څرګندول، چې د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو په مورد یې لري.

# لومړی فصل

## کلیات

پدې فصل کې به د بهرنیانو په مورد بهرنیانو پیژندنه او تعریفات، د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو تاریخي سیر، د بهرنیانو ډولونه او د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو منابع په څلورو مبحثونو کې په لاندې ډول د مطالعې لاندې ونیسو:

## لومړی مبحث

## د بهرني تعریف او عمومي پیژندګلوي

### ۱- لغوي تعریف

بهرنی[1] یا خارجې په لغت کې د ناآشنا (۵۲ : ۳۳۵) او په بل دولت پورې د مربوط شخص څخه عبارت دی (۶ : ۴۰۸)

### ۲- اصطلاحي تعریف

د بهرني په مورد بیلابیل تعریفونه شتون لري چې څو یې په لاندې ډول ذکر کوو:

د پرنسیپ له مخې بهرنی هغه چاته ویل کیږي چې په هغه هیواد کې چې پکې استوګنه ولري د هغې تابعیت ونلري (۵۷ : ۳۴) یعنی بهرنیان هغه وګړو ته وایې چې په یوه دولت کې اوسیږي او د هغې دولت تابعیت ونلري. همدارنګه د بهرني یا خارجي اصطلاح په هغه شخص باندې اطلاق کیږي، چې د محل اقامت دولت

---

[1] Alien - Foreigner

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

تابعیت ونلري که هغه د بل دولت د تابعیت د لرلو لـه املـه وي او یـا د هیڅ دولت د تابعیت د نـه لرلـو لـه املـه وي او هم یـې د محـل اقامـت دولـت پـه نسـبت سیاسـي ، حقوقي او فرهنګي تړاو او رابطه نه وي برقراره شوي [۵۵ : ۱۳].

او یـا د بهرنـي یـا خـارجي اصـطلاح د تبعـه یـا داخلـي پـه مقابـل کـې استعمالیږي او نوموړي اصـطلاح پـه هغـه خلکـو بانـدې اطـلاق کیـږي، چـې د محـل اقامـت دولـت تابعیت ونلري که د محل توقف څخـه د بـل دولـت تابعیت ولـري او یـا د هیڅ دولـت تابعیت ونلري یعنی آپاترید وي.[۳ : ۱۷۶] په نړیوالو خصوصي حقوقو کې بهرنـی یـا خـارجی هغـه فـرد دی ، چـې د میزبـان دولـت تابعیـت ونـلـري او د خـارجي دولـت تابعیت ولري همدارنګه هغه اشخاصو تـه هم بهرنیـان ویـل کیـږي چـې هیڅ تابعیت ونلري.[۱۵: ۸۵] .

په فقهي کتابونو کې بهرنی یا بیګانه هغه شخص ته ویل کیږي، چې نه اسلام ومني اونه د ذمه تړون انعقاد ته اقدام وکړي، په بل عبارت په فقهي ادبیـاتو کـې غیـر ذمـي کافر په اوسنیو حقوقو کې د بهرني مفهوم افاده کـوي، پـه بهرنـي بانـدې د غیـر ذمـي کـافر تطبیـق د بهرنـي عـام تـرین مفهـوم دی، چـې ټولـو بهرنیـانو او خارجیـانو تـه شامليږي که پخپل قلمرو کې مقیم بهرنیان وي او یـا د بـل دولـت پـه قلمـرو کـې مقیم بهرنیان وي.[۹ : ۲۱۲]

د افغانسـتان پـه ادارو کـې د بهرنیـو اتبـاعو د اسـتخدام مقرري د ۲ مـادې پـه دوهمـه فقـره کـې بهرنــی دا ډول تعریـف شـویدی ((بهرنــی تبعـه هغـه شـخص دی، چــې د افغانستان تابعیت ونلري)). او د تابعیت قانون په ۳ مـاده کـې بهرنـی دا ډول تعریـف شویدی: بهرنی هغه شخص دی چې د افغانستان اسلامي جمهوریت تبعـه نـه وي او پرته له تابعیته شخص. همدارنګه د پناه وړونکو په حقوقي وضـعیت پـورې د اړونـد کنوانسیون کې بهرنی دا ډول تعریف کړیدی (( بهرنی هغه چا تـه ویـل کیږي، چې د خپل محل اقامت هیواد تبعه نه وي)).

په حقوقي کتابونو او قوانینو کې د بهرني یا خارجي پر اصطلاح سربیره د پردي یـا اجنبي اصطلاح هم کارول کیږي، لکه څرنګه چې د مدني قـانون پـه ۲۰۰۰ مـاده او

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

د حقوقو په ترمینولوژی کې د اجنبي یا پردي څخه یادونـه شویده خو د افغانستان د تابعیت قانون په ۳ ماده کې د بهرني یا خارجي اصطلاح کارول شویده.

**۳- حقوقي وضعیت (حقوق او وجایب)**

وضعیت د یوه شي په کلي حالت یا څرنګوالي او یا په یوه ټاکلي وخت کې د چارو د جریان او څرنګوالي څخه عبارت دی[۶ : ۲۵۶۶]یا د اشخاصو وضعیت د اشخاصو د هغه کیفیت څخه عبارت دی، چې د یوه هیواد د جاري قوانینو له نظره یې لري[۹ : ۷۴۹] حقوقي وضعیت د شخص د حقوقي اوصافو لـه مجموعې څخه عبارت ده ، چې قانوناً په هغه باندې حقوقي اثار مرتب شي او هغه موارد پکې شامل دي چې د وضعیت برخې جوړوي.[۵۷ : ۸۰] خو باید یادونه وکړو چې په حقوقي اصطلاح کې هغه اوصاف مورد نظر دي چې د انسان د شخصیت څخه غیر قابل تفکیک وي . یا د بهرني د وضعیت څخه منظور هغه حقوق او وجایب دي ، چې اشخاص یې د خپل متبوع هیواد څخه بهر د خارجي والي په لحاظ لري.[۳ : ۱۷۶]

د روم په حقوقو کې کې د اشخاصو وضعیت په دریو برخو ویشل شوی وو:

۱- د آزادۍ او غلامۍ له نظره د اشخاصو وضعیت: د روم په حقوقو کې د شخص وضعیت لدې جهته چې آزاد دی او که غلام توپیر درلود ، نو پدې اساس اشخاصو د حریت او برده ګی له نظره متفاوت حقوق درلودل .

۲- د شخص سیاسي وضعیت : د روم په حقوقو کې د شخص سیاسي وضعیت لدې نظره ، چې د روم تبعه یا د لاتیني نژاد څخه دی فرق درلود ، بنا پردې رومي اتباع د غیر رومي اتباعو په نسبت د زیاتو حقوقو او امتیازاتو څخه برخمن وو .

۳- د شخص فامیلي وضعیت : د روم په حقوقو کې د شخص وضعیت لدې رویه چې پلار او د کورنۍ سرپرست دی او یا زوی او د بل د سرپرستۍ لاندې قرار لري توپیر درلود .

علاوه له دې درې ډولـه وضعیت څخه پـه پخوا وختونو کې د شخص وضعیت د ټولنیزو طبقاتو له نظره هم مورد بحث وو او په نتیجه کې د هغوی حقوقي وضعیت لدې جهته چې، له کومې ټولنیزې طبقې څخه وو توپیر درلود ، لکه چې په فرانسه

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

کې د رنسانس له دورې څخه مخکې افراد د دوی په دريو طبقو ويشل شوي وو : روحانيون ، نجبا او عوام وګړي، چې د دوی حقوقو او امتيازاتو د هغوی د ټولنيز موقف له نظره فرق کولو.

نن ورځ د شخص وضعيت د حريت او غلامۍ له مخې مطرح نه دی، ځکه د ټول خلک له حقوقي نظره آزاد دي، مګر په ننيو حقوقو کې د اشخاصو د سياسي وضعيت مورد بحث دی، د شخص وضعيت لدې جهته چې د خپل هيواد تبعه يا بهرنۍ دی دی توپير کوي، ځکه د ځينو هيوادونو په قوانينو کې ځينې حقوق شتون لري، چې بهرنيان د هغه څخه محروم دي. لکه د انتخابيدلو او انتخابولو حق .

د اشخاصو وضعيت د طبقاتو له مخې، چې پخوا يې شتون درلود نن ورځ شتون نه لري، ځکه نن ورځ اصولاً ټول ټولنيز طبقات د حقوقي نظره د مساوي او برابرو حقوقو لرونکي دي. د اساسي قانون د ۲۲ مادې له مخې (( د افغانستان د اتباعو تر منځ هر راز تبعيض او امتياز منع دی ، د افغانستان اتباع ښځې او نارينه د قانون په وړاندې مساوي حقوق او وجايب لري )) سربيره پردې د افغانستان قوانينو د بهرنيو اشخاصو لپاره خاص حقوقي وضعيت پيشبيني کړيدی ، چې کولای شو هغه د حقوقي وضعيت په نوم سره ياد کړو. (۱۸:۷۹،۸۰)

څرنګه چې دولتونه اصولاً د خپلو ملي مصالحو پر اساس د خپلو اتباعو لپاره قوانين او مقررات وضع کوي، نو د بهرنيو اتباعو د حقوقي وضعيت په مورد هم ضرور ده چې قوانين او مقررات وضع شي تر څو واضح شي چې بهرنيان په محل اقامت هيواد کې د کومو حقوقو ، مکلفيتونو او قانوني حمايتونو څخه برخمن دي او د کومو مکلفيتونو او وجايبو څخه معاف دي، د بهرنيانو څخه حمايت د يو سلسله نړيوالو عرفي او قراردادي قواعدو تابع ده ، چې پدې دوو اخرو پيړيو کې مخصوصاً د لويو قدرتونو د فشار په واسطه يې زياته توسعه پيداکړيده . په هر حال نن ورځ د نړۍ ټولو هيوادونو د بهرنيانو لپاره حداقل حقوق په نظر کې نيولي دي اما د دې حقوقو څخه د بهرنيو اشخاصو د برخمن کيدلو او د مکلفيتونو د تحميل د اندازې په مورد اختلاف شتون لري.(۳ : ۱۷۶)

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

ځينو هيوادونو د بهرنيانو لپاره زيات حقوق منلي دي او ځيني هيوادونه د بهرنيانو لپاره هماغه د خپلو داخلي اتباعو په حقوقو او وجايبو باندې قايل دي او بعضې هيوادونو د خارجيانو لپاره نسبتاً كم حقوق پيشبيني كړيدي ، چې عمدتاً دا مسله د هيوادونو په سياسي ، اقتصادي او ټولنيز طرزتفكر او موقعيت پورې تړاو لري.(۵۵ : ۱۵)

تر اوسه پورې د دولت په روش كې د بهرنيانو په اړه ډول ډول رژيمونه شته چې دريو ډولونو كې يې خلاصه كولی شو:

**۱ـ ځانګړی رژيم :**

هغه رژيم دی چې دولت د اتباعو په اړوند له بهرنيانو سره د متفاوتو قواعدو په بنسټ يو ډول رفتار وكړي ، يا په بل عبارت دولت د بهرنيانو لپاره ځانګړي قواعد وضع كوي چې د عامه اتباعو له قواعدو سره توپير لري ، شوني ده چې ځانګړی رژيم د اتباعو په انډول د بهرنيانو په ګټه وي يا د بهرنيانو په نسبت عامه وګړيو ته لړ امتيازات پكې په نظر كې نيول شوي وي .

**۲ـ ملي رژيم**

هغه دی چې دولت له بهرنيانو سره كټ مټ هغه روش او رويه غوره كړي ، كومه يې چې د خپل هيواد له اتباعو سره اختيار كړيده، يعنی د خپلو اتباعو په څير بهرنيانو ته هم د وضع ضمانت وكړي . خو دا بايد په ياد ولرو چې په نړۍ كې هيڅ هيواد ملي مطلق رژيم د بهرنيانو په وړاندې نشته او كيدای هم نشي، چې دا رژيم دې پلی شي، ځكه په هر هيواد كې بهرنيان په ځانګړو سيمو ( سياسی او نظامي) كې نشي كولای او يا دا حق نلري چې ورشي. د بيلګې په توګه بهرنيان نشي كولای چې په دولتي حساسو او لوړو پوستونو كې ځای په ځای شي ، په ټاكنو كې د ګډون حق نه لري او د عسكري چوپړ جوګه هم نشي كيدای.

شوني ده چې په ځينو ځايونو كې عيناً لكه د هغه هيواد د عامه اتباعو په څير په دوی ورته او يو شان قوانين پلي شي . په استثنايي صورت سره په ځينو هيوادونو كې لكه د منقولو ملكيتونو نيول ، د بانكونو تاسيسول، د الوتكو په شان دارايې ،

www.ketabton.com په انټرنيټ كې د پښتو ژبې انلاين كتابتون

بیړۍ ، د اوسپني لیکي او دیته ورته نور د بهرنیانو لپاره شتون نلري . پدې معنی چې بهرنیان نشي کولای چې دا شیان د دوی په واک کې وي .

**۳- د ښو سلوکو رژیم**

د بهرنیانو په وړاندې دا رژیم پدې معنی دی ، چې د تړون په بنسټ تاسیس او تثبیتیږي او د تړون دواړه لورې اړ دي چې په ډیره لوړه کچه په کومو حقوقو کې ، چې یو بل ته قایل دي د دریم هیواد اتباعو ته هم جایز او ورته پرې قایل شي. (۱۶ : ۸۷،۸۸)

## دوهم مبحث

## د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو تاریخي سیر

په مختلفو ټولنو کې د بهرنیانو د حقوقي وضعیت یا حقوقو او وجایبو د تحولاتو په مورد د معلوماتو لاسته راوړل د دې موضوع د بهتر او ښه درک لپاره مفید او ضروري دي، پدې فصل کې اولاً په عمومي ډول د ابتدائي ټولنې څخه نیولي تر عصر حاضر پورې او ثانیاً په افغانستان کې د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو تاریخي سیر په دوه مبحثونو کې په لاندې ډول مطالعه کوو .

## لومړی پراګراف

## په نړۍ کې د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو تاریخي سیر

لکه څرنګه چې مو مخکې یادونه وکړه پدې مبحث کې په عمومي ډول د بهرنیانو حقوقو او وجایب په ابتدائي ټولنه ، منځنیو پیړیو او عصر حاضر کې په جلا ، جلا ډول د مطالعې لاندې نیسو.

### لومړۍ جز - په ابتدائي ټولنو کې د بهرنیانو حقوق او وجایب

د ځینو انسان پیژندونکو د نه چندان اثبات شویو څرګندونو له مخې د انساني تاریخ په لومړنیو مرحلو کې نه د ملتونو په نوم څه موجود وو او نه د دولتونو په نوم، بلکې انسانانو د لویو ډلو او کوچنیو قبایلو په شکل سره ژوند کولو چې دا د ابتدائي ټولنې د عصر په نوم سره یادیږي. یعنی څرنګه چې پدې دوره کې خلک د طبعیت

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

په مقابل کې ډېر بې دفاع وو، نو باید چې په ډله ایز ډول یې ژوند ، کار او د خپلو ځانونو څخه دفاع کړي وای. پدې حالت کې به هر کس او فرد چې د خپلې ډلې څخه بهر تللو بهرنی ګڼل کیده، چې د بهرني لقب په هغه وخت کې د دښمن معادل وو. او په هغه دوره کې د خلکو د یو ځای والي عمده عامل هم همدغه امر وو، ځکه د خپلې ډلې څخه بهر ژوند د خطر څخه ډک او د یوه فرد د توان او قدرت څخه خارج وو. په ابتدائي ټولنه کې بهرنیان د هیڅ ډول حقوقو څخه برخمن نه وو او د اجتماعي ډلو څخه خارج شوي او شړل شوي دښمنان ګڼل کیدل، بنا پردې په ابتدائي ټولنو کې هغه اشخاص د ټولنیزو او فردي حقوقو څخه برخمن و ، چې د یوې خاصې ډلي په چوکاټ کې یې ژوند کولو. (۱۸ : ۸۱)

**الف ـ په پخواني یونان کې د بهرنیانو حقوق او وجایب**

د یونان ښاري دولت چې د سیاسي سازمان یو عمده شکل وو، چې د زیاتو واحدونو د ښارونو د مجموعې څخه تشکیل شوی وو، یا د یوه کوچني ښار په شکل وو چې د هغې په چاپیر باندې به معمولاً دیوالونه تاو شوي وو، چې د هغوی ډیرې کمې زراعتي ځمکې یې به یې احاطه کولې(۱۸ : ۸۱) همدارنګه یونانیانو د نړیوالو اړیکو او نړیوالو حقوقو په برخه کې چندان پرمختګ نه درلود، ځکه ځانونه یې د نورو څخه لوړ او بهتر او نور ملتونه یې وحشي او د خپلو ځانونو دښمنان ګڼل.(۱۷: ۱۹)

خو په تدریجي ډول د جنګ او تجارت دوه ګوني عوامل د بهرنیانو د وضعیت د بهبود باعث شول، په پخواني یونان کې دهر ښاري دولت تبع په بل ښاري دولت کې بهرنی ګڼل کیدو او د ښاري دولتونو تر منځ د منعقده تړونونو په اساس د بهرنیانو حقوقو ته ډیره کمه توجه او پاملرنه کیده. د آتن په ښاري دولت کې بهرنیان چې د متیک یانو په نوم سره یادیدل د نفوسو زیاته برخه یې تشکیلوله، چې غالباً په سوداګریزو او صنعتي چارو بوخت وو او د آتن په ښاري دولت کې بهرنیانو ته هیڅ سیاسي او مدني حقوق نه وو ورکړل شوي او د هغوی لپاره یوازې د اقامت او تجارت حقوق په رسمیت پیژندل شوي وو، د کلیستن د حکومت په وخت کې د آتن ښار زیات اوسیدونکي چې بهرنیان وو د ټاکلیو حقوقو لرونکي وپیژندل شول، خو د پریکلسن د حکومت په دوره کې د بهرنیانو په وړاندې د

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

سخت چلند څخه کار اخیستل کیدلو، پدې دوره کې بهرنیان د محدودو حقوقو څخه برخمن وو، ددې باوجود پدې دوره هغه خلک چې د بهر څخه به آتن ښار ته راتلل او د دوی په خاوره کې به یې هستوګنه کوله، نو ځانونه یې خوشحاله ښودل دغه بهرني اتباع د آتن اتباعو په نسبت د کمو حقوقو څخه برخمن وو. په آتن ښار کې میشت بهرنیان پدې ملزم وو، چې د هغې امتیازاتو او مزایاو په مقابل کې، چې ښاري دولت یې ورکوي باید هماغه مالي او نظامي وجایب هم ترسره کړي چې د آتن ښار اوسیدونکي پرې مکلف وو او ددې تر څنګ باید فوق العاده عوارض یا مالیات هم ورکړي. (۹ : ۱۸۷)

**ب - په پخواني روم کې د بهرنیانو حقوق او وجایب**

د پخواني روم په حقوقو کې اتباع او ښاریان په دوه برخو اصلي رومیانو او بهرنیانو باندې ویشل شوي وو(۵۴ : ۳۹۹) چې د بهرنیانو سره د سلوک او چلند طرز او روش د غلامانو په څیر وو، چې د شرایطو په تغیر او د روم په حقوقو کې د تحول د ایجاد څخه وروسته د بهرنیانو سره په چلند او رفتار کې هم تغیر رامنځته شو. د نورو هیوادونو د سیمو په لاسته راوړلو سره چې د هغې په اثر یې د بهرنیانو سره اړیکې ایجاد شوي نو ناچاراً یې د بهرنیانو(Perigerin) لپاره یو ډول حقوق د Jus Gentiem یا د ملتونو حقوق چې د Jus Civil حقوقوپه مقابل کې چې د رومیانو خاص حقوق وو وضع شول. د روم په حقوقو کې اساسي تغیر د بهرنیانو د حقوقي روابطو لپاره د ملتونو د حقوقو ایجاد وو، چې نوي رامنځته شوي وو او په تیرو وختونو کې د نورو ملتونو په منځ کې د دا ډول حقوقو نمونو شتون نه درلود. د روم په حقوقو کې Jus Gentiem یا د ملتونو حقوقو ته د رومي دانشمندانو، چې یوناني فلسفې د تاثیر لاندې راغلي وو په سعی او تلاش سره انکشاف ورکړل شو، چې اساس یې طبیعي حقوق دی. پدې ترتیب سره د روم دروازې د بهرنیانو په مخ خلاصې شوي او د رومیانو او نورو ممالکو د خلکو تر منځ اړیکو او روابطو پراختیا وموندله . بنا پردې د لمړي ځل لپاره په روم کې د رومیانو د حقوقو تر څنګ د بهرنیانو حقوق هم د توجه وړ وګرځیدل ، چې دا د بهرنیانود حقوقو د په رسمیت پیژندلو د شروع نقطه ده.(۱۸: ۸۱)

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

سیسرون رومي حقوقدان د افلاطون او سقراط څخه په پیروی سره، چې په طبیعي او فطري حقوقو یې عقیده درلوده ویل چې، د آدم د عقل او فطرت څخه ناشي ثابت قانون همیشه او په هر ځای کې شتون لري او دا د رنګ، ملیت او نژاد پرته د انسانانو لپاره عام حقوق دي او وضعي قوانین هم باید تر هغه ځایه رعایت کړو چې د طبیعي قانون سره موافق وي. په نتیجه کې د ملتونو د حقوقو تر عنوان لاندې د روم حقوقو په اساس د بهرنیانو لپاره ځیني حقوق په نظر کې ونیول شول، چې د هغې اهم حقوق عبارت دي له :

۱- د بهرنیانو لپاره د اخیستلو او خرڅولو او تجارت حق .

۲- د بهرنیانو لپاره قاضي ته د مراجعي حق .

۳- بهرنیانو ته د فامیل مربوط د ځینو حقوقو ورکړه .

په ۲۱۲ میلادي کال کې د روم امپراطور (کارا کلا) د اکثره بهرنیانو لپاره رومي تابعیت او د روم د مدني حقوقو څخه د استفادي اجازه ورکړه او هغه بهرنیانو ته چې په روم کې اوسیدل او د رومي اتباعو په نسبت د کمو حقوقو څخه برخمن وو، هماغه د رومیانو پشان او د هغوی سره مساوي حقوق یې ورکړل. د روم امپراطورۍ په سقوط سره د روم حقوقي نظام هم په عمل کې له منځه ولاړ، پدې ترتیب هغه حقوق چې د روم امپراطورۍ د شګوفائي په دوره کې رامنځته شوي وو د عام عرف په شکل د یوه رهمنا په عنوان د محلي عرفونو ترڅنګ باقي پاتې شول، خو په هر حال د روم حقوق باید د بهرنیانو د حقوقو د تدوین او انکشاف د عطف نقطه وګڼو.(۹ : ۱۸۸)

## دوهم جز - په منځنیو پیړیو کې د بهرنیانو حقوق او وجایب

په منځنیو پیړیو کې اروپا ملوک الطوایفي جوړښت لرلو او فیوډالانو د خپلې سلطې لاندې منطقو کې حکومت کولو، پدې دوره کې سیاسي واحدونه یو د بل څخه جلا وو او د تجارت او سوداګریزو اړیکو لپاره امنیت شتون نه درلود او په زراعت پورې محدود اقتصاد د دې دورې د عمده ځانګړنو څخه دي. پدې دوره حاکم شرایط د دې سبب شول، چې د موجوده سیاسي واحدونو تر منځ روابط بر

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

قرار نشي او سياسي او سوداګریز روابط هم په ډيره کمه اندازه وو، له همدې وجهې د بهرنيانو حقوقو ته د پاملرنې عامل او موجب شتون نه درلود. او بهرنيان د منځنيو پيړيو تر اواخرو پورې د لمړنيو يا اوليه انساني حقوقو څخه هم برخمن نه وو .

اما د منځنيو پيړيو په اواخرو کې په اروپا کې وضعيت د مرکزي حکومت په لورې حرکت وکړ او مرکزي حکومتونه تشکيل شول، چې د سياسي وحدت ايجاد د هيوادونو اقتصادي او حقوقي شرايطو ته تغير ورکړ او په تدريجي ډول يې د بهرنيانو لپاره ځيني حقوق په نظر کې ونيول، حتی د منځنيو پيړيو په اواخرو کې د بهرنيانو حقوق د توسعې او پراختيا په حالت کې وو، چې په کلي ډول د بهرنيانو سره د چلند او رفتار بهبودي په منځنيو پيړيو کې د سوداګرۍ او تجارت د رشد او انکشاف مهم عامل وو. د ۱۲ پيړۍ څخه وروسته په اروپا کې تجارت او سوداګرۍ رونق پيداکړ او مسافرت او تجارتي معاملات آسان شول، يعني هيوادونو د بهرنيو سوداګرو لپاره ځيني تسهيلات په نظر کې ونيول، چې پدې وخت کې خارجي تجار د زياتو حقوقو څخه برخمن شوي وو.

د منځنيو پيړيو څخه وروسته او په خاص ډول په ۱۶۴۸ کال کې د وستفالي تړونونو د انعقاد څخه وروسته په اروپا کې هيوادونه رامنځته او ملت مفهوم پيداکړ، يعنی ملي دولتونه رامنځته شول. پدې دوره کې د حقوقو څخه د بهرنيانو استفاده يا د بهرنيانو د حقوقو اساس په نړيوالو تړونونو کې د متقابل روش په شرط سره تحقق وموند. د ۱۷ پيړۍ تجارتي تړونونو په خاص ډول سره د خپلو اتباعو په څير د ملي چلند مطابق يې د بهرنيانو لپاره هم رفتار معين کړ. په ۱۷۸۹ کال کې د فرانسې د انقلاب په وقوع سره په اروپا کې د انساني ژوند په عرصه کې د بشر حقوق مطرح او د بهرنيانو حقوق د انساني حقوقو د يوه بُعد په عنوان د پاملرنې وړ وګرځيدل او په تدريجي ډول په فرانسه کې او نورو اروپائې هيوادونو کې د بهرنيانو لپاره مدون حقوق په نظر کې ونيول شول. د فرانسې د مدني قانون په تدوين او هم په نړيواله کچه د خصوصي روابطو په تنظيم سره اروپائي هيوادونه د فرانسې د حقوقي نظام تر تاثير لاندې راغلل او په اروپا کې هر هيواد په شکل د اشکالو د بهرنيانو لپاره حقوق په رسميت وپيژندل شول. او دغه حقوق په مختلفو

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

هیوادونو کې یو شان نه وو، پدې دوره کې د هیوادونو له لورې د بهرنیانو د ورود او اقامت او حداقل حقوق په رسمیت وپیژندل شول، چې د هیوادونو د هیوادونو د سیاسي، اجتماعي او اقتصادي منافعو په اساس یو له بل څخه متفاوت وو. په ۱۹ پیړۍ کې د نړیوالو عرفي حقوقو په اساس د بهرنیانو لپاره د حداقل حقوقو معیار د دولتونو له لورې وپیژندل شو، چې په تدریجي ډول یې انکشاف وکړ د دې باوجود د حداقل حقوقو میزان چې د ټولو هیوادونو لپاره د منلو وړ وي تر اوسه پورې نه دی تعین شوی.(۱۸: ۸۲،۸۳)

**دریم جز - په اوسني عصر کې د بهرنیانو حقوق او وجایب**

شلمه پیړۍ باید د بشر څخه د حمایت پیړۍ په نوم سره یاده شي، د ۲۰ پیړۍ له پیله د بشر حقوقو او انساني ډلو لکه د بهرنیانو او اقلیتونو د حمایت په رابطه زیات شمیر نړیوال سندونه وضع او نافذ شویدي، که څه هم شلمه پیړۍ د دوو نړیوالو جګړو او زیاتو انسانانو د وژنو شاهده وه، ولې بیا هم نشو کولای د هغه اقداماتو څخه سترګې پټې کړو، چې د بشر حقوقو د توسعې او انکشاف لپاره پدې پیړۍ کې ترسره شویدي. په ۲۰ پیړۍ کې فردي بشري حقوقو په نړیواله کچه پرمختګ وکړ او د بهرنیانو د حقوقو په مورد زیات شمیر قواعد وضع شول، د دې قواعدو له جملې څخه کولای شو چې په جنګ کې د غیر نظامي اشخاصو د حمایت مربوط د جینوا د څلورګونو کنوانسیونونو د مقرراتو څخه یادونه وکړو . که څه هم په نړیواله کچه د بهرنیانو حقوق د بین المللي معاهداتو په چوکاټ کې د پاملرنې وړ وګرځیدل، ولې تر اوسه هغې مرتبې ته نه دي رسیدلي چې د هیوادونو په عامه رویه کې مشخص شي، بلکې د داخلي مقنن په اراده پورې تړاو لري او هر هیواد په خپلو موضوعه قوانینو کې د بهرنیانو لپاره حقوق په نظر کې نیولي دي، چې معمولاً د هغه هیواد د اتباعو د حقوقو سره برابر نه وي. په نړیواله کچه د بشر حقوق.

د بشر حقوقو نړیوالې اعلامیې، د مدني اوسیاسي حقوقو نړیوال میثاق، د اقتصادي، ټولنیزو او فرهنګي حقوقو نړیوال میثاق او زیات شمیر نورو د بشرحقوقو نړیوالو کنوانسیونونو او اعلامیو په نړیواله کچه په عام بعد کې د بشر د حقوقو او په خاص بعد کې د بهرنیانو د حقوقو څخه په نړیواله کچه حمایت کړیدی.

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

د مثال په ډول د اروپا د بشر حقوقو کنوانسیون د ۴ پروتوکول ۴ مادې او د ۷ پروتوکول ۱ مادې ته اشاره کولای شو ، چې له دلیل پرته د بهرنیانو اخراج ممنوع ګرځوي.(۹ : ۸۳،۸۴)

## دوهم پراګراف

## په افغانستان کې د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو تاریخي سیر

د دې لپاره چې په افغانستان کې بهرنیو اشخاصو د حقوقو او وجایبو تاریخي سیر مطالعه کړو، نو لازمه ده چې د تاریخي له لحاظه د دوی دورې سره تفکیک کړو. لکه څرنګه چې پوهیږو شرقیان او بالخصوص افغانان د امریکایانو او اروپایانو پر خلاف په مهمانوازی او د بهرنیانو سره په نیکه رویه باندې زیات مشهور دي، چې لدې جهته د بهرنیانو سره د افغانانو نیک چلند د دې ایجاب کوي چې دغه وضعیت یعنی د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو تاریخي سیر په ډیرو پخوا زمانو یعنی د اسلام څخه مخکې، افغانستان ته د اسلام د راتګ په وخت کې او د افغانستان په مدونو حقوقو په مفصل ډول مطالعه کړو، چې د موضوع د ډیر اوږدوالي د مخنیوي پخاطر پدې پراګراف کې یواځې د افغانستان په مدونو حقوقو کې د بهرنیانو په حقوقو او وجایبو باندې بسنه کوو. دا چې په افغانستان کې د مدونو حقوقو دوره چې د ۱۳۰۱ هجري شمسي کال څخه پیل او تر نن ورځې پورې دوام لري، په افغانستان کې مختلف حکومتونه او د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو په مورد متعدد قوانین رامنځته شویدي چې په د هر یو څخه یې په لنډ ډول یادونه کوو.

**لومړی جز ـ د امان الله خان د حکومت پر مهال د بهرنیانو حقوق او وجایب**

د تاریخي له لحاظه په افغانستان کې د قوانینو تدوین درست په هغه وخت کې پیل شو ، چې په ګاونډیو هیوادونو یعنې ایران او ترکیې هیوادونو په قانون باندې د متکي نظامونو د ایجاد او د خپلو هیوادونو د مترقي کولو لپاره سعی او کوشش کولو . امان الله خان هم نوموړیو او نورو هیوادونو ته سفرونه وکړل، نو ویې غوښتل چې هماغه په ایران کې د رضا شاه او په ترکیه کې د مصطفی کمال آتاترک په څیر د قوانینو په تصویب او د مرکزي حکومت په تقویت سره یو مترقي افغانستان رامنځته کړي. بنا پردې په افغانستان کې د لمړي ځل لپاره د قانون

www.ketabton.com په انترنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

جوړونې دوره د ۱۳۰۱ کال په اوایلو کې پیل شوه، په افغانستان کې لومړنۍ اساسي قانون د امان الله خان د حکومت پر مهال د افغانستان د عالیه دولت د اساسي نظامنامې په نوم سره د ۱۳۰۱کال د حوت میاشتې په ۱۰ نیټه وضع او نافذ شو، چې پدې نظامنامه کې عمدتاً (۲، ۱۱، ۱۴ او ۱۵) مواد د بهرنیانو په حقوقو او وجایبو پورې تړاو لري، لکه څه ډول چې په دوهمه ماده کې د نورو ادیانو د پیروانو د آزادۍ په مورد دا ډول لیکلي دي ((د افغانستان دین د اسلام مقدس دین دی او رسمي او عمومي مذهب یې پاک حنفی مذهب دی. د نورو ادیانو اهل، غیر له اسلامه په افغانستان کې شته لکه هندوان او یهودیان تر ساتنې لاندې نیول کیږي، په شرط د ورکولو د جزیه او لرلو د ممیزه نښې که آرامی او لازمي احتراماتو ته د افغانستان خلل وارد نکړي)) د نظامنامې ۱۱ ماده داخلي او خارجي مطبوعاتو ته ځانګړي شویده، چې د هغې په اساس دولت د خارجي مطبوعاتو په مورد یو سلسله محدودیتونه وضع کولای شول لکه چې ۱۱ ماده پدې مورد دا ډول صراحت لري ((چاپي پاڼې او اخبارونه د افغانستان دننه له خپلې نظامنامې سره سم ازاد دي. د اخبارونو نشر یواځې د حکومت او د افغاني اتباعو د حقوقو څخه دي. د خارجي چاپي پاڼو په باب د افغانستان حکومت ځیني قیدونه او شرطونه ایښودلای شي)) همدارنګه ۱۴ او ۱۵ مادې د خصوصي مکتبونو د ایجاد او د بهرنیانو د تدریس په مورد دا ډول صراحت درلود: کار د تدریس او سبق ورکولو، بالکل آزاد او خلاص دی، چې د عمومي معارف له نصاب سره سم هر یو له افغاني اتباعو څخه په عمومي او خصوصي ډول درس ویلای شي. مګر بهرني وګړي د افغانستان په داخل کې د مکتب د خلاصولو اجازه نلري، غیر له هغه ځینو چې د تعلیم نوکران شوي وي(۱۴ ماده). او ټول مکتبونه د افغانستان حکومت تر نظارت او تفتیش لاندې دي، حکومت د افغانستان  ملت د ټولو اوسیدونکو او قومونو لپاره د یو شان او مساوي علمي تربیت لپاره په ټولو سببونو او تدبیرونو غور او کوشش کوي. مګر هغه تعلیمي قاعدې ته هیڅ خلل نه واردوي، چې په اعتقادي، اهل ذمه او امان غوښتونکو په چارو پورې مربوط وي(۱۵ ماده)

د یادونې وړ ده چې پدې دوره کې د پورته ذکر شوي نظامنامې څخه علاوه یو بل قانون د مهاجرینو د نظامنامې په نوم  د ۱۳۰۵کال د عقرب میاشتې په ۱۳ نیټه نافذ شو ، چې دهغې د ۲ مادې مطابق مهاجرین په دریو برخو ویشل شوي وو، لمړۍ

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

طبقه هغه کسان وو چې د خپل متبوع دولت په اجازه د افغانستان خاورې ته داخل او افغاني تابعیت یې کسب کړی وي، دوهمه طبقه هغه کسان وو چې د سوداګرۍ او تجارت په مقصد یې افغانستان ته مهاجرت کړی وو او د افغانستان تابعیت یې ترلاسه کړی وو او دریمه طبقه هغه کسان وو چې د تجارت په مقصد افغانستان ته راغلي وو خو د افغانستان تابعیت یې نه وو تر لاسه کړی. د دې دریو واړو طبقو تر منځ عمده توپیر دا وو، چې لمړنۍ دوه ذکر شوي طبقي اشخاص د تابعیت د کسب کولو څخه وروسته د افغانستان د اتباعو د ټولو حقوقو څخه برخمن کیدل او د دریمې طبقې اشخاصو سره یې د نړیوالو حقوقو د اصولو مطابق چلند کیدو ( د مهاجرینو د نظامنامې د ۲، ۳، ۴ او ۶ مادو څخه په استفاده)

د امان الله خان په وخت کې مهاجرین د مهاجرینو د نظامنامې په اساس د ځینو حقوقو څخه برخمن وو، چې دا حقوق عبارت وو له : د مذهبي مراسمو اجرا، د سوداګرۍ حق، د مسکن د لرلو حق، د طب داکتر ته مراجعې حق، د مشورې لپاره د غونډو حق په مهاجرینو پورې د مربوطو مسایلو حل کول او حاکم ته دهغې تقدیمول، د عسکري خدمت څخه معافیت او د مهاجرت څخه وروسته د شپږو کالونو لپاره د مالیاتو ورکړه.(۱۴-۱۰۳)

**دوهم جز - د نادرخان د حکومت پر مهال د بهرنیانو حقوق او وجایب**

د ۱۳۰۹ کال د عقرب میاشتې په ۸ نیټه د نادر خان حکومت له لورې د ۱۳۰۱ اساسي نظامنامه په ملغی کیدو او د افغانستان اساسي اصولو په وضع او انفاذ سره د بهرنیانو حقوقو او وجایبو هم انکشاف وکړاو د هغوی د وضعیت د بهبود لپاره درې عمده اصولنامې وضع او نافذې شوي. د ۱۳۳۰ کال د جدي په میاشت کې په افغانستان کې د بهرنیو وګړو د اقامت او مسافرت اصولنامه او دهغې ضمایم، د ۱۳۳۳ کال د زمرې د میاشتې په ۵ نیټه د خارجي سرمایه ګذارۍ اصولنامه او د خارجي اتباعو د استخدام اصولنامه او د هغې ضمایم چې لمړۍ یې په افغانستان کې د بهرنیو اشخاصو په اقامت او مسافرت، دوهمه ضمیمه یې په افغانستان کې د بهرنیو حقیقي او حکمي اشخاصو د پانګونې او دریمه ضمیمه یې په افغانستان کې د بهرنیو حقیقي اشخاصو د استخدام په مورد وضع او نافذ شول .(۱۸: ۱۰۳)

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

د ۱۳۰۹ کال د افغانستان اساسي اصولو ( ۱، ۲۳، ۴۸ ، ۱۰۸ او د ۲ اصل لمړۍ نمبر ضمیمه) مواد(اصول) د بهرنیانو په حقوقو او وجایبو پورې ارتباط درلود. لکه څه ډول چې لمړۍ اصل یې د نورو ادیانو پیروان چې په افغانستان کې اقامت ولري اجازه ورکوي، چې خپل دیني مراسم د خپلو اصولو او دستورونو مطابق ترسره کړي یعني دین د افغانستان پاک دین د اسلام او رسمي او عمومي مذهب یې پاک حنفی دی، باید چې د افغانستان پادشاه په همدې مذهب وي، اهل د نورو دینو چې غیر له اسلامه په افغانستان کې شته دي لکه هندوان او یهودیان که چیرې عمومي آرامی او لازمي احتراماتو ته خلل او ویجاړ ونه رسوي هم تر ساتنې لاندې نیول کیږي(**۱اصل**) په همدې ترتیب سره ۲۱ او ۲۸ مادې هماغه د نظامنامې پشان د بهرنیانو له لورې تدریس او د مطبوعاتو د نشر موضوع ته ځانګړي شویدي او خارجیان ته یې د یو سلسله شرایطو لاندې د مکتبونو د لرلو او تدریس د کولو اجازه ورکړل شوي وه . ۱۰۸ مادې په اساس په مسلحو ځواکونو کې خارجي اتباع د خدمت ترسره کولو څخه محروم شوي وو، البته پدې مورد د معلمۍ او داکترۍ دندې د ترسره کولو استثنا پدې ماده کې دا ډول بیان شویده ((د خارجه رعیتو په قطار د لښکر کښې بیله صنف حربي داکتري او معملي نه قبلیږي))

بنا پردې لکه څه ډول چې لیدل کیږي د ۱۳۰۹ کال اساسي اصولو له مخې په هماغه وخت کې د بهرنیانو لپاره یو سلسله حقوقو او آزادیګانې په رسمیت پیژندلې وې، چې د هغې په موجب بهرنیانو کولای شول چې د دې حقوقو څخه د هیواد د نافذه قوانینو په حدودو کې استفاده وکړي.(۱۸- ۱۶۳)

**دریم جز - د ظاهر شاه د حکومت پر مهال د بهرنیانو حقوق او وجایب**

د ظاهر شاه د حکومت په اخرو کالونو کې د ۱۳۰۹ کال اساسي اصول لغوه او د هغې په عوض په ۱۳۴۳ کال د میزان میاشتې په ۹ نیټه د افغانستان دریم اساسي قانون وضع او نافذ شو، چې د هغې ( ۲، ۲۹ ، ۳۴ او ۳۸) مادې په افغانستان کې د بهرنیانو حقوقو او وجایبو ته ځانګړي شوي وې. په ۲ ماده کې یې د نورو دینونو د پیروانو د مذهبي مراسمو آزادي تضمین شویده ((د افغانستان دین د اسلام سپیڅلی دین دی. دیني شعایر د دولت له خوا د حنفی مذهب د حکمونو سره سم

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

پرځای کیږي. د ملت هغه کسان چې مسلمانان نه دي په هغو حدودو کې دننه چې چال چلند او عامې هوسایني په باب قوانین یې ښیئ آزاد دي، چې خپل مذهبي مراسم په ځای کړي)). او د (۲)۲۹ له مخې بهرنیان په افغانستان کې د عقاري ملکیتونو د درلودلو څخه محروم شوي وو ((...... باندیني دولتونه او اتباع په افغانستان کې د عقاري مالونو د ملکیت حق نلري. د بهرنو ملکونو په سیاسي نمایندګیو باندې د بالمثل چال چلند په اساس او په هغو بین المللي موسسو باندې چې افغانستان پکې غړیتوب لري د حکومت په خوښه عقاري مالونه پلورل کیدای شي)). په ۳۴ ماده کې خارجي اتباعو ته د خصوصي مکتبونو د تاسیس اجازه ورکړل شوي وه، چې د هغې په موجب یواځې بهرنیانو د هغې څخه د استفادي حق درلود ((تعلیم د افغانستان د ټولو وګړو حق دی او د افغانستان د دولت او اتباعو له خوا وړیا برابریږي. پدې برخه کې د دولت هدف یوې داسې مرحلې ته رسیدل دي، چې د افغانستان د ټولو وګړو دپاره پکښې د قانون د حکمونو دسره سم د ښونې او روزنې مناسبې آسانتیاوې راغونډې شي. دولت مکلف دی چې په ټول افغانستان کې د پوهنې د متوازن تعمیم لپاره موثر پروګرام وضع او تطبیق کړي. د ښوونې او روزنې لارښودنه او څارنه د دولت وظیفه ده. لومړنۍ ښودنې د ټولو ماشومانو دپاره په هغو ځایونو کې چې وسیلې یې د دولت له خوا برابرې شوي وي حتمي دي. د لوړ او عمومي تعلیم د موسسو جوړول او چلول یوازې د دولت حق او وظیفه ده. د دې نه ور اخوا د افغانستان اتباع حق لري چې اختصاصي یا د لیک لوست د ښودو دپاره ښونځي جوړ کړي. د داسې ښونځیو د جوړونې شرطونه، تعلیمي نصاب او پکښې د زده کړې شرایط د قانون له پلوه ښودل کیږي. حکومت کولی شي چې د قانون د حکمونو سره سم خارجي کسانو ته د خصوصي ښوونځیو د جوړولو اجازه ورکړي. د داسې ښوونځیو نه یواځې خارجي کسان فایده اخستی شي)). د ۳۸ مادې په اساس د بهرنیانو له لورې د مالیاتو ورکړه د هغوی د وجایبو څخه ګڼل شوي وه ((هر افغان مکلف دی چې دولت ته مالیه او محصول ورکړي. هیڅ قسم مالیه او محصول بې د قانون له حکمه نه شي تړل کیدی. د مالیې او محصول اندازه او د ورکولو لارې چارې یې د اجتماعي عدالت سره سم د قانون له خوا ښودل کیږي. دا حکم په خارجي اشخاصو باندې هم چلیږي)). او د ۳۱ مادې په اساس بهرنیانو په افغانستان کې د مطبعو د تاسیس حق نه درلود. لکه څه ډول چې لیدل کیږي د ۱۳۴۳ کال اساسي قانون د نظامنامې او اساسي اصولو په نسبت

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

ډیموکراتیک وو، خو د دوی په نسبت یې کم مواد د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو لپاره ځانګړي کړي وو.(۱۷- ۳۵) خو دا نقطه د یادولو وړ ده، چې د ظاهر شاه د حکومت پر مهال د دې اساسي قانون تر څنګ یو سلسله نور قوانین هم د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو په برخه کې وضع او نافذ شول لکه په افغانستان کې د خارجي اتباعو د اقامت او مسافرت اصولنامه تعدیل او د هغې تعدیل د ۵/۴/۱۳۴۴ نیټې او په ۲۹ نمبر رسمي جریده کې نشر شول، پردې برسیره په افغانستان کې د سوداګر د جوازنامې او د خصوصي موسساتو مقررات وضع او د ۲۹/۸/۱۳۴۴ نیټې په ۴۰ نمبر رسمي جریده کې خپاره شول. همدارنګه د داخلي او خارجي سرمایه ګذاری اصولنامه هم د ۱/۱۲/۱۳۴۵ نیټې په ۷۲ نمبر رسمي جریده کې د داخلي او خارجي سرمایه ګذاری په قانون باندې تبدیل شو.(۱۸: ۱۰۴)

**څلورم جز - د داؤد خان د حکومت پر مهال د بهرنیانو حقوق او وجایب**

د داودخان د حکومت پر مهال د بهرنیانو په حقوقي وضعیت کې عمیق تحول رامنځته شو، پدې دوره کې د ۱۳۴۳ کال اساسي قانون چې د ظاهر شاه د حکومت پر مهال وضع او نافذ شوی وو لغوه او په غوض یې د افغانستان څلورم اساسي قانون د ۱۳۵۵ کال د حوت میاشتې په ۵ نیټه د افغانستان جموریت اساسي قانون په نوم وضع او نافذ شو، چې (۲۲ ، ۳۸ او ۴۴) مادې یې د خارجیانو په حقوقو او وجایبو پورې مربوط وې. د ۲۲ مادې په اساس یې د نورو ادیانو پیروانو ته د مذهبي مراسمو د اجرا آزادي ورکړل شوي وه ((د افغانستان دین د اسلام مقدس دین دی. د ملت هغه کسان چه نه مسلمانان نه دي په هغو حدودو کې دننه چه د آدابو او عامې هوساینې په هکله یې قوانین ټاکلی آزاد دي چې خپل مذهبي مراسم په ځای کړي)) د ۳۸ مادې په اساس یې بهرنیان د مطبوعاتو د نشر او د مطبعو د تاسیس څخه محروم کړي وو ((د فکر او بیان آزادی د بلوسی نه په امن ده. هر افغان حق لري چه د قانون د حکمونو سره سم په وینا، لیکنه، تصویر او یا داسې نورو وسیلو سره خپل فکر څرګند کړي. د چاپخانو د تاسیس او د مطبوعاتو د خپرولو اجازه او امتیاز د قانون د حکمونو سره سم یوازې د افغانستان اتباعو ته ورکول کیږي......)) او د ۴۴ مادې له مخې مالیات د بهرنیانو د وجایبو څخه ګڼل کیدل ((هر افغان مکلف دی چه دولت ته مالیه او محصول ورکړي. هیڅ راز مالیه او محصول بې د قانون له حکمه نشي ټرل کیدای. مالیې او محصول اندازه او د

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

هغو د ورکولو لارې چارې يې د اجتماعي عدالت سره سم د قانون له خوا ښودلی کیږي. دا حکم په خارجي اشخاصو باندې هم چلیږي))

څه ډول چې لیدل کیږي د ۱۳۵۵ کال اساسي قانون د بهرنیانو د حقوقو څخه په مفصل ډول ذکر نه دی کړی او یواځې څو کلي موارد کولای شو ترې استخراج کړو، چې بهرنیان د هغې څخه محروم دي. بنا پردې د ۱۳۵۵ کال اساسي قانون نسبت پخوانیو قوانینو ته د بهرنیانو حقوقو او وجایبو ته کمه توجه کړې وه.(۵۵: ۳۶)
د یادونې وړده، چې پدې دوره کې د افغانستان لومړنی مدني قانون په څلورو جلدونو او ۲۴۱۶ مادو کې وضع او نافذ شو، چې په خصوصي مسایلو برسیره د اقامتګاه او د قوانینو د تعارض په مورد د معینو احکامو لرونکی دی او تر اوسه پورې نافذ دی، چې په دوهم فصل کې به ورڅخه په مفصل ډول یادونه وشي.

**پنځم جز - د دیموکراتیک ګوند د حکومت پر مهال د بهرنیانو حقوق او وجایب**

پدې دوره کې د ۱۳۵۵ کال اساسي قانون لغوه او په عوض یې د افغانستان پنځم اساسي قانون د ۲۵/۱/۱۳۵۹ نیټه د ببرک کارمل د حکومت پر مهال د افغانستان جموریت دیموکراتیکو اصولو په نوم سره وضع او نافذ شو .چې په ۲۹ ماده کې یې د نورو ادیانو د مذهبي مراسمو د اجرا آزادي تضمین شوي وه ، چې وروسته دغه اساسي قانون په ۹/۹/۱۳۶۶ نیټه د داکتر نجیب الله د حکومت پر مهال ملغی او په عوض یې د افغانستان شپږم اساسي قانون د افغانستان جمهوریت اساسي قانون تر عنوان لاندې د ۱۳۶۶ کال د لوئې جرګې له لورې تصویب او نافذ شو.

د دغه اساسي قانون په ۲۷ ماده کې د لمړي ځل لپاره د خارجي پانګونې څخه یادونه وشوه او بهرنیو پانګوالو ته اجازه ورکړل شوي وه، چې په افغانستان کې سرمایه ګذاري وکړي ((دولت د ملي اقتصاد د ودې په مقصد د افغانستان په جمهوریت کې بهرنی پانګې اچونې ته اجازه ورکوي او د قانون سره سم یې تنظیموي)) پدې اساسي قانون کې د ۱۳۵۹ کال د دیموکراتیکو اصولو برعکس بهرنیو اتباعو ته د مکتبونو د تاسیس حق ورکړل شوی وو، چې په هغه کې یواځې بهرنیانو کولای شول چې درس ووایې، لکه چې پدې مورد د نوموړی قانون ۵۶ ماده دا ډول صراحت لري ((د افغانستان د جمهوریت اتباع د وړیا زده کړې حق لري. دولت د بیسوادی له منځه وړلو، په مورنی ژبې د زده کړې، د متوازنې

په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون www.ketabton.com

ښووني او روزنې د تعمیم، د اجباري لومړنیو زده کړو تامین، د تخنیکي، حرفوي او مسلکي عمومي زده کړو د تدریجي پراختیا او د ملي کادرونو د روزنې دپاره د لوړو زده کړو د سیستم د ودې په مقصد لازم تدبیرونه نیسي. د افغانستان په جمهوریت کې بهرنیو اشخاصو ته د ښوونځیو د جوړولو اجازه د قانون سره سمه ورکول کیدای شي، له دغو ښوونځیو څخه یوازې بهرنی اشخاص استفاده کولای شي)). او د ۱۳۶۶ کال اساسي قانون یوه بله ځانګړنه په افغانستان کې د بهرنیو اتباعو او بې تابعیته اشخاصو حقوق وو، لکه چې پدې مورد د دغه قانون ۳۷ ماده دا ډول صراحت لري ((د افغانستان جمهوریت په هیواد کې د میشتو بهرنیو اتباعو او بې تابعیته اشخاصو حقوق او آزادی د قانون سره سم تضمینوي. هغوی مکلف دي چې د افغانستان جمهوریت اساسي قانون او قوانین رعایت کړي)).

چې وروسته د ۱۳۶۶کال اساسي قانون هم د وخت د شرایطو او تغیراتو په اساس د داکتر نجیب الله د حکومت پر مهال د ۱۳۶۹ کال د جوزا میاشتې په ۸ نیټه د افغانستان اسلامي جمهوریت اساسي قانون په نوم تعدیل شو، چې دا قانون په مراتبو سره د ۱۳۶۶ کال د اساسي قانون څخه دیموکراتیک وو. د دې قانون په لومړۍ ماده کې د لومړي ځل لپاره د افغانستان د مدونو حقوقو په دوره کې د اسلامي دولت د کلیمې څخه یادونه شوي وه، یعنی لومړۍ ماده یې پدې مورد دا ډول صراحت درلود((د افغانستان جمهوریت خپلواک، واحد او نه تجزیه کیدونکی او اسلامي دولت دی او پر خپل ټول قلمرو باندې د حاکمیت لرونکی دی........)) همدارنګه د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو په مورد یې هم مواد ځانګړي کړي وو.

د ۲۰ مادې له مخې د لمړي ځل لپاره بهرینانو ته د بانکونو او د بیمې د موسسو د ایجاد حق ورکړل شوی وو لکه ۲۰ ماده پدې مورد داډول صراحت لري ((........د افغانستان په جمهوریت کې د بهرنیو بانکونو او د بیمې د موسساتو د نماینده ګیو فعالیت د قانون سره سم مجاز دي)). او د ۲۷ مادې له مخې د خارجي سرمایه ګذاری تشویق او رشد څخه دا ډول حمایت کوي ((دولت د ملی اقتصاد د ودې په مقصد د افغانستان په جمهوریت کې د قانون سره سم بهرنی پانګه اچونه هڅوي)). او د ۲۸ مادې په اساس د نورو قوانینو په شان بهرني اتباع په افغانستان کې د عقاري ملکیتونو د لرلو د حق څخه محروموي ((د افغانستان په جمهوریت کې

بهرني اشخاص د عقاری ملکیت حق نه لري. پر سیاسي نماینده ګیو او بهرنیو دولتونو باندې د عقار پلورل د بالمثل چلند پر اساس او پر هغو بین المللی موسسو باندې چې د افغانستان جمهوریت د هغو غړی وي، د حکومت له موافقې وروسته مجاز دی)). او ۳۷ ماده د بهرنیانو حقوقو او ازادیو ته ځانګړي شویده ((د افغانستان جمهوریت په هیواد کې د میشتو بهرنیو اتباعو او بې تابعیته اشخاصو حقوق او آزادی د قانون سره سم تضمینوي. هغوی مکلف دي چې د افغانستان د جمهوریت اساسي قانون او قوانین رعایت کړي)). همدرانګه ۵۶ او ۶۲ مادې یې په ترتیب سره د خصوصي سکتور له لورې د تعلیمي او تحصیلي موسساتو د ایجاد حق او د بهرنیو اتباعو له لورې د مالیاتو د ورکړې مکلفیت او وجیبې ته ځانګړي شویدي، چې نوموړي مادې پدې مورد دا ډول صراحت لري. د افغانستان د جمهوریت اتباع په وړیا توګه د زده کړې حق لري. دولت د بیسوادی له منځه وړلو، د متوازنې ښوونې او روزنې د تعمیم، په مورنۍ ژبه د زده کړې، د اجباري لومړنیو زده کړو د تامین، د تخنیکي، حرفوي او مسلکي عمومي زده کړو د تدریجي پراختیا او د ملي کادرونو د روزنې دپاره د لوړو زده کړو د سیستم د ودې په مقصد لازم تدبیرونه نیسي. د افغانستان په جمهوریت کې د خصوصي سکتور او بهرنیو اشخاصو له خوا د تعلیمي او تحصیلي موسسو جوړول د قانون سره مجاز دي(۵۶ ماده) او د افغانستان جمهوریت اتباع او بهرني وګړي مکلف دي چې دولت ته د قانون سره سم مالیه او محصول ورکړي(۶۲ ماده).

**شپږم جز - د مجاهدینو د حکومت پر مهال د بهرنیانو حقوق او وجایب**

د مجاهدینو د حکومت پر مهال د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو په ساحه کې د قوانینو تدوین او ایجاد د رکود سره مخامخ شو. پدې دوره کې یواځې د داخلي او خارجي سرمایه ګذاری د قانون په رابطه د دولت د ریس له لورې د ۱۰/۲/۱۳۷۴ نیټې د ۲۶ نمبر فرمان په ۱۶/۲/۱۳۷۴ نیټه په ۷۷۴ نمبر رسمي جریده کې نشر او نافذ شویدی.

**اووم جز - د طالبانو د حکومت پر مهال د بهرنیانو حقوق او وجایب**

د طالبانو د حکومت پر مهال د پخوانیو دورو اکثرا قوانین لغوه شول ، د خارجي اتباعو د اقامت او مسافرت قانون چې د ۱۵/۴/۱۳۶۲ نیټې د ۶۳۳ نمبر رسمي

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

جریده کې نشر او نافذ شوی وو لغوه او په عوض یې په افغانستان اسلامي امارت کې د بهرنیانو د اقامت او مسافرت قانون په ۲۶/۳/۱۴۲۱ نیټه په ۷۹۲ نمبر رسمي جریده کې خپور او نافذ شو. همدارنګه پدې دوره کې د غایب، مفقود، مرتد او ذمي د شتمنیو او اموالو د ساتنې د ډول مقرره د افغانستان اسلامي امارت د مقام له لورې د ۲۲/۳/۱۴۲۱ نیټې د ۱۹ ګڼه فرمان په اساس د ۸/۲/۱۴۲۲ نیټې په ۷۹۷ نمبر رسمي جریده کې نشر شوه. په همدې ډول د افغانستان اسلامي دولت د داخلي او خارجې پانګونې قانون چې د ۱۶/۲/۱۳۷۴ نیټې په ۷۷۴ نمبر رسمي جریده کې خپور شوی وو لغوه او په عوض یې د افغانستان اسلامي امارت د داخلي او خارجي سرمایه ګذاری قانون وضع او د ۸/۲/۱۴۲۲ نیټې په ۷۹۷ نمبر رسمي جریده کې خپور شو.

## دریم مبحث

## د بهرنیانو ډولونه

پدې مبحث کې به د بهرنیانو ډولونه د اسلام د حقوقي سیستم او د معاصرو حقوقو له نظره په جلا ، جلا ډول د مطالعې لاندې ونیسو .

### لومړی پراګراف - د معاصرو حقوقو له نظره د بهرنیانو ډولونه

په کلي ډول کولای شو بهرنیان په دوه برخو : حقیقي او حکمي بهرنیواشخاصو باندې وویشو(۱۸: ۸۴) چې حقیقي اشخاص په خپل وار سره په مختلفو ډولو ویشل کیږي چې: د کډوالو، پناه اخیستونکو، محصلانو، سوداګرو، خبریالانو، عکاسانو او د مطبوعاتو کارکوونکو، کارګرو او هغه بهرنیانوڅخه عبارت دي، چې د یوه ټاکلي شغل او کار څخه پرته په یوه هیواد کې مقیم وي.

د یادونې وړ ده چې دا هغه بهرنیان دي چې په محل اقامت هیواد کې د دولتي طرف لرونکي نه دي ( د خپل متبوع هیواد د دولتي وظیفې لرونکي نه دي ) د بهرنیانو پدې نوع سربیره یوه ډله نورو افرادو ته هم چې په میزبان دولت کې د دولتي طرف لرونکي وي او د یوه ټاکلي ( متبوع ) هیواد په نماینده ګی په محل اقامت هیواد کې د دولت د رسمي دندو په سرته رسولو مصروف وي چې عمدتاً

سفیران، قونسلان او نورو سیاسي او دیپلوماتیک کارکوونکي په برکې نیسي. (۵۵: ۱۵)

پورته تقسیماتو ته په توجه سره د دوهمې نوعې بهرنیانو(سیاسي کارکوونکو) حقوقي وضعیت د دې تحقیق مورد بحث موضوع نده ( که څه هم د هغې څخه به په مختصره توګه یادونه وشي) بلکې د دې تحقیق د بحث وړ موضوعات د هغه بهرنیانو په حقوقي وضعیت باندې تمرکز کوي چې په محل اقامت هیواد کې د متبوع هیواد په نماینده ګی دنده نه ترسره کوي.

د هغه بهرنیانو د ښه درک او پیژندلو لپاره چې په محل اقامت یا میزبان هیواد کې د متبوع هیواد په نماینده ګی دنده نه ترسره کوي ، لازمه ده چې د هغې انواع او ډولونه وپیژنو تر څو د هغې په ترڅ کې د هغې ترمنځ توپیرونه ولیدلای شو او هم معلومات تر لاسه کړو چې دا نوع بهرنیان د کوم ډول حقوقو څخه برخمن او کوم مکلفیتونه په غاړه لري او بالاخره په میزبان هیواد کې د کومو حقوقي حمایتونو څخه برخمن دی . څه ډول چې مخکې وویل شول ، چې دا ډول بهرنیان عمدتاً په لاندې کتګوریو باندې ویشل کیږي :

**لومړی جز - عادي بهرنیان**

هغه بهرنیان چې په عمومي ډول په هیوادونو کې ژوند کوي او یا دغه هیوادونو ته سفر کوي عادي بهرنیان ګڼل کیږي، د دغه ډول بهرنیانو حقوق او وجایب معمولاً د هیوادنو په داخلي قوانینو کې تصریح شوي وي، عادي بهرنیان په خپل وار سره په دوه برخو ویشل کیږي :

**الف - مقیم بهرنیان**

مقیم بهرنیان هغه اشخاص دي ، چې په موقت یا دایمي ډول په هغه هیواد کې سکونت او هستوګنه ولري چې په هغه ځای کې په کار یا نورو ټولنیزو فعالیتونو باندې بوخت وي . د بهرنیانو د اقامت په مورد که څه هم اصل د بهرني شخص د اقامت په آزادی باندې استوار دی، ولې بیاهم هیوادونه د خپلو سیاسي، اجتماعي، فرهنګي او نورو مصالحو په اساس یو سلسله شرایط وضع کوي. په یوه هیواد کې د اقامت لپاره معمولاً باید د ذیصلاح مقاماتو له لورې ویزه ورکړل شي او په هغه

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

کې د شخص د اقامت محل او موده مشخص شي، په همدې دلیل مقیم بهرنیان د دایمي او موقتي ویزې په درلودلو سره کولای شي په محل اقامت هیواد کې ژوند تیر کړي، بنا پردې بهرنیان د دایمي او موقتي اقامت له نظره په دوه ډوله دي :

**۱ ـ دایمي اقامت**[2]

په عمومي ډول په مختلفو هیوادونو کې هغه بهرني اشخاص چې د اقامت لپاره د شرایطو لرونکي وي د دایمي اقامت ویزه ورکوي ، د یادونې وړه ده چې د دایمي اقامت ویزه په خاصو شرایطو سره بهرنیانو ته ورکول کیږي ، قبلوونکی ( ویزه ورکوونکی) دولت معمولاً د دا ډول افرادو په منلو کې د خپل هیواد مصلحت ګوري ، په عمومي ډول عالمانو ، پوهانو او متخصصینو ته چې کولای شي خپل هیواد ته د خدمت مصدر شي د دایمي اقامت اجازه ورکول کیږي ، چې په متداوم شکل د دایمي اقامت ویزه په هر کال کې یو ځل تمدید کیږي.(۹ : ۱۹۹)

**۲ ـ موقتي اقامت**[3]

موقتي اقامت په هغه مواردو کې رامنځته کیږي، چې یو بهرنی تبع د سیاحت، تسهیلاتو او آرامۍ او یا بل هر موقت امر لپاره هغه هیواد ته راغلي وي او د دایمي اقامت قصد ونلري، البته دا حق هم د خاصو حقوقو په رعایت پورې مشروط دی ، چې په هر هیواد کې د ملي مصالحو په اساس په نظر کې نیول کیږي.(۹ : ۲۰۰)

**دوهم جز ـ کډوال ( مهاجر)**[4]

مهاجر یا کډوال په لغت کې د هجرت کوونکي ، یا هغه شخص په معنی دی، چې د خپل ښار او وطن څخه بل ښار یا وطن ته لاړ شي او هلته سکونت اختیار کړي(۵۲ : ۱۱۳۶) یا هغه څوک چې د دایمي اقامت په منظور د خپل هیواد څخه بل هیواد ته سفر کوي مهاجر بلل کیږي. (۶ : ۲۳۴۱) او په اصطلاح کې کډوال یا مهاجر بهرنیان هغه اشخاص دي ، چې په داوطلبانه ډول خپل هیواد په بل ځای کې د اقامت په منظور ترک کوي .(۱۸ : ۸۷) او یا کډوال هغه اشخاصو ته ویل کیږي، د سیاسي،

---

[2] *Permanent residence*

[3] *Temporary residence*

[4] *Immigrant*

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

نژادي، مذهبي او نورو ملاحظاتو له جهته يې خپل هيواد ترک او په بل هيواد کې، چې د هغې د اقامت اجازه يې ترلاسه کړي وي مهاجرت کوي او قصد ولري، چې د يوې اوږدې مودې لپاره په هغه هيواد کې اقامت وکړي .(۳ : ۱۷۷)

همدارنګه په ۱۹۵۲ميلادي کال د ملګرو ملتونو عمومي غونډې د بشرحقوقو د هيت [5] راپور له اوريدلو څخه وروسته د کډوالو يا مهاجرو د حقوقو څخه د ملاتړ لپاره يو پريکړه ليک صادرکړ، چې د دې سند په اساس مهاجر يا کډوال داسې تعريف شويدی (( د کډوال يا مهاجر اصطلاح په هغه شخص اطلاق کيږي ، چې خپل پلارنی ټاټوبی يا هيواد يې د اقتصادي شرايطو د نشتوالي او محدودوالي او د ټولنيزو شرايطو د نشتوالي له امله پريښی وي او په نورو هيوادونو کې د اقتصادي شرايطو د ښه والي لپاره د خپلې کورنۍ سره يو ځای او يا په ځانګړي توګه استوګن کيږي(۱۳: ۱۴) که چيرې دا ډول اشخاص صرف د اقتصادي عواملو له امله تغير مکان وکړي او بل هيواد ته لاړ شي اقتصادي مهاجرګڼل کيږي.(۱۸: ۸۷)

## مهاجرت ډولونه

### الف ـ فردي مهاجرت[6]

چې اشخاص پخپل مسوليت له هر ډول حمايت او فشار څخه پرته د يوه هيواد څخه بل هيواد ته مهاجرت وکړي .

### ب ـ ټوليز مهاجرت [7]

په پخوا وختونو کې به هغه وخت چې په کوم هيواد کې به جنګ شتون درلود او يا به مستبدو حکومتونو خلک تکليف او ازارول، نو د هغې سيمې خلکو به په جمعي يا ټوليز ډول د خپل متبوع هيواد څخه هغه هيوادونو ته چې هغه به د دوی لپاره امن وو مهاجرت کولو .

---

[5] *NHRI(National Human Right Institution)*

[6] *Individual Immigration*

[7] *Group Immigration*

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

**ج - اجباري مهاجرت [8]**

هغه مهاجرت ته ویل کیږي ، چې شخص د قهري او اجباري عواملو په اساس لکه د قانوني تعقیب، طبیعي حوادثو( زلزله ، سیلاب ) او شدید فقر څخه فرار کوي .

**د- اختیاري مهاجرت**

د مهاجرت هغه ډول ته ویل کیږي ، چې شخص په خپله خوښه د اقتصادي مشکلاتو څخه د خلاصون لپاره بل هیواد ته مهاجرت کوي ،پرته لدې چې هغه د مهاجرت لپاره مجبور کړای شوی وي .

**ه - قانوني مهاجرت [9]**

قانوني مهاجرت هغه مهاجرت ته ویل کیږي ، چې په مهاجرمنوونکي هیواد کې د مهاجرینو ورود ، اقامت او استخدام په دایمي یا دوره یې ډول صورت مومي ، چې دا ډول مهاجرت ممکن په درې ډوله وي

۱- د پانګې اچونې ( سرمایه ګذاری) له امله قانوني مهاجرت .

۲- د متخصصینو دایمي مهاجرت .

۳- او د فامیل له طریقه قانوني مهاجرت.

و – نا منظم (غیر منظم ) مهاجرت

هغه مهاجرت ته ویل کیږي، چې شخص په قانوني ډول میزبان هیواد ته داخلیږي، خو د دایمي اقامت اجازه ونلري او په محل اقامت هیواد کې د مجاز حد څخه زیات اقامت وکړي. (۲: ۱۹۴،۱۹۵)

هیوادونه اساساً د نفوس (جمعیت) او جغرافیوي وضع په نسبت په دوه ډلو مهاجر لیږوونکي او مهاجرمنوونکي باندې ویشل کیږي ، مهاجر منوونکي هیوادونه هغه هیوادونه دي چې د پراخ قلمرو لرونکي وي او دهغې نفوس د خاورې د وسعت او

---

[8] *Enforced Immigration*

[9] *Legal Immigration*

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

پراخوالي په تناسب سره کافي نه وي او له همدې رويه د نورو هيوادونو څخه د افرادو جذب ته احتياج وي . لکه کاناډا ، امريکا ، استرليا او ځيني نور د جنوبي امريکا هيوادونه ، فلهذا دا ډول هيوادونه خپل قلمرو ته د ورود لپاره نسبتاً اسان شرايط وضع کوي ، چې خلک د هغې شرايطو په ترلاسه کولو ( پوره کولو) سره کولای شي دغه هيوادونو ته مهاجرت وکړي . اما دا احتمال هم شتون لري چې وروسته له يوې مودې څخه د مهاجرينو د قبول په مورد زيات محدوديتونه وضع کړي . مثلاً متحده ايالات که څه هم تر اوسه پورې يو مهاجرمنوونکی هيواد ګڼل کيږي ، په اوس وخت کې د مهاجرينو د منلو په مورد سخت قواعد او مقررات اعمالوي .

دوهمه ډله هيوادونه مهاجر ليږوونکي هيوادونه دي ، چې د لمړۍ ډلې هيوادونو برعکس د زيات نفوس او کوچني قلمرو لرونکي وي ، يعنی د هغې نفوس د قلمرو او خاورې په نسبت سره په دومره اندازه زيات وي ، چې کله چيرې ټول وغواړي چې په هماغه مملکت کې ژوند وکړي او په کار مشغول شي د هغوی لپاره د کار کافي زمينه نه ده مساعده او په نتيجه کې اقتصادي رکود ايجاد او رامنځته کيږي.

او يا دا چې د امنيتي او سياسي ملاحظاتو په اساس د خپل هيواد په ترک کولو باندې مجبوريږي ، فلهذا د دې ډول ممالکو زيات شمير اتباع لکه لبنان،افغانستان، ايران،سويس او پاکستان د خپل هيواد څخه خارج او نورو هيوادونو ته مهاجرت کوي ، چې په نتيجه کې د قلمرو په نسبت د نفوس او کار يو ډول تعادل منځته راځي ، نو پدې اساس ويلی شو چې مهاجرت پرته لدې چې هيواد مهاجر ليږوونکی دی که مهاجر منوونکی د نفوس د مکاني يا جغرافيوي تحرک يو شکل دی چې د دوو جغرافيوي واحدونو تر منځ ترسره کيږي ، او دغه تحرک بايد د فرد د معمولي اقامت د مبدا يا د مهاجرت څخه د مخکې اقامت د محل تغير او د نوي اقامت محل په مقصد صورت ومومي .

زمونږ په هيواد کې د مهاجرت په مورد د لمړي ځل لپاره په ۱۳۰۲ ه.ش کال يوه نظامنامه د مهاجرت د نظامنامې په نوم سره وضع شوه ، چې د نورو هيوادونو د مهاجرينو لپاره يې په افغانستان کې د اقامت، ژوند او يو سلسله نور حقوق او امتيازات پيش بيني کړي وو . ( ۵۵ : ۱۷،۱۸)

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

همدارنګه د ملګرو ملتونو عمومي غونډې د ۱۸/۱۲/۱۹۹۰ نیټې کنوانسیون د مهاجرو کارګرانو او د هغوی د کورنیو له حقوقو څخه د حمایت او دفاع مسله منلي ده ، چې همدا اوس د خپلواکو کارپوهانو یوه کمیټه د هغې د رعایت او اجرا څارنه کوي .(۱۳: ۱۴)

## دریم جز – پناه اخیستونکی[10]

پناه اخسیتونکی پر هغه انسان باندې اطلاق کیږي چې ، د متبوع دولت د ملاتړ څخه د نه برخمن کیدو په دلیل یې امنیت د خطر سره مخامخ کیږي او د خپل ژوند د دوام لپاره نړیوال ملاتړ ته اړتیا لري.(۹ – ۱۹) یا په هغه افرادو باندې اطلاق کیږي چې د سیاسي ، نژادي ، فرهنګي ، مذهبي او اجتماعي دلایلو له امله په خپل هیواد د حاکم نظام تحمل ونلري او د خپل ځان ، کورنۍ او مال د ترس او ویرې له امله بل هیواد ته پناه وړي.(۳ : ۱۷۷)

که څه هم ځینې وختونه د پناه اخیستونکي لپاره د کډوال او مهاجر کلیمه استعمالیږي، خو دا دواړه کلیمې خپل مورد استعمال لري، یعنې کډوال یا مهاجر هغه څوک دی چې، اقتصادي شرایط او ځینې ځانګړي او ټولنیز معذرتونه، د کورنۍ د مادي او معنوي ودې لپاره د لازمو شرایطو نشتوالی، د کارځایونو کمښت، د زده کړې د شرایطو نشتوالی، د ژوند چاپیریال ککړتیا او له ټولنیزو اخلاقو سره د موافقت نشتوالی یې په اصلي هیواد کې د استوګنې لپاره د قناعت وړ نه وي، چې په نتیجه کې د ژوند او استوګنې ښو شرایطو ته مخه کوي. پداسې حال کې چې پناه اخستونکي پخپله خوښه او غوښتنه نه، بلکې د ټولنیزو، سیاسي او پوځي حالاتو له امله پرې دغه شرایط په زور او جبر سره تحمیل شوي وي، نو په همدې اساس په پخپله ټولنه کې تر سیاسي او ایډیالوژیک څار لاندې وي او د هغه څخه د ژغورنې یوائینۍ لار له خپل پلارنې ټاټوبي څخه فزیکي بهر کیدل ګڼې چې ، عقلاً او فکراً له هغه څخه بیګانه نه وي.(۱۳ : ۱۶)

---

[10] *Refugee*

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

نن ورځ د پناه اخیستونکي اصطلاح پر هغه چا باندې اطلاق کیږي، چې له خپل هیواد څخه بهر د ډار، تعقیب، تاوتریخوالي، بهرنـي تیري او یا هر هغه حالت په دلیل چې عمومي نظم ګډوډوي او نړیوالې مداخلې او ملاتړ ته اړتیا لري.(۱۳: ۱۹)

د پناه اخستونکو د حقوقي وضعیت په مورد د ملګرو ملتونو سازمان په ۱۹۵۱ کال کې د پناه اخیستونکو په وضعیت پورې مربوط کنوانسیون تصویب کړی ، چې افغانستان هم دغه کنوانسیون امضا او تصویب کړیدی.[11]

د ملګرو ملتونو سازمان د تاسیس څخه وروسته د پناه اخستونکو څخه د دغه سازمان حمایت د نوموړي سازمان لمړنۍ اقدام وو (د پناه اخستونکو بین المللي سازمان د عمومي ټولنې د ۱۹۴۶-۱۲-۱۵ نیټې پریکړه لیک) دغه سازمان د ۱۹۴۶ کال څخه تر ۱۹۵۰ کال پورې موفق شو چې ۷۰۰۰۰ زره دواطلب پناه اخیستونکي خپلو هیوادونو ته بیرته راولي . په ۱۹۵۰ کال کې د پناه اخیستونکو نړیوال سازمان خپل ځای د پناه اخیستونکو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمیساری[12] ته پریښود ، د پناه اخستونکو د حمایت مقررات د بشر حقوقو نړیوالې اعلامیې په ۱۴ ماده کې هم ذکر شوي دي ، د پناه اخستونکو د حقوقو په مورد د ملګروملتونو مهمترین اقدام د پناه اخیستونکو په وضعیت پورې د ۱۹۵۰-۶-۲۹ نیټې د مربوطې معاهدې او د ۱۹۶۷-۱-۳۱ نیټې د هغې اختیاري پروتوکول تصویب کول دي .

سربیره پردې د ملګرو ملتونو سازمان عمومي ټولنې په ۱۹۶۷-۱۲-۱۴ نیټه باندې یوه اعلامیه تصویب کړه، چې د دغه عهدنامې او پروتوکول مطابق غړي هیوادونه متعهد او ژمن شول ، چې د پناه وړونکو په نسبت به د تبعیض پرته د ملي رفتار معمول کوي ، یعنې د میزبان دولت د اتباعو پشان به د دوی سره هم د مذهبي آزادۍ، محکمو ته د مراجعې، ابتدایي تعلیماتو ، د کار قوانینو او نورو برخو کې یو شان او مساوي رفتار کوي . غړي هیوادونه د پناه اخیستونکو لپاره ځانګړي کارتونه صادروي او یو د بل په مقابل کې هغه د مسافر په عنوان وګڼي، د پناه اخیستونکو عالي کمیساري د دغه عهدنامې او پروتوکول د اجرا او مراقبت ماموریت په غاړه لري، پدې اخرو کالونو کې د پناه اخیستونکو او د پناه

[11] افغانستان نوموړی کنوانسیون د ۲۰۰۵ کال د آګست په میاشت کې لاسلیک کړیدی.
[12] *UNHCR (United Nation High Commissioner for Refugee)*

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

اخیستونکو د عالي کمیساری نقش ډیر مطرح او برجسته وو ، د بیلګې په ډول د په ایران کې د افغاني پناه اخیستونکو په قضیه کې ، اروپایي هیوادونو ته د بوسنیایي پناه اخیستونکو په قضیه کې او آلبانیا او مقدونیا هیوادونو ته د کوزوویي پناه اخیستونکو په قضیه کې. او همدارنګه د پناه اخیستونکو د حمایت په مورد د سره صلیب د نړیوالي کمیټې[13] نقش هم باید له یاده ونه باسو.(۱۷: ۲۵۱)

په کلي ډول پناه اخیستونکي کولای شو د افرادو د کثرت په اساس په دریو ډولونو باندې وویشو :

۱- پناه اخیستونکي کوچنیان : د پناه اخیستونکو نیمایي برخه ماشومان یا هغه کسان تشکیلوي چې، د اتلسو کالونو څخه کم عمر ولري، په هغه مواردو کې چې پناه اخیستنه د جنګونو څخه ناشي وي، معمولاً ماشومان په فرار او تیښته باندې موفق کیږي، ځکه لویان معمولاً یا وژل کیږي یا د جنګ لپاره ودریږي او یا نیول کیږي . نن ورځ زیات شمیر پناه اخیستونکي چې په ایتوپیا، سومالیا، سوډان، مرکزي امریکا او جنوب حتیځه اسیا کې شتون لري هغه کسان دي، چې د خپل هیواد د داخلي کشمکشونو څخه یې ځانونه ایستلي دي. پناه اخیستونکي ماشومان غالباً د خپل ځانګړي وضعیت په دلیل د مختلفو لارو څخه د سوء استفادې مورد ګرځي او حقوق یې ضایع کیږي.

۲- پناه اخیستونکي ښځې : پناه اخیستونکي ښځې د هغه ډلو له جملې څخه دي ، چې د زیات تعداد او خپلو مسایلو په دلیل یې په مننونکو ټولنو کې عمده اندیښنې او ستونزې ایجاد کړیدي . پناه اخیستونکي ښځې غالباًد زیاتو مشکلاتو سره مخامخ کیږي او د تبعیض، بدو کړنو او بدني سوء استفادو څخه چې د هغوی په نسبت اعمالیږي ډیر رنځ وړي. او د دې څخه علاوه په دسته جمعي محلونو کې د پناه اخیستونکو ښځو ژوند کول قومي او اخلاقي قوانین خدشه دار کوي. نن ورځ په افریقا کې ښځې د پناه اخیستونکو نیمایي برخه تشکیلوي، هغه چې د جنګ، تعقیب او د ژوند د بدو شرایطو له امله په ګاونډیو هیوادونو کې پناه اخلي د خپل ځان د وضعیت په مورد د زیات شمیر تغیراتو سره مخامخ کیږي چې، نه یواځې د پناه

[13] *ICRC ( International Committee of Red Cross)*

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

اخیستونکو ښځو د رواني مشکلاتو سبب ګرځي، بلکې د هغوی د کورنیو شتون هم د تهدید لاندې قرار نیسي.

۳- قایقي پناه اخیستونکي : دغه پدیده په جنوب ختیځه اسیا پورې اختصاص لري چې، د اوږدې مودې راهیسې یې زیات شمیر قربانیان له ځان سره لرل . قایقي پناه اخیستونکي هغه کسان دي چې ، د ویتنام او تایلنډ خلیج له لارې د منطقې نورو هیوادونو او عمدتاً تایلنډ او مالیزیا ته ځي اود هغې ځخه د پناه اخیستنې غوښتنه او درخواست کوي ، د دغه پناه اخیستونکو د اوضاع وخامت تر دې حد پورې دی چې، دهغې سره د کومک لپاره د یوې خاصې برنامې د تنظیم احساس ورځ تر بلې زیاتیږي . قایقي پناه اخیستونکي که چانس پیداکړي او د تجارتي کشتیو په مسیر کې قرار ونیسي مکمن نجات پیداکړي ، مګر مسله داده چې ، د کشتیو مالکان د لارې د اوږدیدو او د حمل او نقل د مصارفو د زیاتوالي په دلیل د پناه اخیستونکو نجات ته کمه توجه کوي ، د دې باوجود بیا هم د ۱۹۸۰ کال را پدیخوا ۵۰۰۰۰ نفرو د تجارتي کشتیو په واسطه نجات موندلی دی.(۹ : ۲۰۴)

هغه پناه اخیستونکي چې د خپلو سیاسي- مدني حقوقو له لرلو ځخه په غیر دیموکراتیکو دولتونو کې بې برخې کیږي، ځانګړي وګړییزې آزادی یې د تابعیت د حقوقو له نظره او سیاسي آزادی یې د سیاسي حقوقو له نظره سلب کیږي ، سیاسي پناه اخیستنه نومول شویده چې ، د ملګرو ملتونو سازمان د ۱۹۵۲ کال په نړیوال کنوانسیون کې د نړیوالو حقوقو د تامین لاندې راغله او د هغې ځخه وروسته د کنوینشینل پناه اخیستنې په نوم ونومول شوه.(۱۳: ۲۲)

## ځلورم جز - توریستان[14]

هغه افرادو ته ویل کیږي ، چې د سیاحت ، ګرځیدلو او د طبیعي منظرو او تاریخي اثارو ځخه د لیدنې په منظور د لنډې مودې لپاره بل هیواد ته سفرکوي . له هغه ځایه چې په هیواد کې د سیاحینو د اقامت موده لنډه وي ، نو د هغه هیواد لپاره یوه با ارزښته عایداتي منبع ګڼل کیږي ، معمولاً د هغې د ورود او اقامت لپاره خاص تسهیلات او آسان شرایط په نظر کې نیول کیږي.(۱۳: ۱۷۸)

---

[14] *Tourists*

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

## پنځم جز ـ محصلین[15]

محصلین هغه افراد دي ، چې د علم او زده کړې د حصول ، د نورو نظامونو سره د آشنائۍ او نویو علمي موضوعاتو د حصول په منظور نورو هیوادونو ته سفر کوي او خپل ټول تحصیلات یا یوه برخه تحصیلات په هغه هیواد کې ترسره کوي . د فرهنګي اړیکو په مورد د دولتونو تر منځ معمولاً دوه جانبه یا څو جانبه قراردادونه منعقد شوي وي ، چې د هغې مطابق دهغه افرادو لپاره لازم شرایط تعین کیږي ، چې دا ډول فعالیتونه ترسره کوي او د دغه قراردادونو پواسطه په هر غړي هیواد کې د محصلینو او زده کوونکو لپاره یو لړ تسهیلات او اسانتیاوې رامنځته کړي.(۵۵ :۲۰)

## شپږم جز ـ سوداګر[16]

هغه افرادو ته ویل کیږي، چې د ګټې او سوداګرۍ، د نویو سوداګریزو بازارونو سره د اشنائې او د خپلو سوداګریزو فعالیتونو د قلمرو د پراختیا په مقصد له یوه هیواد څخه بل هیواد ته سفر کوي ، معمولاً د دغه ډله افرادو لپاره خاص تسهیلات او امتیازات د دولتونو له لورې د دوه اړخیزه او څو اړخیزه تړونونو د انعقاد له طریقه پیژندل کیږي.(۳ : ۱۷۸)

## اووم جز ـ ژورنالیستان ، عکاسان او نور افراد ، چې په مختلفو مطبوعاتي او نشراتي فعالیتونو کې کار ترسره کوي

دغه ډله افراد د ژورنالیستکې ، عکاسۍ او یا مطبوعاتي فعالیتونو په منظور په مختلفو سیاسي ، اقتصادي ، اجتماعي او نورو برخو کې د مطبوعاتي یا ژورنالیستکي ویزې په ترلاسه کولو سره هغه هیواد ته داخلیږي ، چې بعضاً ممکن د یو سلسله تسهیلاتو څخه په محل سکونت هیواد کې برخمن شي او یا برعکس د خبر رسولو په ساحه کې پرې یو سلسله محدودیتونه وضع شي.(۵۵ : ۲۱)

[15] *Students*
[16] *Businessmen*

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

## اتم جز – کارکوونکي

د دغه ډله بهرنيانو څخه منظور هغه کسان دي، چې په يوه معينه څانګه (حرفه) کې د تخصص او تجربې لرونکی وي او يا دا چې ساده کارکوونکي وي، چې د خپل ژوند تيرولو لپاره يې بل هيواد ته سفر کړی وي او د يو کم اندازه معاش يا حقوقو په ترلاسه کولو سره په کار بوخت وي. پدې مورد معمولاً هيوادونه اصل په ممنوعيت باندې برقراروي او يواځې دخپل اقتصادي وضعيت په نظر کې نيولو او د مخصوصو شرايطو په پيشبينۍ سره ممکن په خاصو کارونو کې د خارجيانو بوختيدلو ته اجازه ورکړي. مثلاً د فرانسې دولت چې د زراعتي فعاليتونو په برخه کې د کافي انساني ځواک څخه برخمن نه دی، نو ددې هدف د تامين لپاره د ايټاليې او هسپانيې د زراعت د کارکوونکو څخه استفاده کوي. همدارنګه آلمان چې د پرمختللي صنعت څخه برخمن دی په ځينو برخو کې د انساني نيرو د کمښت سره مخامخ دی ، چې پدې مورد المانيان د خارجيانو څخه د دغه ډول کارونو په اجرا کولو کې استفاده کوي. پدې مورد بل مثال په امريکا متحده ايالتونو کې د مايکروسافټ کمپنۍ له لورې د هندي متخصصينو استخدام دی، چې د کمپيوټر په مختلفو پروګرامونو کې د تخصص او خاصې پوهې څخه برخمن دي، له همدې امله د مايکروسافټ کمپني هندي متخصصين په يو سلسله خاصو امتيازاتو سره استخداموي.(۵۵ : ۲۱،۲۲)

## نهم جز - فراري مجرمين

بهرني فراري مجرمين هغه اشخاصو ته ويل کيږي، چې په يوه هيواد کې د جرم مرتکب او د مجازاتو څخه د خلاصون لپاره بل هيواد ته فرار او تيښته وکړي. په پخوا وختونو کې د دولتونو له لورې د فراري مجرمينو دفاع او حمايت نه کيدلو او په زياتو مواردو کې يې هغه د مجنی عليه اړخ ته تحويل کول او په ځينو مواردو کې د دولتونو تر منځ د معاهداتو او يا داخلي قوانينو له طريقه، چې پدې هکله يې معين او ټاکلي احکام درلودل فراري مجرمينو ته پناه ورکول تحريم کول .

ممکن پدې مورد تر ټولو پخوانی قانون، چې مجرمينو ته پناه ورکول يې جرم ګڼلو د حمورابي قانون وي، چې د هغې په ۱۵ ماده کې د فراري غلامانو ته د پناه ورکولو مجازات اعدام پيشبيني شوی وو، ددې باوجود په نننۍ عصر کې يو شمير هيوادنه

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

مجرمينو ته د پناه ورکولو په مسايلو کې د سياسي مجرمينو په مورد په استثنا قايل دي او خپل ځانته دا حق ورکوي، چې د سياسي مجرمينو د تحويل څخه ډډه وکړي. خو د فراري مجرمينو او جنايتکارانو په هکله معمولاً د مجرمينو د استرداد څخه استفاده کوي، د دې اصل په اساس جرم چې د کوم هيواد په قلمرو کې واقع شي د هغه هيواد څخه په جرم د مرتکب شخص غوښتنه کوي چې هغه هيواد ته يې پناه وړي وي، ځکه متقاضي دولت د جرم د ارتکاب په اثر د زياتو خساراتو متحمل شوی او د هغه هيواد محاکم د نورو مراجعو په نسبت نوموړي جرم ته د رسيده ګۍ زيات صلاحيت لري ، نن ورځ د دولتونو تر منځ د اړيکو په پراختيا او توسعې سره په نورو هيوادونو کې فراري مجرمين پيژندل کيږي او د نورو بهرنيانو لپاره د پيژندل شويو حقوقو څخه نه برخمن کيږي.(۱۸: ۸۶)

## لسم جز ـ د تسهيلاتو غوښتونکي

اصولاً هيوادونه د دې ډله افرادو د ورود او اقامت لپاره د ممنوعيت اصل څخه کار اخلي، ځکه دا ډله افراد غالباً د نورو هيوادونو د هغه امکاناتو او تسهيلاتو څخه د مسفيد کيدو په هڅه او لټه کې وي، چې دولت يې د خپلو اتباعو لپاره رامنځته کوي. معمولاًدا ډول اشخاص هغه وخت يوه خارجي هيواد ته د ورود(ننوتلو) او په هغه کې د اقامت اجازه ترلاسه کوي، چې د خپل ځان او فاميل د ژوند د ضرورتونو د تامين لپاره د لازمې پانګې او سرمايې د شتون لپاره کافي اسناد او دلايل ارايه کړي.(۵۵ : ۲۲)

## يولسم جز ـ آواره ګان

آواره ګان هغه افراد دي ، چې د جنګ يا طبيعي پيښو په اثر د خپل ژوند د حفظ او ساتلو لپاره نورو هيوادونو ته ځي او که د هغه انساني ژوند حفظ او د ټولنيزو فعاليتونو امکان ميسر وای نو خپل هيواد يې نه تر ک کولو ، د پورته تعريف څخه په واضح ډول معلوميږي ، چې آواره ګان په دوه ډوله دي په لاندې ډول يې د مطالعې لاندې نيسو :

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

**الف ـ جنګي آواره**

هغه افراد دي چې د جنګي عملياتو په جريان کې يې د مقابلو متخاصمو ځواکونو څخه فرار کړی وي او هغې سيمې ته چې پخوا يې پکې ژوند کولو بيرته نه وي راستون شوی. دا ډله افراد مجبور دي چې خپل هيواد د کورنيو او نړيوالو مسلحو کشمکشونو په نتيجه کې ترک کړي. اصولاً دغه ډله افراد د ۱۹۵۱او ۱۹۶۷کالونو د کنوانسيونو پناه اخيستونکي نه ګڼل کيږي . جنګي آواره ګان د جنګ د قربانيانو څخه د ملاتړ او حمايت د ۱۹۴۹ کال کنوانسيون او د هغې د اضافي پروتوکول د حمايت لاندې واقع او د خاصو حقوقو څخه برخمن دي.آواره ګان معمولاً په دسته جمعي(ډله ايز) شکل سره بل هيواد يا نورو هيوادونو ته ځي، خو په نورو هيوادونو کې د آواره ګانو حقوق نسبت نورو بهرنيانو ته کم وي. نن ورځ د دې باوجود چې جنګي آواره ګان د نړيوالو بشر دوستانه حقوقو د حمايت لاندې دي، بياهم په عمل کې جنګي آواره ګان د مناسب حقوقي وضعيت څخه برخمن نه دي، بناً د دوی حقوق د نورو عادي بهرنيانو څخه کم دي.(۱۸: ۸۸)

نن ورځ د نړۍ هيوادونو په بشر دوستانه دلايلو سره د جنګي آواره ګانو منل په نظر کې نيولي دي د نمونې په ډول کولای شو د افريقا د لويې وچې نوم ياد کړو ، چې داخلي جنګونو او بهرنيو تيريو د دغه لويې وچې په مختلفو برخو باندې د آواره ګۍ عمل تحميل کړيدی ، دهغې د جملې څخه د جنوبي افريقا د نژاد پرست شتون او ددغه رژيم پواسطه د استقلال څخه مخکې د نامبيا د خلکو سرکوب کول نورو همسايه او ګاونډيو هيوادونو ته د دغه هيواد د زيات شمير خلکو د آواره ګۍ باعث شواو همدارنګه په نورو ګاونډيو هيوادونو باندې د دغه هيوادونو تيری او تعرض په جنوبي افريقا کې د آواره ګانو زيادت له ځان سره درلود.(۹ : ۲۰۷)

**ب ـ د طبيعي حوادثو او مصيبتونو آواره**

د طبيعي آفتونو آواره ګان هغه اشخاص دي ، چې د طبيعي حوادثو لکه زلزله ، سيلاب ، وچکالي او نورو په اثر د خپل ځان د ساتنې په منظور مجبوريږي، چې خپل هيواد ترک او بل هيواد ته لاړ شي. د طبيعي حوادثو آواره ګان د بشردوستانه عواملو په اساس د نورو هيوادونو د حمايت وړ ګرځي. د طبيعي حوادثو د آواره ګانو منل او پذيرش په موقتي ډول صورت نيسي، بنا پردې کله چې د آواره ګۍ

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

عوامل له منځه ولاړ شي معمولاً آواره ګان خپلو هیوادونو ته بیرته استول کیږي.(۱۸: ۸۹)

**دولسم جز- مامور**

بهرنی مامور هغه شخص دی، چې د خپل متبوع دولت له لوري بل هیواد ته د ماموریت د ترسره کولو لپاره لیږل کیږي. کولای شو مامورین په دوه ډوله سیاسي او غیر سیاسي مامورینو باندې وویشو:

**الف – غیر سیاسي مامور**

غیر سیاسي مامور هغه شخص دی، چې د خپل متبوع دولت له لورې د ماموریت د ترسره کولو لپاره بل هیواد ته لیږل کیږي، خو ماموریت یې سیاسي نه وي نو پدې اساس دا ډول مامور ته سیاسي مامور نه ویل کیږي. غیر سیاسي مامور معمولاً د فرهنګي ، اقتصادي او نورو چارو د اجرا په غرض د خپل متبوع دولت پواسطه بل بهرني هیواد ته لیږل کیږي، غیر سیاسي مامورین د سیاسي مامورینو د امتیازاتو او مصونیتونو څخه برخمن نه دي، پس د دوی حقوق د سیاسي مامورینو په نسبت کم دي.(۱۸: ۸۸)

**ب- سیاسي مامور**

سیاسي مامور هغه چا ته ویل کیږي، چې د دیپلوماسی په هنر کې مشغول او شغل یې په بل هیواد کې د خپل متبوع هیواد د خارجي سیاست اجرا وي. سیاسي یا دیپلوماتیک مامور مصونیت لري او هغه هیڅوک په هیڅ عنوان سره نیولی او توقیف کولای نشي او قبلوونکي دولت هم باید د هغې سره مناسب چلند وکړي او دهغې په حیثیت، ابرو، آزادی او شخصیت باندې د تعرض او صدمې د مخنیوي لپاره باید لازم تدابیر ونیسي. د یوه هیواد سیاسي مامورین په بل هیواد کې د مطلوب حقوقي وضعیت څخه برخمن دي او په قبلوونکي یا میزبان دولت کې د هغوی حقوق د نورو بهرنیانو څخه زیات دي.(۹: ۲۰۶) ځکه د دې لپاره، چې دیپلوماتیک او سیاسي مامورین وکولای شي چې په بهرنیو هیوادونو کې خپلې ورسپارل شوي دندې په پوره استقلال او آزادی او د هر ډول ویرې او تشویش څخه پرته ترسره کړي، د دولتونو تر منځ د ډیرو پخوا زمانو څخه را پدیخوا پخپل

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

منځي روابطو کې يو سلسله اصول او قواعد معمول او مروج وو، چې د ديپلوماتيکو امتيازاتو او مصونيتونو مسايل يې تنظيم او اداره کول چې تر ۱۹۶۱ کال پورې يې عرفي بڼه درلوده چې بلاخره د ۱۹۶۱ د اپريل مياشتې په ۱۸ نيټه د ويانا د ديپلوماتيکو اړيکو او د ۱۹۶۴ د اپريل مياشتې په ۲۴ نيټه د قونسلي روابطو کنوانسيونونو په انعقاد سره په مدون شکل سره ترتيب او تنظيم شول، چې د ويانا د ۱۹۶۱ کال د ديپلوماتيکو اړيکو کنوانسيون د ۲۹ څخه تر ۳۱ مادې پورې د ديپلوماتيکو مصونيتونو څخه بحث کوي او ديپلوماتيک مصونيتونه په کلي صورت سره دوه عمده ډولونه لري :

۱- د تعرض او تيرې په وړاندې مصونيت.

۲- قضائې مصونيت. .(۱۷: ۳۸۳)

## دوهم پراګراف

## د اسلام له نظره د بهرنيانو ډولونه

په نړۍ کې هيڅ انسان چې په هر نژاد، ځای او تاريخ پورې تړاو ولري هيڅکله يې هغه مقام نه دی ترلاسه کړی، چې د اسلام د مبارک دين له نظره يې ترلاسه کړی دی. د دې امر علت دادی چې اسلام يو نړيوال دين دی او پيغمبر(ص) د ټول بشريت او ټولې نړۍ لپاره راليږل شوی پيغمبر دی او د نورو پيغمبرانو پشان د خاصو قومونو او ملتونو لپاره نه دی رالیږل شوی. د اسلام مبارک دين د ټول بشريت لپاره که هغه مسلمان يا غير مسلمان وي په بشريت او انساني کرامت قايل دی. د اسلام مقدس دين له نظره په کلي مفهوم سره بهرنی هغه چا ته ويل کيږي، چې نه مومن او نه د اسلام په مقدس دين معتقد وي او په خلص ډول سره بهرنی هغه څوک دی چې مسلمان نه وي، چې د اسلام په حقوقي سيستم کې په دريو ډولونو باندې ويشل شويدي .(۵۶ : ۹۸)

**لومړی جز - اهل کتاب يا اهل ذمه**

ذمه په لغت کې د امان، عهد، ضمان او پيمان په معنی ده (۵۲ : ۶۳۲) او په اصطلاح کې د هغه غير مسلمان شخص څخه عبارت دی، چې په اسلامي ټولنه کې ژوند

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

کوي او ځان او مال يې د مسلمانانو يا اسلامي حکومت د حفاظت او حمايت لاندې وي (۶ : ۱۱۰۴) يا هغه غير مسلم شخص دی، چې د دوی مذهبي کتاب په قرانکريم کې ذکر شوی وي(۵۴ :۳۹۵) او يا هغه غير مسلمان ته ويل کيږي چې د هغه پيمان په موجب چې د اسلامي حکومت د حاکم سره يې کړيدی د اسلامي حکومت د حمايت لاندې په ازاد او دايمي ډول ژوند وکړي او د ځينی حقوقو څخه هم برخمن کيږي، چې د هغې په مقابل کې د وجايبو په ترسره کولو هم مکلف وي. په اسلامي عرف کې هغه غير مسلم شخص، چې په داراسلام کې هستوګنه او اقامت ولري د اهل ذمه يا ذميانو په نوم سره يادېږي، پدې نوم سره د غيرمسلمانانو د نومونې علت دا دی، چې هغوی د الله (ج) د هغې د پيغمبر(ص) او بالاخره د مسلمانانو سره د عهد او پيمان مقابل اړخ دی، چې دهغه عهد څخه په استفادې سره د دوی سره دا تعهد شوی، چې په اسلامي ټولنه کې د اسلام د حمايت لاندې په امنيت او سوکالۍ کې ژوند وکړي، پس د ذمه تړون په اساس خارجيان يا بهرنيان دمسلمانانو د حمايت او ضمانت لاندې ژوند تيروي.(۵۵ : ۲۵)

**ايا د ذمه تړون يواځې د اهل ذمه سره منعقد کېږي او که د هغې څخه پرته د نورو سره هم منعقد کيږي؟**

پدې مورد د فقهاو تر منځ مختلف او متفاوت نظريات شتون لري . زيات شمير فقها پدې باور دي، چې د ذمه تړون يواځې د اهل ذمه سره منعقد کيږي پدې دليل چې دوی اسلامي حکومت ته د جزئې په ورکولو سره مصون کيږي، اما بله ډله فقها پدې عقيده دي چې د ذمه تړون د ټولو غير مسلمانانو سره منعقد کيدای شي پدې دليل، چې حضرت محمد(ص) پخپلو ټولو خطبو کې د غير مسلمانانو پرته لدې چې اهل کتاب وي يا نه وي اسلام ته را دعوت کړيدي.(۵۵ : ۲۶) اهل ذمه په دارالاسلام کې د يو سلسله حقوقو او وجايبو لرونکي دي، چې په عمومي صورت سره ويلای شو چې ټول حقوق چې مسلمان ورڅخه برخمن دي غير مسلمان ته هم شامليږي او هغه حقوق چې د مسلمانانو پر وړاندې شتون لري اهل ذمه ته هم شامليږي، مګر په هغه مواردو کې چې شارع مستثنی کړی وي. او د اهل ذمه وجايب او مکلفيتونه د جزئې او خراج ورکړه او د مسلمانانو د شعايرو، آدابو، رسمونو او ديني احساساتو ته احترام دی.(۵۴ : ۳۹۶)

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

**دوهم جز ـ مستامن**

مستامن هغه شخص يا كافر حربي دى، چې په هر دين او تابعيت وي په مشروع انګيزه سره د موقت وخت لپاره د دايمي اقامت له قصد پرته د اسلامي دولت يا د يوه مسلمان شخص په اجازې او تضمين سره دارالاسلام ته داخل شي.(۵۴ : ۳۹۷)

يا هغه غير مسلمان ، چې په موقت ډول په داراسلام كې هستوګنه لري مستامن ګڼل كيږي. دغه شخص بايد د اسلامي دولت ننتولويا ورود لپاره اجازه واخلي، په كلي ډول د توقف اجازه يو كال ده او په هغه صورت كې، چې ددوى د اقامت موده له يوه كال څخه تجاوز وكړي بايد اسلامي حكومت ته ماليه وركړي، خو محكمې ته د هغې مراجعه او د هغوى د حقوقي اختلافاتو حل او فصل كول او د دعوا ګانو ته د رسيده ګۍ طرز او ډول د اهل كتابو په شان دي، كه قاضي د دوى د شخصي احوالو پورې په اړونده مسايلو عالم وي د دوى د مقرراتو مطابق حكم كوي او كه د دوى په احكامو عالم نه وي نو موضوع د دوى هغه مذهبي حاكم ته چې طرفين دهغې پيرو وي راجع كوي.(۵۳ : ۱۳۴)

**دريم جز ـ غير اهل كتاب**

اسلامي حكومت د بت پرستانو او د خداى (ج)د منكرينو لپاره په هيڅ ډول حقوقو قايل نه دى ، مګر بياهم په عمل كې د دوى سره ښه سلوک او نيک چلند كوي (۵۳ : ۱۳۴) په موجوده وضعيت كې دځينو معاصرو فقهاو نظرياتو ، د اسلامي هيوادونو عملكرد او د اسلامي كنفرانس سازمان چلند ته په كتو سره نړۍ د اسلام له نظره په لاندې سيمو باندې ويشل شويده .

داراسلام : چې اكثريت وګړي يې مسلمان او اسلامي قوانين په هغه حاكم وي .

دارالحرب: يواځې په هغه هيوادونو باندې اطلاق كيږ، چې اولاً اكثريت وګړي يې غير مسلم وي او ثانياً د اسلامي هيوادونو سره د جنګ په حالت كې وي .

دارالعهد يا دار الصلح : هغه هيوادونو ته ويل كيږي چې د مسيحيت ، يهوديت او زردشت دينونو څخه پيروي كوي .

www.ketabton.com په انټرنيټ كي د پښتو ژبې انلاين كتابتون

دارالهدنه : ټول هغه هیوادونه چې د پورته دریو دینونو څخه پرته د نورو دینونو څخه پیروي کوي

دارالحیاد(بې طرفه) : هغه غیر اسلامي هیوادونه چې د اسلامي هیوادونو له لورې رسماً بېطرفه پیژندل شوي وي.(۱۷: ۲۷)

خو باید یادونه وکړو، چې د اسلامي احکامو څخه داسې معلومیږي چې د بهرنیانو سره د دوستی اړیکو ایجاد هغه امر دی، چې مسلمانان کولای شي پخپلو نړیوالو اړیکو کې د هغې څخه استفاده وکړي ځکه : اولاً اسلام د فطرت دین دی او هیڅکله د انسان د بشري او طبیعي احساساتو سره په ټکر کې نه واقع کیږي. ثانیاً اسلام دې نقطې ته زیاته توجه کړیده، چې انسان کولای شي دخپلو عقیدتو مخالفانو سره د تفاهم او امن په فضا کې بحث او خبرې اترې وکړي او دا امر ددې ایجاب کوي چې افراد باید د مذهب، نژاد، عقیدې او ژبې په نظر کې نیولو پرته اړیکې او روابط برقرار کړي. او دا هم د یادولو وړ ده، چې د دولت د حقوقي مفهوم د تکمیل او په مختلفو برخو کې د دولتونو د اړیکو پراختیا ته په کتو سره به نن ورځ په ندرت سره وکولای شو تر څو داسې هیواد پیدا کړو، چې د پورته تقسیماتو په اساس عمل وکړي. نن ورځ ټول اسلامي هیوادونه خپل ځانته ټاکلی قلمرو لري، چې دا قلمرو یواځې د مسلمانانو لپاره محدود نه دی، بلکې غیر مسلم هم پدې هیوادونو کې د مسلمانانو تر څنګ د مساوي حقوقو او وجایبو لرونکي دي. د تابعیت د مفهوم په منلو سره نن ورځ مشکله ده، چې په پورته جغرافیوي تقسیماتو عمل وکړو او په یوه هیواد کې د مسلمانانو او غیر مسلمانانو تر منځ ویشنه وکړو. په نړۍ کې داسې مسلمانان شتون لري، چې د اسلامي هیوادونو په قلمرو کې ژوند کوي خو بهرنیان ګڼل کیږي همدارنګه داسې غیر مسلمانان شتون لري، چې په اسلامي هیوادونو کې ژوند کوي خو بهرنی نه ګڼل کیږي. د مثال په ډول که یو افغانی په سعودي عربستان کې اقامت ولري سره لدې، چې سعودي عربستان یو اسلامي مملکت او افغاني تبعه هم مسلمان دی ، مګر بیا هم د سعودي عربستان د قوانینو له مخې مسلمان افغانی بهرنی ګڼل کیږي او د یو سلسله حقوقو څخه محرومیږي، په همدې ترتیب سره په غیر اسلامي هیوادونو کې هغه مسلمان چې د هماغه اړوند دولت تبعه دی بهرنی نه ګڼل کیږي. بنا پردې د پورته بحث څخه

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

داسې نتيجه اخيستلی شو، چې په ننۍ نړۍ کې چې ارتباطات په مختلفو برخو او سطحو کې د ليدو وړ پرمختګ کړيدی ، نو هيوادونه د خپلو اقتصادي او سياسي منافعو د تامين لپاره زياته توجه کوي نه دا چې د مذهبي ملاحظاتو په اساس د اشخاصو لپاره په حقوقو قايل شي.(۵۵: ۲۸،۲۹) يعنی دا چې نن ورځ د تابعيت مفهوم د ټولو مذهبي او قومي ويشنو او وابستګيو جانشين ګرځيدلی دی.(۵۴: ۳۹۶)

## څلورم مبحث

## د بهرنيانو د حقوقو مباني او اساس

څه ډول چې مخکې اشاره وشوه، چې د بهرنيانو حقوق له پخوا وختونو څخه په مختلفو حقوقي نظامونو کې پيژندل شوي او قبول شوي وو، خو په هغه پورې د اړوندو قواعدو او مقرراتو د تدوين ضرورت په وروستيو پيړيو کې احساس شو. هغه اړخونه او عوامل چې نوموړی ضرورت يې ښکاره او روښانه کړ عمدتاً هماغه عوامل او اړخونه دي چې د نړيوالو خصوصي حقوقو د پيدايښت او رشد موجب شويدي(۱۸: ۸۹) چې په لاندې ډول دي:

۱- د اقتصادي راکړې ورکړې رشد او توسعه ، چې په مختلفو هيوادونو کې د زياتو بهرنيانو د حضور موجب وګرځيد.

۲- فرهنګي راکړه ورکړه او نورو هيوادونو ته مهاجرت او کډوالي .

۳- د بشری سرنوشت مشترک احساس او په نوموړي برخليک د واکمنو اړيکو د قانوني کولو نياز او ضرورت.(۲: ۱۸۰ )

دغه لاملونه ددې موجب شول چې دولتونه د پخوا څخه زيات د بهرنيانو وضعيت ته پاملرنه او توجه وکړي او د هغوی حقوق او وجايب په خپلو مختلفو حقوقي منابعو کې تدوين کړي ، که څه هم د دغه قواعدو د تدوين په وخت کې دولتونه د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو او همدارنګه د امتيازاتو او محروميتونو د تعين په رابطه د عمل ازادی څخه برخمن دي مګر په عمل کې د دغه قواعدو په تنظيم کې بايد متعدد تاثير لرونکي عوامل په نظر کې ونيول شي چې د دولتونو د عمل ازادي محدودوي :

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

**لمړنی عامل** انساني ملاحظات دي، د یو انسان په عنوان د دولتونو له لورې د بهرنیانو لپاره د حداقل حقوقو پیژندل ضروري او لازمي دي، چې هغه په اختیاري یا اجباري ډول د هغې پیژندلو او منلو ته راکاږي.

**دوهم عامل** ملي ملاحظات دي، د بهرنیانو پرحقوقو د حاکمو قواعدو په تعین کې دولتونه له یوه پلوه د خپلو ملي مصالحو په نظر کې نیولو سره اقدام کوي او له بله پلوه څرنګه چې د بهرنیانو لپاره د حقوقو پیژندل په نورو هیوادونو کې د نوموړي دولت د اتباعو په وضعیت باندې په مستقیم او غیر مستقیم ډول تاثیر لري، نو الزاماً د بهرنیانو د حقوقو منلو ته غاړه ږدي .

او **دریم عامل** په اوسني عصر کې نړیوال ملاحظات دي، یعنی د هغه اصولو او ارزښتونو ملاحظه چې د نړیوالې ټولنې د قبول وړ ګرځېدلي وي. چې هر یو د دغه پورته درې ګونو عواملو څخه د بهرنیانو د حقوقي وضعیت د بنا او اساس په عنوان پیژندل شویدي، نو پدې اساس د بهرنیانو د حقوقو د تعین اصول په لاندې ډول دي:(۱۸: ۸۹،۹۰)

## لومړی پراګراف

### داخلي قوانین (د خود الزامیت مبنا)

د دولتونو داخلي قوانین د بهرنیانو د وضعیت د تعین په مورد یو مبنا او اساس ګڼل کیږي، په داخلي قوانینو کې د بهرنیانو د حقوقو د رعایت ضرورت ددې موجب ګرځېدلی، چې دولتونه پرته لدې چې یو د بل په وړاندې تعهد ولري پخپله د دغه الزام ضرورت احساس کوي تر څو په خپلو داخلي قوانینو کې د بهرنیانو د حقوقو رعایت وکړي. له همدې امله د نړۍ زیات شمیر هیوادونو په خپلو داخلي قوانینو کې یو شمیر مواد د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو لپاره مختص کړیدي. په مختلفو هیوادونو کې بهرنیان د متفاوتو حقوقو څخه برخمن دي چې معمولاً سعی او کوشش شویدی، چې د دوی لپاره د حداقل انساني حقوقو لحاظ وشي. د هیواد په چارو کې د بهرنیانو د مداخلي او نفوذ د مخنیوي لپاره له حد څخه زیات احتیاط د دې باعث شویدی، چې دولتونه د بهرنیانو د حقوقو د تعین په مورد په محدودیتونو باندې قایل شي.(۲: ۱۸۶ )

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

د یادوني وړ ده ،چې د افغانستان د نړیوالو خصوصي حقوقو په نظام کې هم لکه د نورو د نورو هیوادونو پشان په اسلامي فقه سربیره متعدد قوانین د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو یا حقوقي وضعیت د تعین په مورد شتون لري، چې ځای ځای به ترې یادونه وشي.

## دوهم پراګراف

### د متقابل التزام اساس ( متقابل روش یا د دولتونو ترمنځ د بهرنیانو په نسبت متقابله رویه )

متقابل روش په لغت کې د هغه قانوني او حقوقي امتیازاتو په معنی دی، چې د یوه یا څو هیوادونو له لورې په بل هیواد کې د هماغه حقوقو د پیژندولو په شرط متکي وي.(۲: ۱۸۳) پدې معنی، چې د بل دولت په قلمرو کې د ټاکلیو حقوقو څخه د بهرنیانو برخمن کیدل د هغې په متبوع دولت کې د بهرنیانو لپاره د هماغه حقوقو په پیژندلو پورې تړلي وي. نو پدې اساس د دې لپاره چې بهرنیان په میزبان دولت کې د حقوقو څخه برخمن شي لازمه ده چې د هغوی په متبوع دولت کې د میزبان دولت اتباع هم د هماغه حقوقو څخه مستفید شي. متقابله رویه یو اختیاري عمل دی چې د نزاکت اصل په رعایت کولو باندې متکي دی او د یوه تکلیف او الزام لرونکي عمل په عنوان یې نه شو ګڼلی، په بل عبارت متقابل روش د حق موجد او منشا کیدای نشي، چې د هغې په اساس دولت وکولای شي د هغه حق پر بنسټ دعوی اقامه کړي.

باید متوجه واوسو که څه هم، چې متقابله رویه د حق منشا نه ګڼل کیږي، خو ممکن د یوه حق د ایجاد شرط وګڼل شي. مثلاً امکان لري چې یو دولت د بل دولت اتباعو ته د حقوقو ورکړه په متقابل روش پورې مشروط کړي او یا دا چې هغوی ته د مشخصو شرایطو لاندې د ټاکلو حقوقو څخه د استفادې اجازه ورکړي.(۵۵ : ۵۶،۵۵) د متقابل روش د اصل څخه د پناه وړونکو په وضعیت پورې د ۱۹۵۱ کال اړوند کنوانسیون کې هم یادونه شویده، د دغه کنوانسیون ۷ ماده پدې مورد دا ډول صراحت لري ((۱- له ژمنو دولتونو څخه هر یو به د پناه وړونکو په هکله هغه رژیم عملي کوي چې له پردیو سره یې په کلي توګه عملي کوي، له هغو واردو پرته چې د دې کنوانسیون په موجب ډیر ښه رژیم مقرر شوی دی. ۲- ټول پناه

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

وړونکي به په ژمنو هیوادونو کې له درې کاله استوګنې وروسته متقابل عمل ته له شرط څخه چې قانوناً مقرر شوی وي معاف وي. ۳- له ژمنو دولتونو څخه هر یو باید هغه حقوق او مزیتونه چې پناه وړونکي د دې کنوانسیون د لازم الاجرا کیدو تر نیټې پورې په هغه صورت کې چې د متقابل عمل اصل وجود ونلري له هغو څخه برخمن دي، د پخوا په شان هغو ته ورکړي. ۴- ژمن دولتونه به په هغه صورت کې چې د متقابل عمل اصل وجود ونلري، پناه وړونکو ته د حقوقو او مزیتونو د ورکولو امکان برسیره پر هغه څه چې د ۲ او ۳ بند په موجب ورکړل شوي دي او همدارنګه هغو پناه وړونکو ته به چې په ۲ او ۳ بند کې د مقررو شرایطو لرونکي نه دي له متقابل عمل څخه د معافیت امکان له مساعد نظره تر څیړنې لاندې ونیسي. ۵- د دې کنوانسیون په ۱۳، ۱۸، ۱۹،۲۱او ۲۲ مادو کې د ذکر شوو حقوقو او مزیتونو په هکله او همدارنګه د هغو حقوقو او مزیتونو په هکله به چې پدې کنوانسیون کې اټکل شوي ندي د دې مادې د ۲ او ۳ بند مقررات ، اجراء شي)) همدارنګه د افغانستان قانونګذار یا مقنن هم د تجارتي علایمو د حمایت په مورد د متقابل روش اصل شرط بللی دی، د سوداګریزو علایمو اصولنامې ۶ ماده هم پدې مورد دا ډول صراحت لري ((هغه اشخاص چې تجارتي، صنعتي یا فلاحتي موسسات یې د افغانستان څخه بهر واقع وي په هغه صورت کې د دې قانون له احکامو څخه استفاده کولای شي، چې خپل تجارتي علایم یې په افغانستان کې ثبت او هم هغه مملکت چې نوموړي موسسات پکې واقع وي د افغانستان سره د معاهداتو یا خپلو داخلي قوانینو په اساس د افغانستان د تجارتي علایمو څخه حمایت وکړي))

بنا پردې لکه څه ډول چې لیدل کیږي په افغانستان کې د بهرنیو سوداګریزو علایمو حمایت په هغه صورت کې ممکن دی، چې اړوند هیواد هم د افغانستان د سوداګریزو علایمو څخه په هماغه هیواد کې حمایت وکړي .

نو په خلص ډول ویلای شو چې د بهرینانو د وضعیت په مسله کې متقابل روش له دوه نقطه نظره د پاملرنې وړ دی: یو د حق د منشا له لحاظه او بل د یو حق د وجود د شرط له لحاظه، چې دواړه یې په مختصر ډول د مطالعې لاندې نیسو .

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

**۱ ـ د حق د منشا په لحاظ متقابل روش**

د حق د منشا په لحاظ متقابل روش پدې معنی دی چې ایا هغه دولت چې د بل دولت له لورې یې د اتباعو لپاره حقوق پیژندل شوي وي، نو هغه هم د نوموړي هیواد د اتباعو لپاره په خپل هیواد کې د حقوقو په پیژندلو مکلفیت لري؟ د دې پوښتنې ځواب منفي دی ځکه چې د متقابله معاملې اصل حق نه ایجادوي. لکه څه ډول چې په ۱۹ پیړۍ کې انګریزان مدعي وو، چې څرنګه چې فرانسویان په انګلستان کې د توارث حق لري، نو دوی هم باید د فرانسې په خاوره کې د ارث حق ولري. چې په هغه وخت کې د فرانسې محکمې د انګریزانو نوموړي ادعا مردوده وبلله او انګریزان یې د توارث د حق څخه د بهرنیانو د محرومیت د اصل په اساس، چې په هغه وخت کې په فرانسه کې معمول وو د توارث څخه محروم وګڼل او ویې ویل چې هر دولت باید پخپله هغه حقوق چې غواړي د بهرنیانو لپاره یې وپیژني، تعین کړي . (۵۶ : ۹۲)

**۲ ـ د یو حق د وجود شرط ، متقابل روش**

لکه څرنګه چې مخکې مو یادونه وکړه، متقابله معامله د یوه حق منشا کیدلی نشي، خو ممکن د یوحق د وجود شرط وګڼل شي ددې وضاحت چې دولتونه ځینې وختونه بهرنیان مطلقاً د ځینو حقوقو څخه محروموي یا دا چې د هغې حقوقو ورکړه په شرایطو پورې مشروط بولي، البته دا د قانون جوړوونکو په نظر پورې تړاو لري، چې دا معین او مشخص کړي چې بهرني وګړي په کومو مواردو کې د کومو شرایطو لاندې د ټاکلیو حقوقو څخه ګټه پورته کولای شي، چې دا شرط ممکن د متقابلې رویې شرط وي. پدې صورت کې د حق لرل په متقابل روش او رفتار پورې تړاو لري. مثلا د افغانستان دولت د بهرني وګړي لپاره د حق لرل پدې امر پورې مشروط بولي چې افغانان هم په خارج کې د هماغه حق لرونکي وي .

پدې ځای کې یوه حقوقي قاعده حکم فرما نه ده، بلکې دا عمل یواځې او یواځې یو مصلحت دی، چې دولت یې د مواردو سره سم بهرنیانو ته له شرط پرته یا د متقابلې معاملې په شرط حقوق ورکوي. البته په ځینو مواردو کې دغه اقدام د دولت لپاره یوه موثره دفاعي وسیله ګڼل کیږي او برعکس په ځینو مواردو کې د هغې

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

زيان په ګټه باندې غلبه کوي. پدې ځای کې اساسي نقطه د دغه مصلحت تشخيص دی، چې دا پخپله يو سياسي مهارت او د حکومت کولو يو هنر دی.(۵۶ : ۹۲،۹۳)

په هر حال متقابل روش ممکن په مختلفو صورتونو سره مطرح شي چې د هغې انواع په لاندې ډول د مطالعې لاندې نيسو .

**لومړی جز- متقابل سياسي روش**

متقابل سياسي روش د يو سياسي قرارداد او معاهدې په وسيله رامنځته کيږي، پدې صورت کې د معاهدې د دواړو اړخونو څخه د هر يو هيواد اتباع په بل هيواد کې دهغه حقوقو څخه برخمن دي ، چې په معاهده کې ذکر شويدي او پدې مورد دولتونه ممکن په مختلفو سطحو کې دوه اړخيز، سيمه ايز او نړيوال تړونونه منعقد کړي.

**۱ – د دوه اړخيزه معاهدو په انعقاد سره متقابل سياسي روش**

دغه روش د دولتونو تر منځ د دوه اړخيزو تړونونو په انعقاد سره ايجاديږي، پدې صورت کې د تړون د هر يو طرف هيواد اتباع په مقابل اړخ هيواد کې يواځې دهغه حقوقو څخه برخمن وي چې په معاهده کې ذکر شوي وي .(۳ : ۱۸۶)

د همدغې مسلې په مورد لکه څرنګه چې مخکې ذکر شول د افغانستان د سوداګريزو علايمو اصولنامې په ۶ ماده کې د سوداګريزو علايمو د حمايت په مورد دا ډول بيان شويدي ((هغه اشخاص چې تجارتي، صنعتي يا فلاحتي موسسات يې د افغانستان څخه بهر واقع وي په هغه صورت کې د دې قانون له احکامو څخه استفاده کولای شي، چې خپل تجارتي علايم يې په افغانستان کې ثبت او هم هغه مملکت چې نوموړي موسسات پکې واقع وي د افغانستان سره د معاهداتو يا خپلو داخلي قوانينو په اساس د افغانستان د تجارتي علايمو څخه حمايت وکړي)).

**۲- په نړيوالو او منطقوي اتحاديو پورې په الحاق سره متقابل سياسي روش**

که يو هيواد د يوې نړيوالې يا سيمه ايزې اتحاديې غړی وي او يا په هغې پورې ملحق شي، نو د موافقتونو په چوکاټ کې د نورو غړو هيوادونو د اتباعو سره په

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

متقابله رویه مکلف دی.(۳ : ۱۸۷) خو باید وویل شي چې که یواځې متقابل سیاسي روش د بهرنیانو لپاره د حقوقو څخه د استفادې اصل او معیار وای، نو دې امر ددې ایجاب کولو چې د دولتونو ترمنځ زیات تړونونه او معاهدات رامنځته شوي وای او که د بهرنیانو متبوع دولت پدې برخه کې وجایب په غاړه نه وای اخیستي، نو اتباع به یې په نورو هیوادونو کې د نامناسب وضعیت سره مخامخ وای او ډیر لږ حقوق به یې درلودلی. د فرانسې او بلجیم هیوادونو متقابل سیاسي روش ته زیات تمایل ښودلی او هغه هیوادونه چې د دوی سره د اتباعو د وضعیت د تعین په مورد تړونونه ونلري، نو اتباع یې په دغه هیوادونو کې نامناسب وضعیت لري .

د دغه نظریې مدافعین دغه رویه یوه عادلانه رویه بولي او وایي، چې د هیواد په داخل کې د نورو هیوادونو د بهرنیانو او په نورو هیوادونو کې د نوموړي هیواد د اتباعو د وضعیت تر منځ باید تعادل برقرار شي.(۵۳ : ۱۵۲)

**دوهم جز- متقابل قانوني روش**

د متقابلې قانوني رویې په مورد د سیاسي تړونونو انعقاد ته ضرورت نشته، بلکې د هر هیواد مقنن یې د معینو حقوقو څخه د بهرنیو اتباعو ګټه اخیستنه د بهرنیانو د متبوع دولت په قانون کې د هماغه حقوقو په پیژندلو پورې مشروط بولي .متقابل قانوني روش معمولاً په هغه هیوادونو کې د اجرا وړ دی چې موضوعه قوانین لري. متقابل قانوني روش د متقابل سیاسي روش څخه زیات انعطاف پذیر دی او په عین حال کې د زیات استمرار او تداوم څخه برخمن دی.(۳ : ۱۸۸) خو پدې ځای کې د دې موضوع یادونه ضروري ده چې، اولاً هغه هیوادونه چې موضوعه قوانین نلري نشي کولای د دې روش څخه استفاده وکړي، یعنی د متقابل قانوني روش څخه د استفادې لپاره د قانونګذار شتون ضروري دی، چې د حقوقو څخه ګټه اخیستنه د متقابل قانونګذار په شرط سره تصریح کړي او ثانیاً متقابل قانوني روش په عرف او عادات او قضائي روئې سره نه تامین کیږي او د معاهدې او قرارداد انعقاد ته هم ضرورت نلري. د یادلو وړ ده چې، د افغانستا په قوانینو کې د د متقابل قانوني روش په مورد زیات مواد شتون لري چې په لنډ ډول ترې یادونه کوو:

۱- په افغانستان کې دبهرنیو اتباعو دمسافرت او استوګنې قانون ۹ ماده د دوه طرفه عبوري ویزې د صدور په هکله د دوه جانبه یا بالمثل عمل څخه دا ډول یادونه

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

کوي ((د دوه طرف تـــــيرېدو (ډبل ترانزيت) ويزه: دا ډول ويزه د متقابله ورته موافقه ليک او چلند له مخې په بهر کې د افغانستان د سياسي نماينده ګيو او قونسلګريو له خوا، هغو بهرنيو اتباعو ته صادرېږي....))

۲- په افغانستان کې دبهرنيو اتباعو دمسافرت او استوګنې قانون ۱۲ ماده، د کثيرالمسافرت ( د زياتو سفرونو) ويزې د بالمثل رويې څخه دا ډول يادونه کوي (( دا ډول ويزه د قانون له حکمونو سره سم د افغانستان اسلامی جمهوريت د واکمنو مقامونو له خوا د حکومتونو د ورته موافقې او چلند له مخې، د بهرنيو مؤسسو کار کوونکو د الوتنې عملې، بهرنيو موټرچلوونکو او کلينرانو او د بهرنيو شرکتونو (کمپنيو) غړو ته صادرېږي. د زياتو سفرونو د ويزې د اعتبار موده له دريو مياشتو نه تر شپږو مياشتو پوری ده)).

څه ډول چې ليدل کيږي د دې موادو د احکامو مطابق کثير المسافرت ويزه يوائې هغه کتګورۍ افرادو ته چې د هغوی د کار طبعيت يې ايجابوي، صادرېږي. اما دا پدې معنی نه ده، چې نورو افرادو لکه د سفارتخانو کارکوونکو او مامورينو او يا متخصصينو او دانشمندانو ته نه صادرېږي.

۳- په افغانستان کې دبهرنيو اتباعو دمسافرت او استوګنې قانون په ۱۷ ماده کې د بهرنيو هيوادونو د زده کوونکو د ويزې د صدور په هکله د بالمثل رويې څخه دا ډول يادونه کړيده ((د هغو بهرنيو زده کوونکو ويزې چې افغانستان ته راځي، د مځکينې موافقې او د متقابله چلند له مخې صادرېږی)).

۴ - په افغانستان کې دبهرنيو اتباعو دمسافرت او استوګنې قانون د ۵۶ مادې ۵ ،۴، ۳، فقرې هم د بهرنيو اتباعو د دخول او خروج د حق الويزې په مورد په متقابل عمل باندې متکي ده ((۳- له بهرنی تبعــــه سره د مودې او حق الويزې په برخه کې له بالمثله متقابلې کړنې سره سم چلند وکړی. ۴- د ګاونډيو دولتونو دسرحدي سيمو د اوسيدونکو راننوتل او وتل دې له بالمثله متقابل چلند سره سم تنظيم کړي. ۵- په سرحدي سيمو کې د ګاونډيو دولتونو د مامورينو راننوتل او وتل دې د هغوی د دندو له غوښتنو سره سم د بالمثله متقابل چلند له مخې تنظيم کړي)).

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

۵- په افغانستان کې پر عايداتو د ماليـاتو قـانون ۶ مـاده د غير مقيمـو اشخاصـو د ماليـاتو د ورکړې او مالياتي معافيتونو په هکله بالمثل رويې تـه دا ډول اشـاره کـوي ((غير مېشت اشخاص په هغهٔ صورت کې پر عايداتو باندې د ماليـاتو د ورکړې لـه معافيت څخه ګټه اخلي چې دغه معافيتونه د هغوی د متبوع هېواد لخوا پـه بـالمثل ډول په هغهٔ هېواد کې د افغاني ميشتو اشخاصو لپاره اټکل شوي وي )).

۶- همدارنګه د افغانستان د کار قانون ۶ ماده هم د بالمثل رويې څخه دا ډول يادونـه کوي ((۱-هغه بهرني اتباع چې دمخکنيو جلا قراردادونو مطابق يا پرته له هغې ئـې د افغانسـتان پـه اسـلامي جمهوريت کـې دکـار جـواز ترلاسـه کـړی يـا ئـې وروسـته ترلاسه کوي اوپه دولتي يا غيردولتـي ګډو يـا خصوصـي ادارو کـې استخداميږي، د دغه قانون دحکمونو تـابع دي، دهغوی د استخدام شـرايط د جـلا مقررې پـه واسـطه تنظيميږي. ۲- حکومت کولای شي دهغو دولتونـو د اتبـاعو لپـاره چـې دهغـوی پـه قوانينو کې د افغانستان داسلامی جمهوريت اتباعو ته دکـارحقوق محدود شـوي دي، متقابل محدوديتونه وضع کړي)).

**دريم جز – متقابل عملي روش**

د يوه هيواد د عرف، عاداتو او قضايئ رويې په موجب امکان لري، چې يو د يو دولت اتباع په بل دولت کې د هغه حقوقو څخه برخمن شي، چې د هغې هيواد اتباع هم په بهرنـي مملکت کې عملاً د عرف، عاداتو او قضايئ رويې مطابق د هماغه حقوقو څخه برخمن وي. متقابل عملي روش که څه هم ډير انعطاف منونکی دی او د تړونونو انعقاد او د قوانينو وضع کيدو ته اړتيا او ضرورت نه لري خو بيا هم اولاً زيات ثبات او تداوم نلري او ثانياً بايد د دولتونو ترمنځ داسې واکمن او ذيصلاح مقام شتون ولري چې متقابل عملي رفتار ثابت او تصديق کړي . لکه څرنګه چې د فرانسې د 1945/Nov/9 نيټې په فرمان کې د صنعتي مالکيت په باره کې راغلي دي، چې لازمه ده د هغه مملکتونو نومونه چې متقابل رفتار لري هر ورځ په هغه وزارتي دستورالعمل کې چې په منظم ډول ساتل کيږي درج شي . (۳ : ۱۸۹)

د متقابل عملي روش په مورد د هيلتون علی ګايوت د دعوی په مورد د امريکا متحده ايالاتونو د سترې محکمې صادره شوي رايه يو عمده مثال دی: هيلتون

(مدعي) يو فرانسوی شرکت وو، چې د يوې فرانسوی محکمې د حکم په اساس يې د څو تنو امريکايي اتباعو په وړاندې دعوی اقامه کړي وه او د امريکا فدرال محکمې د دعوی د ماهيت په نظر کې نيولو پرته د مدعی په نفع حکم صادر کړ، د محکمې په بله مرحله ( تميز غوښتنې په مرحله) کې د امريکا سترې محکمې له لورې نظر دې ته چې فرانسه د امريکايي محاکمو له لورې صادرو شويو احکامو ته په ارزښت او اعتبار قايل نه دي نو د مدعي په ګټه د فدرال محکمې صادر شوی حکم يې نقض کړ، پدې دليل چې فرانسه د امريکايي محاکمو له لورې صادرو شويو احکامو ته د خپل هيواد په داخل کې اجرايئوي صلاحيت نه وو ورکړی.

سربيره پردې داسې ښکاري چې پدې مورد زيات نظريات چې متقابله او دوه جانبه اړيکې د نړيوالو حقوقو اساس او بنسټ تشکيلوي، صحيح دی ځکه غالباً يواځې همدغه د بالمثل معاملې څخه د ناشی بالقوه خطر احساس دی، چې يو ملت دې ته چمتو کوي چې د نورو ملتونو د منافعو او مصالحو لپاره په خپلو خاصو منافعو باندې سترګې پټې کړي. چې پدې ډول کولای شو ووايو نن ورځ د متقابل عمل د دوکتورينو څخه د بهرنيانو د حقوقو د پيژندلو او منلو په عنوان د نړۍ په زيات شمير هيوادونو کې يادونه کيږي.(۵۵: ۶۶،۶۵)

**څلورم جز- متقابل مساعد روش**

متقابل مساعد روش يا بشپړې همکاری شرط هغه شرط دی، چې د هغې مطابق يو دولت د بهرنيانو د حقوقو، اقامت، سوداګريزو او نورو چارو په مورد د يو قرارداد په ترڅ کې دا تعهد کوي، چې کله نوموړی هيواد په مورد قرارداد موضوع کې د دريم هيواد اتباعو لپاره په زياتو امتيازاتو قايل شي دغه امتيازات او مزاياوې په اتوماتيک ډول د دغه قرارداد د طرف مقابل هيواد اتباعو ته هم شامليږي.(۲: ۱۸۵ )

پدې ډول رويه کې په عهدنامه کې پيشبيني شوي حقوقو د بهرنيانو لپاره متفاوت وي او يواځې د امضا کوونکو هيوادونو په اتباعو پورې تعلق نيسي يعنی پدې روش کې د دغه عهدنامو د حقوقو څخه د برخمنو او د نورو هيوادونو د حقوقو تر منځ تفاوت رامنځته کيږي ، پداسې حال کې چې هر دولت د دې ميل لري چې اتباع يې په بل هيواد کې د خاصو حقوقو څخه د تجارت او نورو ساحو کې برخمن وي ،

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

تر ځو وکولای شي په هغه هیواد کې د نورو بهرنیو سوداګرو سره رقابت وکولای شي .

لدې جهته هغه وخت چې یو دولت وګوري چې بل دولت په خپل قلمرو کې د ثالثو دولتونو د اتباعو لپاره د نوموړي هیواد د اتباعو په نسبت زیات حقوق پیژندلي یا ممکن وئې پیژني او ضمناً خپل روابط هم د هغه دولت سره حسنه او نیک احساسوي . د دې لپاره چې خپل اتباع د هغه حقوقو او امتیازاتو څخه برخمن کړي ، نو په یوه عهدنامه کې د نورو هیوادونو سره په عهدنامو کې د هغو دولتونو د اتباعو لپاره د نورو خارجیانو څخه زیات حقوق په خپل قلمرو کې وپیژني او یا یې په راتلونکي کې وپیژني ، نو هغه حقوق په نوموړي دولت پورې هم تړاو پیداکوي، چې دغه شرط ته د د بشپړې همکارۍ شرط وایې بنا پردې ویلای شو چې دغه شرط د یوه دولت په وړاندې د بل دولت د تعهد په معنی ده.(۱۴: ۱۶۴،۱۶۵)

کله چې د کامله الوداد شرط د متقابل روش د شرط سره یو ځای شي دغه حالت ته د مشروطه بشپړې همکاری شرط وایې پدې صورت کې ذینفع هغه وخت کولای شي په هغې باندې د خپلو اتباعو د حقوقو د غوښتنې استناد وکړي، چې هغه حقوق یې د مقابل دولت د اتباعو لپاره پیژندلي وي .

د یادولو وړ ده، چې نوموړی شرط د کمزورو هیوادونو لپاره خطرناک دی ځکه د دې امکان شته چې یو دولت د سیاسي، اقتصادي او فرهنګي اړیکو په اثر د هغې دولت د اتباعو لپاره هغه حقوق په رسمیت وپیژني چې میل نه لري چې د نورو هیوادونو د اتباعو لپاره په دغه حقوقو قایل شي. (۲: ۱۸۶)

**دریم پراګراف- په نړیوالو تړونونو کې د غړیتوب په اساس د التزام مبنا**

په اوسني عصرکې چې د بهرنیو اشخاصو په وضعیت پورې په مربوطو موضوعه قوانینو باندې د نړیوالو حقوقو د زیاتیدونکي تاثیر څرګندوی دی(۹: ۲۲۵) یعنی نړیوال حقوق په هغه لورې حرکت کوي، چې اشخاص د دولتونو او نړیوالو سازمانونو ترڅنګ یو نړیوال حقوقي شخصیت ګڼي او دهغوی د حقوقو څخه ملاتړ او حمایت کوي. د بهرنیانو حقوق د یوې مهمې مسلې په عنوان د نړیوالې ټولنې د

بررسۍ لاندې قرار لري او په مختلفو اړخونو کې کوششونه شویدي، چې د بهرنیانو د حقوقو څخه حمایت وشي.(۹ : ۲۲۶)

همدارنګه زیات شمیر حقوقدانان هم پدې عقیده دي، چې د نړیوالو حقوقو اصول د دې غوښتنه کوي، چې دولتونه باید د بهرنیانو لپاره حداقل حقوق وپیژني او زیاتوي چې نشو کولای په کلی ډول او د همیش لپاره په جامع او مشخص صورت سره دغه حداقل حقوق تنظیم کړو. ځکه دغه حداقل حقوق د بشر د افکارو په پیشرفت او تمدن سره په دایمي ډول د تغیر په حالت کې دي، خو بیا هم هغه څه چې کولای شو په اجمالي ډول ووایو داده، چې د بهرنیانو د حداقل حقوقو معیار او میزان له دوی سره د هماغه متمدن دولت رفتار او چلند دی.(۱۸: ۹۲)

د حقوقو ځینو عالمانو کوشش کړی تر څو دغه حداقل حقوق په یوه فارمول کې په مدون شکل سره بیان کړي، د هغې د جملې څخه وردروس Werdroos اطریشی حقوقدان دغه فارمول په ۵ مادو کې په لاندې شرحې سره پیشنهاد کړیدی:

۱- ماده : دولتونه باید بهرنیو اتباعو ته هغه خصوصي حقوق ورکړي، چې د هر فرد د ژوند تیرولو لپاره لازم او ضروري وي .

۲- ماده : دولتونه باید د بهرنیانو هغه اکتسابي حقوق، چې د خپل هیواد یا بل هیواد د موضوعه قوانینو مطابق یې حاصل کړي وي معتبر او محترم وګڼي.

۳- ماده : دولتونه باید هغه حقوق، چې د افرادو د شخصیت د احترام لپاره لازم وي لکه د شخص آزادي، د مسکن احترام او د تګ راتګ آزادي د بهرنیانو لپاره وپیژني.

۴- ماده : بهرني اتباع باید د هغه هیواد محاکمو ته د لاسرسي حق ولري، چې سکونت پکې لري .

۵- ماده : د بهرنیانو د هغه اعمالو څخه حمایت چې د هغوی د مالي او ځاني ضرر موجب کیږي د هغه دولت په غاړه دی، چې د هغې په خاوره کې سکونت کوي .

اصولاً هیڅ دولت د بهرنیانو د منلو په مورد کوم الزامیت نه لري، خو کله چې بهرني اتباع د یوه دولت قلمرو ته داخل او ومنل شي، نو دولت باید هغې ته په حداقل حقوقو قایل شي. د ۱۹ پیړۍ په جریان کې او د هغې څخه وروسته د آزاد انسان د ځینو لازمه حقوقو د اجرا د تضمین لپاره نړیوال حکمیتونه ترسره شویدي او په ۱۹۲۹ کال کې د بهرنیانو سره د رفتار او روئې د تعین په مورد د ملتونو ټولنې له لورې د پاریس په ښار کې یو لوی کنفرانس جوړ شو، خو د ډیرو کوششونو سره سره بیا هم مثبته نتیجه ترلاسه نه شوه. متاسفانه د دغه کنفرانس څخه وروسته جریانات که د دوهم نړیوال جنګ څخه مخکې وو، که د جنګ په جریان کې وو او که د جنګ څخه وروسته وو د دغه هدف د تامین لپاره چندان مساعد نه ښکاریدل .او شاید په هیڅ یوه زمانه کې نن زمانې په اندازه د اشخاصو بین المللي حقوق نه وي نقض شوي. او که په ساده ډول ووایو نن ورځ دولتونه د نړیوالو حقوقو اصول د اخلاقي او فلسفي اصولو پشان د اجرایوي ضمانت نه لرونکي ګڼي. خو ددې باوجود د نظرې له لحاظه هر دولت د بهرنیانو لپاره په حداقل حقوقو قایل دی او د هغې حد څخه تجاوز کوي، خپل ځان آزاد او مختار بولي، دغه حد او میزان د دولتونو په طرز تفکر پورې تړاو لري، چې پدې باره کې دوه نظرئې یو د بل په مقابل کې شتون لري یوه فلسفي او اخلاقي نظریه او بله سیاسي نظریه ، چې لمړۍ یې عمومي او دوهمه یې د ملیت غوښتنې جنبه لري .(۵۶ : ۸۹،۹۰)

**الف- فلسفي او اخلاقي نظریه**

پدې سیستم کې د بهرنیانو لپاره په حقوقو باندې د قایل کیدو اساس فلسفي او اخلاقي جنبه لري هسپانوي سوارز Suarez چې په ۱۶ پیړۍ کې د دې سیستم د پیروانو او حامیانو څخه وو وایي ((انساني شخصیت دهغې د تابعیت په نظر کې نیولو پرته د دې غوښتنه کوي ، چې په بهر کې د هغه حقوقو او امتیازاتو څخه مستفید شي چې د بشر د ژوند تیرولو لپاره لازم او ضروري وي او که یو دولت بهرنیان چې د هغې په خاوره یا قلمرو کې هستوګنه لري د دې مزایاوو څخه محروم کړي، نو په تحقیق سره یې د اخلاقو خلاف عمل ترسره کړیدی)).

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

نوموړي طرز تفکر په تدريجي ډول سره په ۱۹ پيړۍ کې حقوقي اساس وموند او د ليبراليزم رنګ يې ځانته غوره کړ( د سويسي واتل Wattle په باور دا يو تکاملي طرزتفکر دی) پدې ځای کې د فکر اساس دا دی، چې بهرنيان او داخليان د هغه حقوقو څخه چې د بشر د ژوند کولو لپاره لازم وي بايد په مساوي ډول برخمن شي او اصولاً د بهرنيو او داخلي اتباعو تر منځ نبايد تفاوت شتون ولري .

دغه د بهرنيو او داخلي اتباعو د يوشان کولو اصل د ځينو نړيوالو کنګرو د تائيد وړ هم ګرځيدلی دی او هم د نړيوالو حقوقو موسسې چې په ۱۹۷۴کال کې د جينوا په ښار کې تشکيل شوه دا اعلام کړه، چې بهرنيان مستقلاً پرته لدې چې په تړونونو کې دهغوی په ګټه قيد وضع شوی وي او حتی د متقابله معاملې د شرط پرته د حقوقو او مزاياوو لرونکي دي، چې دولتونه د هغوی په رعايت کولو مجبور دي. يعنی پدې سيستم کې اصولاً د بهرنيانو لپاره په هماغه حقوقو قايل شويدي ، چې مقنن د داخلي اتباعو لپاره پيژندلي دي .نوموړی سيستم چې په ۱۹ پيړۍ کې د هغه وخت د ټولو علماو لپاره د قبول وړ وو د ځينو هيوادونو په قوانينو کې يې هم رسوخ کړی وو.(۵۶ : ۹۱،۹۰)

**ب - سياسي نظريه**

دا طرز تفکر په زياته پيمانه سره د مليت غوښتنې جنبه لري، يعنی پدې نظام کې د يوه ملت اساسي مصلحتونه د افرادو د منافعو څخه په زياته اندازه د پاملرنې وړ وي او داسې څرګندوي، چې په يوه ټاکلي هيواد کې د بهرنيانو د حقوقو د تعين او مشخص کولو مسله يواځې اخلاقي او حقوقي مسله نه ده، بلکې دا مسله د يوه ملت په اساسي مصلحتونو پورې اصطکاک لري، چې دولتونه بايد د بهرنيانو په حقوقو پورې د اړوندو قواعدو او قوانينو د تنظيم په وخت کې د ملي امنيت، اقتصادي منافعو او د نفوسو د زياتوالي مصلحت درې ګوني موضوعات  په نظر کې ونيسي.
د مثال په ډول د امنيت له نظره دولتونه بايد ځيني امنيتي اقدامات ترسره کړي تر څو د بهرنيانو له لورې يا لااقل د هغوی د ځينو افرادو له لورې هيواد ته خطر متوجه نه شي . همدارنګه د اقتصادي له نظره بايد پاملرنه وشي چې دولتونه يواځې د ضرورت په وخت کې پخپله خاوره کې مهاجرين يا کډوال مني او مهاجرين نبايد په يوه سياسي ټولنه (دولت) باندې تحميل شي . ځکه مملکت يوه نړيواله خيريه

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

ټولنه نه بلل کیږي. ځیني هیوادونه د دې لپاره چې د خپل نفوس زیاتوالی متناسب کړي د بهرنیو عناصرو جلب ته ضرورت لري، خو اکثراً داسې پیښیږي چې پورته عوامل پخپل منځ کې تطابق نه کوي، ځکه ځیني وختونه د اقتصادي له نظره لازم ګڼل کیږي چې د مهاجرت څخه مخنیوي وشي پداسې حال کې چې د دغه اقدام په اثر دریم عامل یعنی د مملکت د نفوسو زیاتوالي ته ضرر پیښیږي، نو پدې اساس د پورته ذکر شویو درې ګونو مصلحتونو تر منځ او بالخصوص د اقتصادي مصلحت او د نفوسو د زیاتوالي ترمنځ د همیشه لپاره یوه همغږي شتون نلري ، چې دا پخپله یوه پیچلي مسله منځته راوړي.

د سیاسي نظرئې له مخې کله چې د بهرنیانو حقوق د حداقل حقوقو څخه تجاوز وکړي، نو د یوه امتیاز په حیث ګڼل کیږي، چې باید دهر هیواد د وضعیت په نظر کې نیولو سره په په ځانګړي ډول د پاملرنې لاندې ونیول شي، ځکه د ځینو هیوادونو له لورې بهرنیو اتباعو ته د حقوقو او امتیازاتو ورکړه اسانه وي او د هیڅ ډول خطر متضمن نه وي ، خو د ځینو هیوادونو لپاره نوموړی اقدام مهلک او د هغې هیواد د سیاسي حیات لپاره حتماً د خطرونو سره مل وي، پس څه ډول چې لیدل کیږي پدې طرز تفکر کې د بهرنیانو د موضوع د حل په مورد یوه کلي قاعده شتون نلري او د بهرنیانو حقوق کوم حقوقي بنیاد نلري، چې په ټولو هیوادونو کې په یو ډول اجرا شي.

خو هغه څه چې پدې سیستم کې د پاملرنې وړ دي دا دي ، چې هر دولت باید خپل قوانین د انصاف په اساس او په عین حال کې د مملکت د اساسي مصلحتونو په نظر کې نیولو سره وضع کړي . په خلص ډول پدې نظام کې د بهرنیانو د حقوقو په مورد د حداقل حقوقو د تامین څخه پرته هیڅ نړیوال الزام او مکلفیت شتون نلري او هر دولت د بهرنیانو د حقوقو د تعین په مورد د کاملې آزادۍ او اختیار څخه برخمن دی .(۱۸: ۹۴)

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

## دریم مبحث

## د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو منابع

لکه څه ډول چې مو مخکې وویل دولتونه د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو د تعین په مورد آزاد دي او همدغه دولتونه دي ، چې تصمیم نیسي چې بهرنیان د کومو حقوقو څخه د کومو شرایطو لاندې استفاده کولای شي، خو ځینې عوامل لکه چې مخکې مو هم ورڅخه یادونه وکړه شتون لري لکه د نړیوال نظام د ساتنې او د نړیوالو اړیکو په باره کې د دولتونو تعهدات د دې ایجاب کوي، چې هم په ملي او هم په بین المللي کچه باید یو سلسله قواعد او مقررات شتون ولري، چې د متبوعو هیوادونو څخه پرته په نورو هیوادونو کې د بهرنیانو حقوق تضمین کړي، چې خوشبختانه نن ورځ نوموړي تضمینات هم په داخلي قوانینو او هم په نړیوالو معتبرواسنادو کې تسجیل شویدي. د بهرنیانو حقوق او وجایب چې هم په داخلي قوانینو او هم په نړیوالو معتبرو اسنادو کې منعکس شویدي، اولاً د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو داخلي منابع او ثانیاً نړیوالې منابع تر مطالعې لاندې نیسو .

## لومړی پراګراف

### د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو داخلي منابع

په هر هیواد کې د بهرنیانو د حقوقو او وجایبو د پیژندلو لپاره یو سلسله حقوقي تضمینات شتون لري، چې نوموړي تضمینات عمدتاً د هیوادونو په داخلي قوانینو کې پیشبیني کیږي، چې د بهرنیانو د حقوقو په باره کې په قطعي او رسمي ډول اصول، قواعد او قوانین په بر کې نیسي. په اکثره حقوقي نظامونو کې اصل دا دی، چې بهرنیان د هغه مدني او تجارتي حقوقو څخه برخمن کیږي، چې د میزبان دولت اتباع دهغې څخه برخمن او مستفید وي. مګر د هغه دسته حقوقو څخه چې د منحصراً د هیواد د اتباعو لپاره وضع شوي وي او د بهرنیانو لپاره د استفادې وړ ندي او یا هغه دسته حقوق چې صراحتاً او په مشخص ډول د بهرنیانو څخه سلب شوي وي ، لکه سیاسي حقوق او داسې نور... بهرنیان ورڅخه محروم دي.

د افغانستان په حقوقي سیستم کې هغه حقوق چې بهرنیان دهغې څخه مستفید کیږي په اساسي قانون، مدني قانون، د تجارت اصولنامه، د مدني محاکماتو د اصولو

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

قانون، د تجارتي محاكماتو د اصولو قانون ، د تابعيت قانون، په افغانستان كې د بهرنيو اتباعو د اقامت او مسافرت قانون، د خصوصي سرمايه ګذارئ قانون، د تجارتي علايمو اصولنامه، د كار قانون، په افغانستان كې د بهرنيو اتباعو د استخدام مقرره، د تجارتي حكميت قانون او نورو قوانينو او مقرراتو كې پيشبيني شويدي، چې په دوهم فصل كې به ورڅخه په تفصيل سره يادونه وشي.

## دوهم پراګراف

## د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو نړيوالې منابع

كه څه هم د خصوصي او عمومي حقوقو څخه د بهرنيانو استفاده او بهره ګيري د يو هيواد څخه تر بل هيواد پورې فرق لري او د هغې د حداقل حقوقو ميزان چې د ټولو دولتونو لپاره د منلو وړ وي تر اوسه پورې معين شوى نه دى، خو په ځينو نړيوالو اسنادو كې داسې اصول او معيارونه ملاحظه كولاى شو، چې د ټولو دولتونو څخه د خارجيانو په مورد ددغه معيارونو او اصولو د رعايت غوښتنه يكې كيږي.

بنا پردې د بهرنيانو د حقوقو او وجايبو په مورد مهمترينې نړيوالې سرچينې، چې كولاى شو په هغې باندې تمسک وكړو د بشر حقوقو نړيواله اعلاميه، د بشر حقوقو نړيواله اسلامي اعلاميه، د مدني اوسياسي حقوقو نړيوال ميثاق او د هغه اشخاصو په مورد چې د محل اقامت هيواد تابعيت ونلري د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي اسامبلى د ۱۹۸۵ كال اعلاميې څخه عبارت دي. دا چې د مدني اوسياسي حقوقو نړيوال ميثاق چې ۱۹۶۶ كال د ډيسمبر مياشتې په ۲۶ نيټه د ملګرو ملتونو د عمومي ټولنې له لورې تصويت او همدارنګه د بشر حقوق اسلامي اعلاميه چې د ۱۹۹۰ كال د اګست مياشتې په ۵ نيټه د اسلامي كنفرانس د سازمان له لورې د قاهرې په ښار كې تصويب شويده. د بشر حقوقو د نړيوالې اعلاميې د موادو سره زيات مشابهت لري نو پدې ځاى كې يواځې د بشر حقوقو په نړيواله اعلاميه باندې بسنه كوو .

www.ketabton.com په انټرنيټ كې د پښتو ژبې انلاين كتابتون

**لومړۍ جز ـ د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه**

د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه چې د ۱۹۴۸ کال د ډیسمبر میاشتې په ۱۰ نیټه د ملګرو ملتونو سازمان د عمومي اسامبلی له لورې تصویب شوي، چې په هغه کې داسې قواعد شتون لري، چې د هر کس په طبیعي حقوق باندې یې پرته د قومي، نژادي او مذهبي تعلقاتو په نظر کې نیولو څخه تاکید کړیدی. د دغه اعلامیې د لمړۍ مادې له مخې ټول افراد او بشر د حیثیت او حقوقو له لحاظه یو د بل سره برابر دي او په همدې ترتیب سره د دغه اعلامیې نور مقررات چې په هغې کې د تابعیت څخه په صرف نظر سره د افرادو اساسي حقوق مطرح دي چې په لاندې ډول ورڅخه یادونه کوو:

د ۲ مادي ۱ بند په اساس هر څوک کولای شي، چې له هر ډول توپیر پرته په ځانګړي ډول د توکم، رنګ، جنس، ژبې او مذهب په نظر کې نیولو څخه پرته پدې اعلامیه کې د مندرجو حقوق او آزادیو څخه برخمن شي. او د دریمې مادې له مخې هر څوک د ژوند، آزادۍ او شخصي امنیت حق لري. همدارنګه د ۶ مادې له مخې هر څوک حق لري چې هر چیرته چې وي د قانون په وړاندې د یوه حقوقي شخصیت او یو انسان په څیر وپیژندل شي. د ۸ مادې له مخې هر څوک د خپلو هر ډول اساسي حقوقو د نقض په صورت کې صلاحیت لرونکو ملي محاکمو ته د مراجعي حق لري. همدارنګه د ۱۰ مادې له مخې هر څوک حق لري چې دعوی ته یې یوه مستقله او بیطرفه محکمه په بیطرفه شکل سره رسیده ګي وکړي او د ۱۳ مادي په اساس هر څوک حق لري چې په هر هیواد کې په آزادانه ډول تګ راتګ وکړي او حق لري چې خپل استوګنځای وټاکي او همدارنګه هر څوک حق لري چې هر هیواد یا خپل هیواد ترک کړي یا خپل هیواد ته بیرته راوګرځي.

څه ډول چې لیدل کیږي ددې ډول مقرراتو ارزښت یواځې په یوه رسمي سند کې د هغې انعکاس د بشر مطلوب نه دی او په عمل کې هم امکان لري، چې پورتني موارد په زیاته پیمانه سره عملي اړخ پیدانکړي، خو بیا هم د یوه نړیوال معتبر سند په عنوان چې د ملګرو ملتونو سازمان له لورې تصویب شویدی حتی کولای شو هغه د تیورئ له لحاظه هم د بشر حقوقو د تامین لپاره یو ګټور ګام وبولو .

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

**دوهم جز ـ د هغه اشخاصو په مورد چې د محل اقامت هیواد تابعیت نلري د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبي د ۱۹۸۵ کال اعلامیه**

د دغې اعلامیې تاریخي سابقه پدې ډول وه، چې په ۱۹۷۲ کال کې د ملګروملتونو د بشر حقوقو کمیسون ته د هغې د یوه غړي له لورې د شکایت په اساس، چې د کمیسون د بل غړي هیواد له لورې د نوموړي هیواد د اتباعو د اخراج په مورد د بشر حقوقو څخه د تخطی په علت یې د نوموړي کمیسون د رسیده ګی لاندې قرار ونیو. چې وروسته د ملګرو ملتونو د اقتصادي او ټولنیزو چارو شورا یوه فرعي کمیسون ته صلاحیت ورکړ، چې یو د خپلو کاري اولیتونو څخه د هغه افرادو د بشري حقوقو حمایت ته متوجه کړي ، چې د محل اقامت هیواد اتباع نه وي او پدې مورد یوه مشخصه طرح د یوې اعلامیې د مسودې په شکل آماده کړي.کمیسون د غړو دولتونو څخه غوښتنه وکړه، چې په لومړي قدم کې د هغه افرادو په مورد چې د محل اقامت هیواد تابعیت نه لري غیر بشري اقدامات متوقف او د هغوی د بشري حقوقو رعایت وکړي. په ۱۹۷۴ کال کې کمیسون خپل یو نفر راپورتر موظف کړ تر څو پدې مورد مطالعات ترسره او د بهرنیانو د وضعیت څخه یو راپور تهیه او ترتیب کړي، راپورتر په ۱۹۷۶ کال کې یو مکمل ګزارش او دهغه افرادو د بشر حقوقو په مورد د یوې اعلامیې طرحه اماده کړه، چې د محل اقامت هیواد تابعیت نلري. فرعي کمیسون د اعلامیې د مسودې طرح په ۱۹۷۸ کال د ملګرو ملتونو عمومي منشي ته وسپارله، چې له هغه طریقه نوموړي طرحه د غړو هیوادونو د نظر د ابزار لپاره واستول شوه. د پورته اقداماتو په تعقیب د ۱۹۸۰ څخه تر ۱۹۸۴ کالونو په اوږدو کې مختلف او متعدد کاري ګروپونه د بهرنیانو د حقوقو د تعین په مورد د یوې نهائې طرحې د اماده کولو لپاره تعین شول تر څو د دولتونو د ملاحظاتو په پام کې نیولو سره یوه واحده طرحه ترتیب کړي، چې بالاخره نوموړي طرحه د ۱۹۸۵کال د ډیسمبر په میاشت کې د یوې اعلامیې په عنوان د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلی له لورې تصویب شوه، چې په خپل ذات کې یواځینی نړیوال سند دی چې تراوسه پورې د ملګرو ملتونو سازمان له لورې پدې مورد اعلام شویدی.(۵۵ : ۴۵،۴۶)

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

**دریم جز – د پناه وړونکو د وضعیت په مورد د ۱۹۵۱ کال کنوانسیون**

له شک پرته د پناه وړونکو په وضعیت پورې اړوند د ۱۹۵۱ کال کنوانسیون د نړیوالو حقوقو په چوکاټ کې د پناه وړونکو د اصلي ترینو منابعو څخه ګڼل کیږي، نوموړ کنوانسیون د ملګرو ملتونو د عمومي اسامبلی د (۷)۴۲۹ نمبر پریکړه لیک په اساس تصویب شویدی.(۵۴ : ۳۸۹) نوموړی کنوانسیون د خپلو زماني او مکاني محدودیتونو سره سره نړیواله بڼه ځانته غوره کړه، چې نن ورځ د افغانستان په شمول د نړۍ د ۱۴۵ څخه زیاتو هیوادونو لاسلیک کړیدی.[17]

## په افغانستان کې د بهرنیانو حقوق او وجایب

---

*[17] افغانستان نوموړی کنوانسیون د ۲۰۰۵ کال د اګست په میاشت کې تصویب او لاسلیک کړیدی او دهغې کامل متن د ۱۳۸۵ کال د ۹۰۳ نمبر رسمي جریده کې خپور شویدی.*

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

# دوهم فصل

## په افغانستان کې د بهرنيانو حقوق او وجايب

د افغانستان اساسي قانون ۵۷ ماده[18] او په افغانستان کې د بهرنيو اتباعو د مسافرت او استوګنې قانون ۲۵ ماده د يوه کلي اصل په عنوان په افغانستان کې د بهرينانو د حقوقو د اصولو په رابطه داسې حکم کوي ((هغه بهـــــــــرنی تبعه چې ددغه قانون له حکمونو سره سم د افغانستان اسلامـــــــــي جمهوريت ته راځي ، له هغو حـــــــقوقو نه ګټه اخلي چې د افـــــــغانستان اسلامي جمهوريت په قـــــوانـــــــينو کی ورتـــــه ټاکــــــل شوي دي)) د دغه مادې د محتوياتو څخه په واضح ډول معلوميږي، چې د افغانستان د قوانينو مطابق يو سلسله حقوق شتون لري، چې بهرنيان د هغې څخه برخن کيدای نشي، خو يو سلسله نور حقوق شتون لري، چې بهرنيان د هغې څخه په برخمن کيدلو کې د افغاني اتباعو په حيث تلقي کيږي. چې د دغه حقوقو څخه برخورداري او حرمان به يا د عمومي حقوقو په برخه کې وي يا د خصوصي حقوقو. په همدې ترتيب څرنګه چې عدالت او انصاف د دې ايجاب کوي، چې د هر حق په مقابل کې وجيبه بايد شتون ولري، نو افغانستان ته د بهرنيو اتباعو په دخول سره هغوی د يو سلسله وجايبو په ترسره کولو هم مکلف کيږي لکه د قوانينو رعايت، د مالياتو ورکړه او داسې نور.... چې په ترتيب سره د بهرنيانو حقوق د عمومي حقوقو او خصوصي حقوقو په ساحه کې د مطالعې لاندې نيسو .

## لومړی مبحث

### د عامه حقوقو په ساحه کې د بهرنيانو حقوقو او وجايب

عامه حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو ټولګه ده ، چې د افرادو او دولت تر منځ د اړيکو څخه بحث کوي. په افغانستان کې يو بهرنی دهر افغان په شان حق لري، چې د عمومي حقوقو لکه د ديني مراسمو اجرا کول، د ځان، مال او مسکن د

[18] *دولت په افغانستان کې د خارجي اتباعو حقوق او آزادی له قانون سره سم تضمينوي. دا کسان د بين المللي حقوقو د قواعدو په حدودو کې د افغانستان د دولت د قوانينو په رعايت مکلف دی.*

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

مصونیت حق څخه برخمن او خپل ځانته کار انتخاب کړي، مګر دا چې د قانون د صریح نص په موجب د عمومي حقوقو څخه محروم وي.

بهرنیان د کلي اصولو په موجب، چې د زیاتو هیوادونو په اساسي قوانینو کې یې انعکاس موندلی د یو سلسله عمومي حقوقو څخه برخمن دي، چې د محل اقامت دولت اتباع مکلف دي چې د بهرنیانو نوموړي حقوق محتر وګڼي او دا حقوق د بشر د ژوندانه لپاره د لازمه اساسي حقوقو څخه ګڼل کیږي . عامه حقوق په خپل وار سره په اساسی حقوقو، جزا حقوقو، کار حقوقو مالي حقوقو او اداري حقوقو باندې ویشل کیږي. چې په ترتیب سره به د بهرنیانو حقوق او وجایب او د هغې محدودیتونه د عامه حقوقو په ټولو څانګو کې تر مطالعې لاندې ونیسو .

## لومړی پراګراف

### د اساسي حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق او وجایب

اساسي حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو مجموعه ده، چې د دولت د درې ګونو قواوو د جوړښت او د اتباعو د اساسي حقوقو او آزادیو څخه بحث کوي.(۱۸: ۱۱۴) د افغانستان اسلامي جمهوریت د نافذه قوانینو مطابق یو سلسله اساسي حقوق شتون لري چې د افغانستان د اتباعو انحصاري حقوق ګڼل کیږي او بهرنیان نشي کولای د هغې څخه مستفید او برخمن شي یعنی پدې برخه کې په بهرنیانو باندې محدودیت وضع شویدي، چې لومړی د افغانستان د اتباعو انحصاري اساسي حقوق او وروسته د هغه حقوق چې بهرنیان هم ورڅخه برخمن کیدلی شي د مطالعې لاندې نیسو .

**لومړی جز- د افغاني اتباعو انحصاري اساسي حقوق**

د افغانستان اسلامي جمهوریت سیاسي، داخلي او قضائې مصلحتونه د دې غوښتنه کوي، چې بهرنیان باید د هغه حقوقو څخه برخمن نه وي، چې دهغې په وسیله وکولای شي د افغانستان په داخلي، سیاسي او قضائې چارو کې ګډون او مداخله ترسره کړي. هغه اساسي حقوق چې بهرنیان ورڅخه محروم دي عبارت دي له د انتخابیدلو او انتخابولو حق، د وزیر کیدلو حق، د څارنوال کیدلو حق، د قاضې کیدلو حق، د سیاسي ګوندونو د تشکیل حق، د مدافع وکیل کیدلو حق او داسې نور چې په تفصیل سره به یې مطالعه کړو .

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

**۱- د جمهوري رياست د مقام لپاره د نوماندۍ حق**
د اساسي قانون مطابق بهرنيان نشي کولای ، چې خپل ځانونه د جمهوري رياست د مقام لپاره نوماند کړي. د اساسي قانون ۶۲ ماده پدې مورد دا ډول صراحت لري (( څوک چې جمهوري رياست ته کانديدېږي ، بايد د لاندينيو شرطونو لرونکی وي : ۱- د افغانستان تبعه ، مسلمان ، له افغان مور او پلار څخه زېږيدلی وي او د بل هيواد تابعيت ونلري. ۲- د کانديدېدو په په ورځ يې عمر تر څلويښتو کلونو لږ نه وي . ۳- د محکمې له خوا د بشري ضد جرمونو او جنايت په ارتکاب او يه له مدني حقوقو څخه په محرومۍ محکوم نه شوی نه وي. ))

بنا پردې څه ډول چې هيڅ يو بهرنۍ تبعه د هر ډول شرايطو لاندې په هيڅ وجه سره نشي کولای ، چې د جمهوري رياست د مقام لپاره خپل ځان نوماند کړي . حتی هغه افراد چې د هغې والدين هم مسلمان او افغان وي خو د بل هيواد د تابعيت درلودونکي وي نشي کولای ، چې خپل ځان د جمهوري رياست د مقام لپاره نوماند کړي.

**۲- د جمهوري رياست د معاونيت حق**
بهرنيان د جمهوري رياست د مقام لپاره پر نوماندۍ سربيره نشي کولای، چې خپل ځان د جمهوري رياست د لومړي او دوهم معاونيت لپاره هم کانديد کړي ځکه د اساسي قانون د ۶۲ مادې ۳ برخه پدې مورد دا ډول صراحت لري ((په پدې ماده کې راغلی حکم د جمهور ريس د مرستيالانو په برخه کې هم تطبيقيږي))

**۳- د وزير کيدو حق**
د افغانستان اساسي قانون افغاني تابعيت د يو وزارت د مقام د احراز لپاره شرط بولي، پس د دې لپاره چې يو شخص د وزير په حيث وټاکل شي بايد افغاني تابعيت ولري لدې حالت پرته که يو بهرنۍ وګړی د يوه مسلک او رشتې تخصص هم ولري نشي کولای، چې د وزير په حيث وټاکل شي، خو دا حالت بايد د مضاعف تابعيت سره يو شانته ونه ګڼو يعنی که چيرې يو افغانی وګړی د افغاني تابعيت پر لرلو سربيره د بل هيواد تابعيت هم ولري نو د اساسي قانون له مخې ولسي جرګه دهغې د تائيد يا رد صلاحيت لري، چې پدې مورد د اساسي قانون ۷۲ ماده ۱ فقره

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

دا ډول صراحت لري (( څوک چې د وزیر په توګه ټاکل کیږي باید لاندیني شرطونه ولري : ۱- یوازې د افغانستان د تابعیت لرونکی وي ، که چیرې د کوم وزارت کاندید د بل هیواد تابعیت هم ولري ولسي جرګه د هغه د تایید یا رد صلاحیت لري)). پورته ماده د حقوقي لحاظه ځیني مشکلات لري یعنی که د ۷۲ مادې د ۱ فقرې د لومړۍ برخې څخه د مقنن هدف د واحد افغاني تابعیت لرل وي، نو باید د پورته مادې متن هم د هغې مطابق تنظیم شوی وای، پداسې حال کې چې د همدغه مادې د ۱ فقرې د دوهمې برخې سره په تضاد کې واقع دی، ځکه په لومړۍ برخه کې په واحد تابعیت باندې تاکید شویدی او په دوهمه برخه کې د د دوه ګوني تابعیت په مورد د هغې د تائید یا رد صلاحیت ولسي جرګې ته ورکړل شوی دی.(۱۱: ۱۴۸)

### ۴ ـ د سترې محکمې په عالي شورا کې غړیتوب او د قاضي په حیث د دندې د اجرا کولو حق

لکه څه ډول چې مخکې د جمهور ریس او وزیر انو په مورد ذکر شول، چې د دغه مقامونو د اهمیت پر اساس بهرني اتباع په هیڅ وجه نشي کولای د دغه مقامونو عهده دار شي. په همدې ترتیب سره دغه مسله د قضا په مورد هم صدق کوي، پدې دلیل چې قضا د دولت د ارکانو د جملې څخه یو رکن دی او د دغه مهم رکن احراز یواځې او یواځې افغاني اتباعو ته ځانګړی شویدی، چې پدې مورد د اساسي قانون د ۱۱۸ مادې ۲ فقره دا ډول صراحت لري (( د سترې محکمې غړی باید لاندیني شرایط ولري: ۲- د افغانستان تبعه وي)) د سترې محکمې د غړو د تعین او معرفی په رابطه د واحد افغاني تابعیت شرط نه دی ایښودل شوی، بلکې یواځې د افغاني تابعیت لرل کافي دي.(۱۱: ۳۱۹) چې متاسفانه په اساسي قانون کې د سترې محکمې د غړو د مضاعف یا دوه ګوني تابعیت د نه لرلو په مورد څه نه دي ویل شوي چې دغه مسله د قضا په مورد ډیره حساسه او جدي ده او دا به مناسبه نه وي، چې یو شخص د قضا په مسند کښیني او په عین وخت کې د بل هیواد تابعیت هم ولري، چې پدې صورت کې ممکن متفاوت موضوعات مطرح بحث او د قضا استقلالیت چې اساسي قانون هم په رسمیت پیژندلی د پوښتنې لاندې راولي. فرضاً که په یوه دعوی کې یو د طرفینو څخه یوه خارجي کمپنۍ وي او په عین حال کې افغانی قاضي هم چې نوموړي قضیې ته رسیده ګي کوي د هماغه هیواد تابعیت ولري او د

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

مدعی بها ارزښت هم ممکن ډیر زیات وي او د دعوی بل اړخ ممکن د افغانستان یو د دولتي ادارو څخه وي. پدې ډول حالت کې زیات احتمال شتون لري، چې افغانی قاضي چې په عین وخت کې د بهرني هیواد تابعیت لري او فامیل یې هم عملاً په هغه هیواد کې ژوند کوي او یا دا چې اقتصادي منافع یې زیاتره هماغلته متصور وي د خارجي کمپنۍ په ګټه حکم صادر کړي. پدې صورت کې به څرنګه ممکن وي، چې پدا ډول قاضي اعتماد او باور وکړو ، چې د افغانستان د خلکو د منافعو په نسبت خپلو شخصي یا فامیلي منافعو ته ترجیح ورکوي. حتی د دې امکان هم شتون لري، چې خپلې رخصتۍ او د تعطیلاتو ورځې هم په هغه هیواد کې تیرې کړي او په مخلتفو ډولونو سره تطمیع شي او دا هم د امکان څخه لیرې نه ده، چې د دندې د ختم څخه وروسته بیرته هماغه هیواد ته لاړ او خپل پاتې ژوند د خپل فامیل سره یو ځای هماغلته تیر کړي، نو د پورته ذکر شویو دلایلو په اساس بهتره به وای، چې د سترې محکمې د عالي شورا د غړیو او په عمومي ډول د قاضیانو په مورد واحد افغاني تابعیت معیار ګڼل شوی وای تر څو د پورته ذکر شویو دلایلو څخه مخنیوی شوی وای.(۵۵ : ۱۴۶)

### ۵- د ملي شورا د غړیتوب حق

په ملي شورا کې د غړیتوب لپاره که د انتخاباتو له لارې وي یا د انتصاب له لارې د افغاني تابعیت لرل شرط دي. نن ورځ د نړۍ په زیاتره هیوادونو کې هغه څوک چې د ملي شورا یا پارلمان لپاره نوماند کیږي د تابعیت سند لرل ورته یو ضروري او لازمي امر دی، ځکه د خلکو څخه نمائنده ګي په حقیقت کې هغه امانت دی، چې یواځې او یواځې یوه هیواد ته متعهد، مسول او وفادار اشخاص یې په غاړه اخیستی شي. پدې مورد د هیوادونو قوانینو د هغه اشخاصو لپاره چې ځان د خلکو د نماینده په حیث نوماند کوي زیات وخت ورکړی دی. نوماند شخص باید دهغه هیواد تابعیت چې پکې نوماند کیږي پخوا ترلاسه کړی وي. پدې مورد د واحد تابعیت شرط یوه بله موضوع ده، چې د ځینو هیوادونو په قوانینو کې تسجیل شویدی او د هغې څخه هدف د خپل هیواد سره د نوماندانو د زیاتې علاقمندی او لوړو مصلحتونو او منافعو تامین ذکر شویدی (۱۱: ۱۷۹) چې دغه شرط د افغانستان د اساسي قانون د ۸۵ مادې په ۱ فقره کې دا ډول بیان شویدی (( هغه څوک چې د ملي شورى غړیتوب ته کاندید یا ټاکل کیږي، د ټاکونکو پر شرط سربیره دا لاندې

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

صفتونه هم باید ولري :۱- د افغانستان تبعه وي یا لږ تر لږه د کاندیدیدو یا تعین تر نیټې لس کاله پخوا یې د افغانستان د دولت تابعیت تر لاسه کړی وي)).

## ۶- د لوی څارنوال او څارنوال کیدو حق

په همدې ترتیب سره بهرني اتباع نشي کولای د څارنوال او لوی څارنوال په حیث دنده اجرا کړي، ځکه دا حق د افغاني اتباعو د انحصاري حقوقو څخه ګڼل شویدي، چې د څارنوالی د تشکیلاتو او صلاحیتونو قانون د ۴۱ مادې ۱ فقره پدې مورد دا ډول صراحت لري ((څوك چې د لاندنیو شرایطو خاوند وی د څارنوالی په کادر کې د څارنوال یا مستنطق په توګه ټاکل کیدای شي : ۱- لږ تر لږه له لسو کلونه را دیخوا د افغانستان جمهوریت تابعیت لرل)).

## ۷- د مدافع وکالت حق

بهرنـي اتبـاع د افغانسـتان د مـدافع وکیلانـو د قـانون پـه اسـاس د مـدافع وکالـت د حق څخه محروم دي لکه چې پدې مورد د ذکر شـوي قـانون ۶مـاده او ۱ فقـره ۱ جـز دا ډول صراحت لري ((۱- هغه شخص د دفاع وکالـت پـه شـغل بوختېـدی شـي چـې د لاندې شرایطو لرونکی وي : الف- د افغانستان د تابعیت لرل))

د یادونې وړ ده، چې د پورته ذکر شوي مادې حکم په مطلق ډول نه دی، بلکې په افغانستان کې د بهرنیانو د مدافع وکالت د شغل په مورد استثنات شتون لري، هغه دا چې بهرنیان کولای شي د ځینو شرایطو لاندې د خپلو خارجي موکلینو څخه د افغانستان په محاکمو کې دفاع وکړي، خو په هیڅ وجه نشي کولای چې اولاً په افغانستان کې دارالوکاله ولري او ثانیاً د افغاني وګړي څخه وکالت وکړي، چې دغه موضوع د مدافع وکالت قانون په ۶ ماده او ۳ فقره کې پدې ډول بیان شویده ((۳- بهرنی تبعه نشی کولی په افغانستان کې دارالوکاله ولري ، خو د لاندې شرایطو په لرلو سره کولای شي د افغانستان داسلامي جمهوریت په محکمو او نورو مراجعو کې د بهرنیو حقیقي او حکمي اشخاصو په اړوندو دعواوو کې له خپل مؤکل څخه وکالت وکړي: ۱- په افغانستان کې د استوګنې د جواز لرونکی وي. ۲- له خپل متبوع هېواد څخه د وکالت د شغل د جواز لرونکی وي. ۳- د قانون د حکمونو مطابق ، خپل مالیاتي ذمت اداء کړي))

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

**خو دا موضوع د افغانستان د مدافع وکالت په قانون کې نه ده تصریح شوي ، چې ای بهرني اتباع کولای شي په افغانستان کې د مدافع وکالت جواز حاصل کړي یا نه ؟** چې دا امر د دې ایجاب کوي، چې پدې مورد باید احکام موجود وای. ځکه ځیني وختونه داسې پیښیږي، چې بهرنۍ د افغانستان د مدافع وکیلانو د قانون د ۶ مادې په اساس د ذکر شویو شرطونو سربیره د حقوقو یا شرعیاتو پوهنځی څخه هم فارغ وي چې پدې صورت کې د لازمې حقوقي پوهې څخه هم برخمن وي، خو د هیواد تابعیت نلري. بناً پدې حالت کې ممکن د ځینو شرایطو لاندې بهرنیانو ته د مدافع وکالت دندې د اشتغال حق ورکړل شي. لکه چې دا امر د نړۍ په ځینو هیوادونو کې هم معمول دی. د مثال په ډول که چیرې د امریکا متحده ایالتونو کې یو بهرنۍ د حقوقو پوهنځۍ څخه فارغ وي دا ډول افراد د امریکائي افرادو په شان د مدافع وکیلانو Bar Association د ازموینې د تیرولو څخه وروسته کولای شي د امریکا متحده ایالتونو په ځینو ایالتونو کې د مدافع وکالت دنده ترسره کړي او دهماغه حقوقو او وجایبو څخه برخمن شي، چې امریکایان ئې لري.(۵۵ : ۱۵۲)

**۸- د رایې ورکولو(انتخابولو) حق**

څرنګه چې د انتخابولو حق د افغانستان په سیاسي نظام او سیاسي مصلحتونو پورې په مستقیم ډول تړاو لري، چې لدې طریقه د افغانستان اتباع جمهور ریس، د ملي شورا غړي، د ولایتي شورا غړي او داسې نور انتخابوي، نو بهرني اتباع د دې حق څخه محروم دي. بنا پردې ذکر شوی حق د افغاني اتباعو د انحصاري اساسي حقوقو له جملې څخه ګڼل کیږي، چې د اساسي قانون په ۳۳ ماده کې دا ډول بیان شویدی (( د افغانستان اتباع د انتخابولو او انتخابیدو حق لري)) همدارنګه د افغانستان د انتخاباتو قانون ۵ ماده هم د رایه ورکوونکو د شرایطو څخه د افغاني تابعیت لرل یو عمده شرط بولي نو ویلی شو ، چې په هیواد کې مقیم بهرنیان هیڅکله او په هیڅ وجه نشي کولای چې د رایه ورکوونکو په حیث په ټاکنو کې ګډون وکړي، ځکه د رائې ورکونې حق د افغاني اتباعو د انحصاري او ځانګړو حقوقو د جملې څخه دی. دا چې بهرنیان په افغانستان کې د سیاسي حقوقو څخه محروم دي خو د دوی نوموړی محدودیت او محرومیت یې په خپلو متبوع هیوادونو کې د دوی سیاسي حقوقو ته زیان نه رسوي یعنی په خپلو هیوادونو کې د دوی د سیاسي حقوقو د حرمان موجب نه ګرځي. په همدې ترتیب سره هغوی

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

کولای شي چې په هغه طریقه چې د محل اقامت هیواد ملي حاکمیت ته مزاحمت او اخلال وارد نکړي نو د خپلو هیوادونو په سفارتونو او قونسلګریو کې د حضور له لارې د رایې ورکونې عمل ترسره کولی شي.(۵۵ : ۱۴۵)

## ۹- د اعتصابونو او مظاهرو حق

په ننني متمدنو ټولنو کې خلک حق لري، چې د خپلو حقوقو د حصول یا د ملي او صنفي منافعو څخه د دفاع په منظور مظاهرې او اعتصابونه ترسره کړي، یعنی د ټولنو، مظاهرو او اعتصابونو حق د بشر د اساسي حقوقو او په افغانستان کې د افغاني اتباعو د انحصاري اساسي حقوقو له جملې څخه دی ، یعنی بهرنیان نشي کولای چې اعتصابونه او مظاهرات ترسره کړي، چې پدې مورد د اساسي قانون ۳۶ ماده دا ډول صراحت لري (( د افغانستان اتباع حق لري چې د روا او سوله ییزو غوښتنو د تامین لپاره له قانون سره سم بې وسلې غونډې او مظاهرې وکړي))

## ۱۰- د سیاسي ګوندونو د تاسیس حق

د افغانستان د اساسي قانون په اساس یواځې افغاني اتباع د سیاسي ګوندونو د تاسیس او تشکیل حق لري، چې پدې مورد د اساسي قانون ۳۵ ماده دا ډول صراحت لري (( د افغانستان اتباع حق لري د قانون له حکمونو سره سم، سیاسي ګوندونه جوړ کړي، په دې شرط چې: (۱) د ګوند مرامنامه او اساسنامه د اسلام د سپیڅلي دین د احکامو او په دې اساسي قانون کې د راغلو نصوصو او ارزښتونو مخالف نه وي. (۲) د ګوند تشکیلات او مالي منابع څرګند وي. (۳) نظامي او نظامي ډوله تشکیلات او هدفونه ونه لري. (۴) له بهرنیو سیاسي ګوندونو یا نورو بهرنیو منابعو سره تړلي نه وي، د قوم، سیمې، ژبې او فقهي مذهب پر بنسټ د ګوند جوړول او فعالیت کول، جواز نه لري. هغه جمعیت او ګوند چې د قانون له حکمونو سره سم جوړیږي د قانوني موجباتو او با صلاحیته محکمې له حکمه پرته نه منحل کیږي))

**دوهم جز – هغه اساسي حقوق چې بهرنيان ورڅخه برخمن دي**

اساسي حقوق دوه ډوله قواعد لري، لومړۍ ډول هغه قواعد دي چې د درې ګونو قواو په جوړښت پورې مربوط وي او دوهم ډول هغه قواعد دي، چې د تبعه او غير تبعه په اساسي حقوقو او ازاديو پورې مربوط وي، چې د دوهم ډول قواعدو د لومړۍ نوعې څخه مو مخکې يادونه وکړه او دوهم نوعه حقوق چې انسانان يې د ژبې، مليت، تابعيت او نژاد په نظر کې نيولو پرته يې لري. يعنی غير افغاني اتباع هم د انسانيت په اساس د دغه حقوقو څخه برخمن کيږي چې دغه حقوق عبارت دي له:

**۱- د ژوند حق**

د ژوند حق د انسان د اساسي ترينو حقوقو د جملې څخه ګڼل کيږي په همدې ډول د ژوند حق د انسانانو د لومړنيو فطري او طبيعي حقوقو د جملې څخه دی، ځکه د بشر ټول حقوق او آزادی ګانې په هغه انسان پورې تړاو لري، چې د ژوند په حالت کې وي له همدې لحاظه د ژوند حق د نورو انساني حقوقو مصدر او منبع ده.

د اساسي قانون مطابق ژوند يو الهي موهبت دی، چې انسان ته ورکړل شويدی همدارنګه د ژوند حق د فطری يا ذاتي حقوقو د جملې څخه بولي، چې د انسان د پيدايښت سره سم د هغې سره مل او د اساسي او اصلي حقوقو د جملې څخه دی. د اساسي قانون د حکمونو مطابق بهرني اتباع هم په افغانستان کې د داخلي اتباعو په شان د ژوند حق څخه برخمن دي، بناً هيڅوک نشي کولای چې د قانوني تجويز څخه پرته بل څوک د دغه حق څخه محروم کړي، چې د اساسي قانون ۲۳ ماده پدې هکله دا ډول صراحت لري ((ژوند د خدای(ج) بخښنه او د انسان طبيعي دی، هيڅوک له قانوني مجوزه پرته له دې حقه بې برخې کيدای نشي))

د اسلام په مبارک دين کې هم يوه مهمه مسله چې هغې ته زياته توجه او په هغې باندې تاکيد شويدی د ژوند حق او د هغې سلب کول دي په غير شرعي ډول، يعنی هر څوک چې بل انسان په غير حق سره ووژني که هغه سړی وي يا ښځه، ماشوم وي يا لوی، تور پوستی وي يا سپين پوستی، فقير وي يا غني، مسلمان وي يا غير مسلمان داسې ده لکه چې ټول خلک يې وژلي وي، پدې ترتيب سره د اسلام مبارک دين د ټولنې د افرادو يا په مجموع کې د ټولو انسانانو ژوند د جنس، نژاد، سن او

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

مذهب په نظر کې نیولو پرته محترم او د فوق العاده ارزښت وړ بولي او هغې ته په خاص احترام قایل دی. لکه چې د قرانکریم د الاسرا سورة په ۳۳ آیت شریف کې راغلي دي [illegible]

[illegible]. همدارنګه د نساء سورة په ۹۳ آیت شریف کې د عمد قتل په مورد فرمایې [illegible]

[illegible]. او همدارنګه د نساء سورة کې د خطا قتل په مورد فرمایې [illegible]

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

بناً ځرنګه چې ژوند یو الهي نعمت دی او هیڅ فرد یا دولت نشي کولای چې دغه حق د قانوني او شرعي مجوز څخه پرته د انسان څخه سلب کړي یا دا چې هغې ته صدمه ورسوي حتی شخص هم په مطلق ډول د دې اختیار او ملکیت نلري. په همدې ترتیب سره که چیرې یو څوک د مسلمان څخه پرته بل څوک په قتل ورسولو، پداسې حال کې چې نوموړی شخص ذمي یا مستامن وي نو د مسلمان او د هغه به قتل کې هیڅ ډول تفاوت شتون نلري، ځکه انسان په مجموع کې مکرم ګڼل کیږي، چې لدې لحاظه د مسلمان او غیر مسلمان تر منځ توپیر شتون نلري.[۱۰: ۲۱۵] یعنی د اسلام مبارک دین د احکامو له نظره د قتل د وقوع یا ارتکاب په صورت کې د مسلمان او غیر مسلمان ترمنځ توپیر شتون نلري، که چیرې مسلمان یو ذمي یا مستامن په قتل ورسوي د هغې په وړاندې مسول بلل شویدی او قصاص یې واجب دی او که چیرې ذمي یا مستامن یو مسلمان ووژني بیا هم مرتکب مسول او دهغې قصاص واجب بلل کیږي، غیر مسلمان د حربي کافر پرته چې اسلامي هیوادونو ته سفر کوي، پناه اخلي ، یا د نورو دولتونو استازی وي د ژوند حق یې مصون بلل شوی دی.[۱۰: ۲۱۸] او همدارنګه د امام ابوحنیفه (رح) صاحبینو او ابن لیلی په اند هم مسلمان د ذمي په مقابل کې قصاص کیږي، ځکه هغه نصوص چې د قصاص په مورد په کتاب الله او سنت نبوي کې راغلي دي عمومیت لري.[۵۵ : ۹۶] د امام مالک(رح) په نظر هم که چیرې یو مسلمان کس ذمي په قتل ورسوي نو مسلمان د هغې په مقابل کې وژل کیږي. د مثال په ډول ابانت بن عثمان چې د مدینې منورې د فقهاو څخه وو، هغه وخت چې په مدینه منوره کې امیر وو د نوموړي د امارت په وخت کې یو مسلمان یو قطبي په قتل رسولی وو، نو مسلمان شخص یې قصاص کړ.[۵۴ : ۴۴۰]

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

په همدې ترتیب سره په نړیوالو اسنادو کې هم د ژوند کولو په حق باندې تاکید شویدی لکه، چې دبشر حقوقو نړیوالې اعلامیې له مخې هر انسان حق لري چې په ازادی او خوندیتوب کې ژوند وکړي لکه چې پدې مورد د ذکر شوي اعلامیې ۳ ماده دا ډول صراحت لري((هر څوک د ژوند، آزادی او شخصي امنیت حق لري)) او د بشر حقوقو نړیوالې اسلامي اعلامیې له مخې هم ژوند هغه نعمت دی، چې د خدای(ج) خپلو بنده گانو ته ورکړی دی او ژوند هغه حق دی، چې د هر انسان لپاره تضمین شویدی له همدې کبله لازمه ښکاري چې ټول وګړي، ټولنې او حکمتونه له دغه حق څخه ملاتړ وکړي او د ټولو هغو پیښو او تیریو په وړاندې چې، د انسانانو ژوند د خطر سره مخامخ کوي مقاومت وکړي، چې پدې مورد د نوموړي اعلامیې ۲ ماده دا ډول صراحت لري ((ژوند یوه الهي ډالۍ او هغه حق دی، چې هر انسان ته تضمین شویدی او په ټولو وګړو، ټولنو او حکمتونو واجب دي چې، د دغه حق څخه ملاتړ وکړي او د هغه په وړاندې د هر تیري مخنیوی وکړي او د شرعي مجوز پرته د هیچا وژنه روا نه ده)) همدارنګه د مدنی او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق ۹ ماده ۱ فقره هم د ژوند حق د حمایت په مورد دا ډول حکم کوي ((هر څوک د ازادی او شخصي امنیت حق لري. هیڅوک نشو کولای چې په خپل سر پرته له کوم دلیل بندي کړو له هیچا څخه نشو کولای د ازادی حق سلب، مګر د قانون او عدالت له مخې دا کار ترسره کیدای شي)).

**۲ـ د آزادی او انساني کرامت حق**

آزادي یو اصل دی، چې ټول بشر ورڅخه د مساوي ګټه اخیستنې حق لري خو د دې حق څخه استفاده د یو سلسله شرایطو تابع ده، چې د دغه قیوداتو او محدودیتونو هدف د کوم شخص په ګټه نه بلکې د نورو خلکو د حقوقو او آزادیو رعایت او په ټولنه کې د امن او نظم تامین دی. لکه چې د اساسي قانون ۲۴ ماده پدې مورد دا ډول صراحت لري (( آزادي د انسان طبیعي حق دی. دا حق د نورو له آزادئ او له عامه مصالحو پرته چې د قانون له لیارې تنظیمیږ.ي حدود نه لري. د انسان آزادي او کرامت له تیري خوندي دی. دولت د انسان د آزادی او کرامت په ساتنه او درناوي مکلف دی )) د اساسي قانون د پورته ذکر شوي مادې د حکم مطابق آزادي د طبیعي حقوقو د جملې څخه ګڼل شویده چې د تعرض څخه مصونیت لري، خو دا حق ځینې محدودیتونه او قیودات هم لري، چې یو د هغې محدودیتونو څخه د نورو

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

حقوق او آزادی دي يعنی هر کله چې د آزادی څخه استفاده او ګټه اخيستنه د نورو خلکو د حقوقو او آزاديو د اخلال سبب شي او هغې ته صدمه ورسوي، نو قانون د شخص آزادي محدودوي. په همدې ترتيب سره د نورو نافذه قوانينو له نظر هم ازادي د انسان طبيعي حق دی او هيڅوک نشي کولای چې د هغې څخه تنازل وکړي(د مدنی قانون ۴۴ ماده)

همدارنګه انساني کرامت يو مستقل او مطلق حق دی يعنی انسانان ټول آزاد او د انسانيت له پلوه سره مساوي او د يو ډول حقوقو او عزت درلودونکي دي او ټول انساني کرامت لري، ټول انسانان د عقل او وجدان درلودونکي دي، ټول انسانان بايد يو له بل سره مهربانه اوسي او په مهربانۍ يو له بل سره چلند وکړي او زور زياتی او تاوتريخوالی ونه کاروي، چې پدې مورد د بشر حقوقو نړيوالې اعلامې د ۱ ماده دا ډول صراحت لري ((ټول انسانان آزادی نړۍ ته راځي او د حقوقو او حيثيت له پلوه سره برابر دي. ټول د عقل او وجدان درلودونکي دي او بايد يو له بل سره د ورور ګلوۍ په روحيه چلند وکړي)) همدارنګه د بشر حقوقو اسلامي اعلاميې د ۱۱ مادې ۱ فقرې له مخې هم انسان ازادی زيږيدلی او نړۍ ته راغلی دی او هيڅوک د هغې د مريې کولو حق نلري ، چې پدې ترتيب سره دولت د هغې په حفظ او ساتنه باندې مکلف دی. يعنی انسان د انسانيت په اساس او د هغې شرافت او کرامت ته د احترام پر الزام سره د هر ډول توهين او تحقير څخه چې د هغې حيثيت ته ضرر ورسوي مصون دی، بهرني اتباع هم په همدې دليل او د مليت، ژبې، رنګ، ټولنيزې طبقې، تابعيت او محل اقامت په نظر کې نيولو پرته د دغه امر څخه مستثنی نه دي .(۳ : ۲۲۲) په بل عبارت بهرنی پدې دليل چې انسان دی بايد د هر ډول اهانت څخه چې د هغې حيثيت او عزت ته صدمه ورسوي مصون دی او هيڅوک نشي کولای پدې خاطر بهرنيان د تعرض لاندې راولي، چې د بل نژاد، ژبې، مذهب او نورو څخه دی يا دا چې د بهرنيانو سره د هغې د متبوع دولت چلند په نړيواله کچه نامطلوب وي او د دې پشان نور ...

د بهرنيانو هتک حرمت د داخلي اتباعو پشان اګر که د قانوني دلايلو لکه د جرم په اساس هم وي ممنوع دی. څه ډول چې ليدل کيږي د اساسي قانون د ۲۴ مادې مخاطبين ټول انسانان دي پرته د نژاد، ژبې، قوم، او نورو تعلقاتو په نظر کې نيولو

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

سره، بنا پردې د دغه مادې د محتویاتو څخه استنباط کیږي چې ټول انسانان که نر وی یا ښځه، ځوان وي یا زوړ، د هیواد تبعه وي یا بهرنی د عزت او حیثیت او انساني کرامت له حیثه یو ډول دي او د دوی انساني کرامت او حیثیت د قانون په واسطه د حمایت لاندې نیول کیږي پرته لدې، چې شخص افغاني تبعه ده یا بهرنۍ د قانون پر وړاندې محترم او د احترام وړ دي.

د اسلام له نظره هم لکه څه ډول چې د مسلمانانو د حیثیت، ابرو، عزت او شرافت څخه حمایت کوي همدا ډول د غیر مسلمانو د آبرو او حیثیت څخه هم حمایت کوي. د اسلام مقدس دین هیڅا ته اجازه نه ده ورکړې چې د خپل هیواد غیر مسلمانو بهرنیو اتباعو ته توهین او بد ووایې او یا دهغوی څخه په پټه غیبت او بد ووایې. د اسلام مبارک دین همدارنګه مسلمانان د هغه مواردو د ذکر څخه چې د هغوی د زوریدو او نا راحتی سبب کیږي د شخصي مسایلو څخه نیولي تر قیافې او شکل او اخلاقو او نورو مربوطو مسایلو پورې منع راوړي ده. بنا پردې څه ډول چې لیدل کیږي بهرني افراد هم هماغه د داخلي اتباعو پشان د مساوي انساني کرامت او آزادی څخه برخمن دي او پدې مورد نباید چې د داخلي او بهرنیو اتباعو تر منځ په تفاوت قایل شو ، چې دغه موضوع په داخلي قوانینو او نړیوالو معتبرو اسنادو کې ذکر شوي ده. د ۱۹۵۱ کال د پناه وړونکو په وضعیت پورې د مربوط کنوانسیون ۳ ماده او د ۱۹۸۵ کال د بهرنیانو په مورد د ملګرو ملتونو اعلامیې ۲ ماده کې هم د بهرنیانو په حیثیت او انساني کرامت باندې تاکید شویدی او د ټول بشر لپاره پرته لدې چې د هیواد تبعه ده یا بهرنی په مساوي انساني کرامت قایل دی.(۵۵ : ۸۹)

**۳- د مذهبي مراسمو د اجرا کولو حق**

یو د بهرنیانو د حقوقو څخه په محل اقامت یا میزبان هیواد کې د مذهبي مراسمو د اجرا کولو حق دی، د اساسي قانون ۲ ماده پدې مورد دا ډول صراحت لري(( د افغانستان اسلامي جمهوري دولت دین، د اسلام سپیڅلی دین دی. د نورو ادیانو پیروان د خپل دین په پیروۍ او د خپلو دیني مراسمو په اجرا کولو کې د قانون د حکمونو په حدودو کې آزاد دي))چې د دغه حق اساس زمونږ په هیواد کې هم اسلامي ارشادات او لارښووني دي او د دغه آزادی منشا د دیني او تعبدي عقیدې آزادي ده، د هر دین پیرو پخپل دین کې ازاد دی، پدې ځای کې د داخلي او بهرني

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

غیر مسلمان په رابطه هیڅ ډول فشار شتون نلري، خو هغه څه چې د مسلمانانو یو هیواد یې د غیر مسلمان خارجي څخه غواړي دا دي، چې د مسلمانانو دني شعایر رعایت کړي او د محل اقامت هیواد دین په نظر کې ونیسي او خپل دیني شعایر د میزبان دولت دعرف او عنعناتو پر خلاف ترسره نکړي. پردې ملحوظ د اسلام مبارک دین د دستورونو سره سم که اهل کتاب په اسلامي هیواد کې ژوند کوي، نو کولای شي چې په آزادنه ډول خپل عبادات ترسره کړي او د ځان لپاره معابد ولري او مسلمانان نشي کولای چې د هغوی د عبادت مخه ونیسي. د اسلامي تاریخ کې له مخې هغه وخت چې د نجران مسیحانو نماینده ګان مسجد نبوي ته د حضور(ص) لیدو ته راغلل، نو مخکې لدې چې مذاکره شروع کړي ویې ویل، چې دهغوی د عبادت وخت رارسیدلی دی پیغمبر(ص) هم اجازه ورکړه تر څو خپل عبادت په مسجد کې ترسره کړي پداسې حال کې چې مخ په شرق ولاړ وو خپل لمونځونه یې وکړل. بنا پردې عبادات د هر دین د ضروریاتو څخه دي او نشو کولای ووایو، چې اسلام اهل کتابو ته د سکونت اجازه ورکړي خو د عبادت ترسره کولو یا د عبادت ځای اجازه یې نه ده ورکړي .(۵۵ : ۹۲،۹۱)

**۴- د مخابراتو او مراسلاتو د محرمیت حق**

د فردي حقوقو د جملې څخه یو هم د مخابراتو او مراسلاتو د محرمیت او مصونیت حق دی، چې هیڅوک په شمول د دولت نشي کولای چې دغه حق او آزادي محدود کړي او پدې ترتیب سره بهرنیان هم د مخابراتو او مراسلاتو د محرمیت حق لري د اساسي قانون د ۳۷ مادې له مخې ((د اشخاصو د مخابرې او لیکونو آزادي او محرمیت که په لیکلي ډول وي یا د ټیلیفون او تلګراف یا نورو وسیلو له لارې، له تیري څخه خوندي دي. دولت د اشخاصو د مخابرو او لیکونو د پلټنې حق نه لري مګر د قانون له حکمونو سره سم)) د پورته ذکر شوي مادې له مخې د اشخاصو د مخابراتو او مراسلاتو مصونیت او خوندیتوب تضمین شویدی، خو پدې مورد یوه استثنا چې په نوموړي ماده کې ذکر شویده د قانون حکم دی، چې هغه د مخابراتو او مراسلاتو د کنترول او تفتیش اجازه ورکوي یعنی جزایې قوانین او په ځانګړي ډول شکلي جزایې قوانین دولت ته د دې اجازه ورکوي، چې د جرم د وقوع په صورت کې د متهمینو د نیولو او کشفولو لپاره کولای شي د دې حق څخه استفاده وکړي، خو هغه څه چې پدې ځای کې مهم دی چې باید پدې ډول خاصو مواردو

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

کې نوموړي استثنا په محدود او دقیق شکل سره تطبیق شي، چې لدې پرته به د خلکو حقوق او آزادۍ د پوښتنې لاندې راشي.[۱۰:۳۷۰] د قانون د حکم پرته یوه بله استثنا هم پدې مورد شتون لري او هغه هم  د اضطرار حالت د اعلام په صورت کې چې د مخابراتو او مراسلاتو د محرمیت او مصونیت حق معطل کیږي، چې پدې مورد د اساسي قانون ۱۴۵ ماده دا ډول صراحت لري ((په اضطراري حالت کې جمهور ریس کولای شي چې د ملي شورى او د سترې محکمې د ریسانو تر تایید وروسته د اساسي قانون لاندیني حکمونه وځنډوي او یا قیود پرې ولګوي: (۳) د اوه دیرشمې مادې دویمه فقره)) همدارنګه د په نړیوالو قواعدو کې هم د مخابراتو او مراسلاتو د محرمیت په حق باندې تاکید شویدی یعنی هر انسان حق لري تر څو د هغه محرمیت وساتل شي، دهغه کورنۍ، د اجازې پرته د هغه کورته ننوتل او د انسان د لیکونه له تیري څخه باید وژغورل شي او د هر انسان ابرو او حیثیت دې خوندي کړل شي لکه چې د بشر حقوقو نړیوالې اعلامیې په ۱۲ ماده کې پدې هکله دا ډول بیان شویدی ((هیڅوک د چا په محرمیت ، کورنۍ یا لیکونو کې دخپلسري مداخلې حق نلري او نه یې پر نوم او حیثیت تعرض کیدای شي، هر څوک د دې ډول حملو یا مداخلې په وړاندې د قانوني ملاتړ حق لري)) همدارنګه د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق په ۱۷ ماده کې هم د مخابراتو او مراسلاتو په محرمیت او مصونیت باندې پدې ډول تاکید شویدی ((۱- هیچاته باید له قانون پرته په خپل سر د هغه په لیکونو، د استوګنې د ځای د هغه د کورنۍ او خصوصي ژوند په برخه کې د لاس وهنو اجازه ورنه کړل شي او  همدارنګه د هغې شرافت او حیثیت دې په ناقانوني توګه تر تیري لاندې نه نیول کیږي. ۲- هر څوک حق لري که چیرې د داسې لاس وهنو سره مخامخ شي باید له قانوني حمایت څخه برخمن شي)).

### ۵- په مال باندې د تعرض څخه د مصؤنیت حق

ملک هغه څه ته وایې چې د انسان په تصرف او قبضه کې وي[۵۲: ۹۸۸] د ملکیت حق د هغه موضوعاتو له جملې څخه ده، چې په مخلتفو وختونو کې د فلیسوفانو او پوهانو د بحث او خبرو اترو لاندې یې قرار درلود، چې پدې مورد مختلف اقتصادي مکتبونه هم رامنځته شول. د طبیعي او بشري حقوقو د مفکورې د رامنځته کیدو څخه وروسته په ۱۶ میلادي پیړۍ کې دهغې رشد او انکشاف او د

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

حقوقو د اعلامیو په خپریدو سره د شخصي ملکیت حق هم د نورو عمومي حقوقو او آزادیو تر څنگ مقدس او غیر قابل تعرض وبلل شو.(۱۰: ۳۹۰) د بهرنیانو د اموالو د حمایت په مورد د لومړۍ نړیوالې جګړې څخه مخکې ظاهراً په نورو هیوادونو کې د استعماري (مستعمراتي) هیوادونو د نفوذ په مناسبت او نظر دې ته چې اساساً د بهرنیانو څخه د مالکیت د سلب موارد ډیر کم مطرح وو، خو پدې اړه د توافق وړ اصل دا وو چې د یو دولت له لورې د بهرني د خلع ملکیت په صورت کې هغه دولت په فوري ډول په کافي اندازه د جبران خسارې په ورکړه مکلف وو. د نړیوالو قواعدو په اساس هم د ملکیت په حق باندې تاکید شوی یعنی هر انسان حق لري، چې په ځانګړي توګه او یا د نورو سره په ګډه ملکیت او شتمني ولري او هیڅوک باید په زور سره د مالکیت د لرلو د حق څخه محروم نشي، چې پدې مورد د بشر حقوقو نړیوالې اعلامیې ۱۷ ماده دا ډول صراحت لري ((۱- هر څوک د ځانګړي او یا ګډ ملکیت لرلو حق لري. ۲- هیڅوک د ملکیت درلودلو حق څخه محروم کولای نشو)).

د اسلام په حقوقي نظام کې هم د بهرنیو غیر مسلمانو اشخاصو ځاني او مالي مصونیت پیژندل شویدی او یو د افرادو د ټولنیزو حقوقو څخه د بهرنیانو د ځان، مال، او حیثیت د امنیت حق دی او د ذمیانو په مورد ټول په هغوی باندې د تعرض په حرمت باندې معتقد دي. نوموړی قانوني حمایت یوازې په منقولو او غیر منقولو اموالو پورې محدود او منحصر نه پاتې کیږي بلکې د پناه وړونکي صنعتي او معنوي مالکیت ته هم شاملیږي، چې پدې مورد د پناه وړونکو په وضعیت پورې د اړوند کنوانسیون ۱۴ ماده دا ډول صراحت لري((په هغه هیواد کې چې پناه وړونکی پکې استوګنه لري، د پناه وړونکي له صنعتي مالکیت څخه د ملاتړ په هکله په خاصه توګه له اختراع ګانو، طرحو او مدلونو، سوداګریزو نښو او سوداګریزو نومونوڅخه ملاتړ او همدارنګه د پناه وړونکی له ادبي، هنري او علمي مالکیت څخه ملاتړ به د هغه ملاتړ وړ وګرځي چې د نوموړي هیواد له اتباعو څخه صورت مومي. پناه وړونکی به د بل هر ژمن دولت په خاوره کې له هغه ملاتړ څخه برخمن شي چې په هغې خاورې کې د هغه هیواد له اتباعو سره چې پناه وړونکی پکې استوګنه لري، عملي کیږي)). همدارنګه د بهرنیانو په مورد د ملګرو ملتونو د ۱۹۸۵ کال اعلامیې له مخې هم هیڅ تبعه له معقولو دلایلو پرته

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

په خودسرانه ډول د ملکیت د حق څخه، چې په قانوني ډول یې لاسته راوړی وي، نه محرومیږي.

**۶ـ په اوسیدنځای(مسکن) باندې د تعرض څخه مصونیت**

مسکن یا د اوسیدلو ځای هغه محل دی، چې شخص په هغه کې د ژوند د آرامۍ احساس کوي او په هغه حریم کې د عمل آزادۍ څخه برخمن وي او د هر ډول تعرض، تجسس او دخالت پرته په هغه محل کې خپل ځان امن احساس کړي.[۱۰: ۳۷۳] د مسکن د مصونیت حق په اسلامي شریعت، ملي قوانینو او نړیوالو قواعدو کې په رسمیت پیژندل شوی دی. د اسلام مبارک دین د مسکن مصونیت محترم ګڼلی او هیچا ته حق نه ورکوي، چې د کور د خاوند له اجازې پرته د بل چا کور ته داخل شي، د مسکن د حریم پر اهمیت باندې د قرانکریم په سورة نور تاکید شویدی ③♦➔♋➔⮉▤⬈☠⬉ ✂✍✏✦ 📖❒♌
✍•➔⬉❑⑩←❒✂☎ ◉☜♋☺♋✞⬃✂♐📖♋◷▦
📖❒📭♦⑨◈✂ ◑♐♌ 🖃⬈☪⬇⬈☹ 👌⑩•⬃👌♋☪♋✓▫🙵
❒◆③⬉⌨♦✓♓♐×← ✂✍✏✦ ◉☜•▤⬈☠⬉ ⮉⮋⚬⮊
✂✍✏✦◆❒ 🗐 ♋💣🕛♦③☞⌧✍✂ ⬋♦🖬♐⑩⚐⬋
❍⌧▤⬂⑩⚐⬋ ⮉⮋♋⮊ همدارنګه پیغمبر[ص] فرمایلي دي، چې شخص باید درې ځلې سلام ووایې او د داخلیدو اجازه واخلي او که بیا یې هم اجازه ترلاسه نکړه بیرته دې ولاړ شي .[۱۰: ۳۷۶]

همدارنګه د افغانستان اساسي قانون ۳۸ ماده پدې هکله دا ډول صراحت لري ((د شخص استوګنځی له تیري څخه خوندي دی. هیڅوک د دولت په ګډون نشي کولای د استوګن له اجازې یا د واکمنې محکمې له قراره پرته او بې له هغو حالاتو او لارو چې په قانون کې ښوول شوي، د چا کور ته ور ننوزي یا یې وپلټي)) څه ډول چې لیدل کیږي د اساسي قانون د حکمونو مطابق د اشخاصو د اوسیدلو ځای په عمومي ډول پرته لدې چې د افغانستان تبعه دی، یا بهرنی د هر ډول تعرض څخه مصون دی او هیڅوک نشي کولای چې د کور خاوند د اجازې پرته اوسیدنځای ته داخل شي او دهغې تلاشۍ یا پلټنې ته اقدام وکړي، چې دغه مصونیت د بهرنیانو په مورد هم صدق کوي. بنا پردې بهرنیا هم د داخلي اتباعو پشان کولای شي د قوانینو

د رعایت کولو په صورت کې پخپل اوسیدنځای کې د کافي آرامۍ او اطمینان څخه برخمن شي او امنیتي مامورین هم نشي کولای، چې د قانوني مجوز پرته د بهرنیانو کورونو ته داخل او د هغې تفتیش او تجسس وکړي او هغه څوک چې د نورو خلکو د اوسیدنځای احترام رعایت نکړي او له اجازې پرته هغې ته داخل شي د جرم مرتکب او د عدلي تعقیب وړ دی.(۵۵ : ۹۴)

په همدې ترتیب سره د مسکن په مصونیت باندې په نړیوالو اسنادو او قواعدو کې هم تاکید شویدی، یعنی هر انسان حق لري تر څو د هغه محرمیت وساتل شي، دهغه کورنۍ، د اجازې پرته د هغه کورته ننوتل او د انسان د لیکونه له تیري څخه باید وژغورل شي او د هر انسان ابرو او حیثیت دې خوندي کړل شي لکه چې پدې مورد د بشر حقوقو نړیوالې اعلامیې ۱۲ ماده دا ډول صراحت لري ((هیڅوک د چا په محرمیت، کورنۍ یا لیکونو کې دخپلسري مداخلې حق نلري او نه یې پر نوم او حیثیت تعرض کیدای شي، هر څوک د دې ډول حملو یا مداخلې په وړاندې د قانوني ملاتړ حق لري)) یعنی د هر انسان استوګنځی د لاس وهنې او تیري څخه په امن کې دی او هیڅوک حق نلري د چا کورنی بې حرمته کړي او هیڅوک دا حق نلري چې د کور د اوسیدونکو د اجازې پرته یا په ناجایزه توګه د چا کور ته داخل شي یا د چا کور ویجاړ او اوسیدونکي یې بې ځایه کړي ، چې پدې مورد د بشر حقوقو نړیوالې اسلامي اعلامیې ۱۸ ماده دا ډول حکم کوي ((۱- هر انسان حق لري چې د خپل ځان، دین ، کورنۍ، شتمنی او ناموس له پلوه په سوکالۍ کې ژوند وکړي. ۲- هر انسان حق لري چې په خپل خصوصي ژوند، کور، کورنۍ، مال او اړیکو کې خپلواکي ولري، پر هغه باندې څارنه جاسوسي او د هغه حیثیت او عزت ته سپکاوی روا نه دی، د دغه ډول زور زیاتیو په وړاندې باید له هغه څخه حمایت وشي. ۳- استوګنځی په هر حالت کې حرمت لري او د اوسیدونکو د اجازې پرته یا په ناجایزه توګه هیڅوک باید هغې ورننوزي او هغه ویجاړ نکړي او اوسیدونکي یې بې ځایه نه کړي)) او په همدې ترتیب سره د مدني اوسیاسي حقوقو نړیوال میثاق ۱۷ ماده هم د مسکن د حرمت او مصونیت په مورد دا ډول صراحت لري ((۱- هیچاته باید له قانون پرته په خپل سر د هغه په لیکونو، د استوګنې د ځای د هغه د کورنۍ او خصوصي ژوند په برخه کې د لاس وهنو اجازه ورنه کړل شي او همدارنګه د هغې شرافت او حیثیت دې په ناقانوني توګه

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

تر تيري لاندې نه نيول کيږي. ۲- هر څوک حق لري که چيرې د داسې لاس وهنو سره مخامخ شي بايد له قانوني حمايت څخه برخمن شي)).

## دوهم پراګراف

## د جزا حقوقو په ساحه کې د بهرنيانو حقوق او وجايب

د جزا حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو مجموعه ده، چې د جرم، مجرم او مجازاتو څخه بحث کوي. د جزا حقوقو په برخه کې يوائې د عمومي حقوقو يا حکومت پر ضد جرايمو څخه بحث نه کيږي بلکې د اشخاصو او اموالو پر ضد جرايمو څخه هم بحث کوي يعنی د هغې زيات شمير قواعد د يو او بل پر وړاندې د افرادو د خصوصي حقوقو څخه حمايت کوي لکه سرقت، فريبکاري او داسې نور ...

که څه هم په زياتره مواردو کې د مجرم محاکمه د مجنی عليه په ګټه پای ته رسيږي خو د دا ډول محاکمې اصلي هدف د عمومي نظم او امنيت ساتل دي. بهرني اتباع د جزا حقوقو په برخه کې هم د يو سلسله حقوقو، امتيازاتو او وجايبو څخه برخمن دي، چې د هغې حقوق او وجايب په ترتيب سره په لاندې ډول د مطالعې لاندې نيسو.

### لومړی جز – د جزا حقوقو په ساحه کې د بهرنيانو حقوق

د جزا حقوقو په ساحه کې بهرنيان د يو سلسله حقوقو څخه برخمن دي چې په لاندې ډول ورڅخه يادونه کوو:

### ۱- د برئ الذمه پيژندلو حق

برئ الذمه هغه حالت دی، چې يو شخص جزايي او مدني مسوليت نلري، نوموړی حالت اصلي حالت هم نومول کيږي.(۵۷ : ۳۱) برئ الذمه اصلي حالت دی، چې د افغانستان د اتباعو او بهرنيانو په مورد يو ډول تطبيق کيږي. نو پدې اساس بهرنيان په اصل کې بې ګناه بلل کيږي مګر دا چې د محکمې په قطعي حکم محکوم عليه وپيژندل شي. د اساسي قانون ۲۵ ماده پدې مورد دا ډول صراحت لري ((د ذمې برائت اصلي حالت دی. تر هغې چې د با صلاحيته محکمې په قطعي حکم متهم

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

محکوم علیه ثابت نشي، بې ګناه ګڼل کیږي)) همدارنګه د اساسي قانون ۲۷ ماده هم پدې مورد اعلاموي چې ((هیڅ یو عمل جرم نه ګڼل کیږي خو د هغه قانون له مخې چې د جرم تر ارتکاب دمخه نافذ شوی وي. هیڅوک د قانون له حکمونو پرته تعقیبیدای، نیول کیدای او یا توقیفیدای نه شي. هیچا ته سزا نشي ورکول کیدای مګر، د باصلاحیته محکمې په حکم او د هغه قانون له احکامو سره سم چې د اتهام وړ فعل تر ارتکابه مخکې نافذ شوی وي)) د دې ترڅنګ د افغانستان د جزا قانون ۴ ماده هم پدې مورد دا ډول صراحت لري ((۱- برائت الذمه اصلي حالت دی. ترڅو چه متهم د صلاحیت لرونکي محکمې په قطعی حکم محکوم علیه واقع شوي نه وی، بي ګناه ګڼل کیږي)) او د جزائې اجراتو موقت قانون ۴ ماده هم پدې هکله دا ډول صراحت لري ((د جزائی دعوی د اقامه کولو له پیل څخه د جرمي مسؤلیت تر تثبیت پورې چې شخص د محکمې په وروستنی حکم محکوم علیه بلل کیږي بیګناه ګڼل کیږي)) په همدې ترتیب سره په نړیوالو اسنادو کې هم هر څوک حق لري تر څو یې چې جرم په منصفانه توګه په اثبات ونه رسیږي باید بې‌ګناه وپیژندل شي یعنی په هغه چا چې تور لګول شوی وي تر هغه چې جرم یا ګناه یې په یوه عادلانه محکمه کې ، چې د نوموړي د دفاع لپاره لازم او وړ شرایط هم موجود وي، ثابت نشي بې ګناه ګڼل کیږي. چې پدې مورد د بشر حقوقو نړیوالې اعلامیې ۱۱ مادې ۱ فقره کې دا ډول ذکر شویدی ((هر څوک چې په کوم جرم تورن شوی وي، حق لري چې تر هغه وخته پورې بې ګناه وګڼل شي تر څو چې یې جرم په داسې یوه ښکاره محکمه کې ثابت شوی نه وي، چې تورن په کې په د خپلې دفاع لپاره ټول ضروري او رسمي تضمینونه ولري)).

**۲- د جرایمو د شخصي والي پرنسیپ حق**

د جزا په حقوقو او قوانینو کې دا منل شوی اصل دی، چې مجازات یواځې د هغه اشخاصو په مورد اعمال کیږي چې د جرم مرتکب او هم د جزا ئي مسولیت لرونکی وي. د جرایمو د شخصي په پرنسیپ باندې په اسلامي شریعت، ملي قوانینو او نړیوالو قواعدو کې هم تاکید شوی دی. د اسلام مبارک دین د جرایمو د شخصي والي پرنسیپ منلی او د هغې څخه یې په زیاته اندازه یادونه کړیده لکه د قرانکریم د فاطر سورة کې یې د جرایمو د شخصي والي پرنسیپ په هکله دا ډول فرمایلي دي ❒◆•• ✍•❽⌘❻↓ ❒◆✁✃♋♐❻◆□⮘

او همدارنګه د قرانکريم په سورة فصلت کې هم د جرايمو د شخصي والي پرنسيپ منل شوی دی يعنی پدې مورد يې دا ډول فرمايلي دي

په همدې ترتيب سره د اساسي قانون ۲۶ ماده هم پدې مورد دا ډول صراحت لري ((جرم يو شخصي عمل دی. د متهم تعقيبول، نيول يا توقيفول او پر هغه باندې د جزا تطبيق بل هيچا ته سرايت نه کوي)) خه ډول چې ليدل کيږي د اسلامي شريعت او اساسي قانون د احکامو مطابق د بهرنيان هم د داخلي اتباعو پشان د جرايمو د شخصي والي د پرنيسپ څخه برخمن دي او هيڅ بهرنی د بل شخص يا بهرني د جرمي اعمالو په مقابل کې نه مجازات کيږي. همدارنګه د بشر حقوقو اسلامي اعلاميې له نظره هم مسوليت شخصي امر دی، هيڅوک نشي کيدای د هغه جرم له امله چې د هغې د دوستانو ، خپلوانو او ملګرو له خوا ترسره شوی وي، تر پوښتنې لاندې راشي او يا بندي او محکوم شي، چې پدې هکله د ذکر شوی اعلاميې ۱۹ ماده ۳ فقره دا ډول صراحت لري (( مسوليت اصل کې شخصي دی))

په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون www.ketabton.com

**۳- د شکنجې او انساني کرامت خلاف جزا د ټاکنې د منع حق**

د ژوند او جسمي تماميت حق د اتباعو د اساسي حقوقو د جملې څخه دی، چې دولت او ټولنه د هر ډول شکنجې، تغذيب او غير انساني چلند څخه د مخنيوي مکلفيت لري، چې په شکل د اشکالو د انسان مادي او معنوي شخصيت ته صدمه رسوي. دغه حق د ټولنې د ټولو افرادو لپاره د هر ډول قيد او شرط پرته قبول شويدی يعنی بهرنيان هم د داخلي اتباعو پشان د شکنجې د منع د حق څخه برخمن دي او د هغه حقوقو د جملې څخه ګڼل کيږي، چې د هغې سلب کول جواز نلري. د اساسي قانون ۲۹ ماده پدې مورد دا ډول صراحت لري ((د انسان تعذيب منع دی. هيڅوک نه شي کولای چې له بل شخص څخه حتی د حقايقو د ترلاسه کولو لپاره که څه هم تر تعقيب، نيونې يا توقيف لاندې وي او يا په جزا محکوم وي، د هغه د تعذيب لپاره اقدام وکړي يا يې د تعذيب امر ورکړي)) لکه څه ډول چې ليدل کيږي د پورته ذکر شوي مادې لومړي پراګراف په هر حالت کې د انسان تعذيب ممنوع ګرځوي او دوهم پراګراف يې د انساني کرامت د مخالفې جزا ټاکل ممنوع ګرځوي. په همدې ترتيب سره د جزا قانون د ۴ مادې له مخې هم د انساني کرامت د مخالفې جزا ټاکنه ممنوع ده ((۲- د هغه جزأ ټاکل چه دانساني کرامت په خلاف وي روا نه ده))

همدرانګه د نړيوالو قواعدو په اساس هم شکنجه او ربړونه منع دی، د بشر حقوقو نړيوالې اعلاميې ۵ ماده پدې مورد دا ډول صراحت لري ((هيڅوک نشي کولای چې بل څوک تر ربړونې، کړاو يا داسې چلند لاندې راولي، چې ظالمانه، د انسانيت خلاف او له سپکاوي څخه ډک وي)) او د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق ۷ ماده هم پدې باره کې دا ډول بيان کړيدی ((هيچا ته نشو کولای چې د زور زياتي، ځورونې يا د انساني کرامت خلاف د ظالمانه چلند له مخې هغه ته سزا ورکړو، په تيره بيا د يو چا څخه د روغتيايي ازميښتونو لپاره د هغه د خوښې نه پرته کار واخلو، دا کار په کلکه سره منع دی)).

**۴- د مدافع وکيل د لرلو حق**

هغه شخص چې د شک لاندې وي يا د هغې په وړاندې اتهام وارد شوی وي حق لري ، چې د ځان پر وړاندې د وارد شوي اتهام په مقابل کې د خپل ځان څخه دفاع

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

وکړي او که شخص پخپله پدې عمل قادر نه وي، نو کولای شي چې د خپل ځان لپاره مدافع وکیل وټاکي او که شخص د اقتصادي مشکلاتو په اساس د مدافع وکیل په ټاکلو قادر نه وي، نو په جزائې دعوی کې دولت مکلفیت لري چې د هغې لپاره مدافع وکیل تعین کړي، چې پدې مورد د اساسي قانون ۳۱ ماده دا ډول صراحت لري ((هر څوک کولای شي چې له نیول کیدو سره سم له ځانه د اتهام د لرې کولو او یا د حق د ثابتولو لپاره مدافع وکیل وټاکي. متهم حق لري چې له نیول کیدو سره سم له منسوب اتهامه ځان خبر کړي او دهغې مودې دننه چې قانون یې ټاکي، په محکمه کې حاضر شي. دولت په جنايي پیښنو کې د بیوزلي متهم لپاره مدافع وکیل وټاکي. د مظنون او دهغه د وکیل ترمنځ مکالمات، مراسلات او مخابرات له هر ډول تعرض څخه خوندي دی. د مدافع وکیلانو وظایف او واکونه د قانون له لیارې تنظیمیږي)) د پورته مادې څخه استنباط کیږي چې: اولاً مظنون او متهم د عدلي تعقیب په مختلفو مرحلو کې د دفاع حق لري. ثانیاً شخص کولای شي د نیولو یا ګرفتاری او استنطاق په وخت کې د خپل ځان څخه د دفاع لپاره مدافع وکیل وټاکي او ثالثاً که چیرې شخص پخپله د مدافع وکیل د ټاکلو توان او طاقت ونلري، نو دولت مکلفیت لري چې د هغې لپاره مدافع وکیل وټاکي. د عادلانه محاکمې د ترسره کولو په خاطر دولت مکلف دی تر څو د هغه شمیر متهمینو لپاره چې د د مدافع وکیل د ټاکلو توان نلري د دولت په مصرف مدافع وکیل تعین کړي چې دا ډول وکیل د حقوقي مساعد په نوم سره یادیږي چې د ۱۳۶۹ کال څخه وروسته د حقوقي مساعدتونو برخه د سترې محکمې په تشکیل کې وه، خو د مدافع وکیلانو د قانون د توشیح او انفاذ څخه وروسته د ۱۴/۹/۱۳۸۶ نیټې د جمهوري ریاست د ۱۱۱ نمبر فرمان د ۳ مادې د حکم په اساس دغه د تشکیل او بودیجې سره یو ځای په عدلیې وزارت پورې وتړل شوه.(۱۰: ۲۸۹) د هغې دلیل هم واضح وو ځکه قضا د حکم یو بې طرفه ارګان دی او نشي کولای چې په عین وخت کې جنايي برخې ته هم رسیده ګي وکړي.

**۵- د محکمې په جریان کې د ژباړن د لرلو حق**

د ژباړن د لرلو حق زیاتره د بهرنیو اتباعو په مورد صدق کوي، بنا پردې بهرني اتباع چې په جرم باندې متهم وي کولای شي د ژباړن د حق څخه مستفید شي، چې پدې مورد د افغانستان د جزائې اجراتو موقت قانون ۲۰ ماده دا ډول حکم کوي

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

((که چیري مظنون یا تورن د تحقیقاتو یا محاکمې له استفادې وړ ژبې سره آشنائی ونه لري یا کوڼ یا ګنګ وي ، د هغوی لپاره ترجمان تاکل کیږي، ترڅو له هغه جرم او ادعا څخه چې وربانديې شوی ده خبرشي او همدارنګه د استنطاق او مقابلې په بهیر کې له هغوی سره مرسته وکړي)).

**۶ـ قضا ته د مراجعې حق**

بهرني اتباع د میزبان دولت قضا او محاکمو ته د مراجعې او د دعوی د اقامه کولو حق هم لري، خو پدې صورت کې بهرني اتباع مکلف دي چې د افغانستان د حقوقي نظام ټول شکلیات رعایت کړي، چې پدې مورد د مدني قانون ۳۰ ماده دا ډول صراحت لري ((د اختصاصي قاعدو په باره کښې او په اجراتو پورې د ټولو مربوطو کارونو په باره کښې، د هغه دولت د قانون حکمونه تطبیقیږي چې دعوی په کښې اقامه شوي وي یا اجراات پکښې شوي وي)) دفاع او قضا ته مراجعې حق د انسان د طبیعي حقوقو له جملې څخه دي، چې له شک پرته په اوسني عصر کې د بشر حقوقو د اصولو برخه ګڼل کیږي. د نتني عصر په متمدنو هیوادونو کې دحق د احقاق او د اشخاصو په ځان، مال او حیثیت د احتمالي تجاوزاتو او تیریو په مقابل کې د دفاع د موجباتو تامین د دولتونو له اصلي دندو څخه ګڼل کیږي. او قضایه قوه د دولت د یوه خپلواک او مستقل ارګان په عنوان له یوه اړخه د اشخاصو د حقوقو ساتوونکي او له بله طرفه د اشخاصو تر منځ د ممکنه دعوی ګانو او تر منځ د ممکنه دعوی ګانو او تخلفاتو د رسیده ګی مرجع ده.(۵۵ : ۱۰۷) د افغانستان اساسي قانون ۱۲۰ ماده د قضایه قوې له لورې دعوی ګانو ته د رسیده ګی د صلاحیت په مورد دا ډول صراحت لري((د قضائیه قوې په صلاحیت کې په ټولو هغو دعواګانو غور شامل دی، چې د دولت په شمول د حقیقي یا حکمي اشخاصو له خوا د مدعي یا مدعي علیه په حیث د قانون له حکمونو سره سم د محکمې په وړاندې اقامه شي)) په همدې ترتیب سره د مدنی محاکماتو اصولو قانون ۹۵ او ۹۶ مادې د افغانستان اسلامي جمهوریت محکمو ته د بهرنیانو د لاسرسي په هکله دا ډول صراحت لري: په افغانستان کې په استوګنو بهرنیو اتباعو پوری مربوط د مدني قضیو د دعوی څېړل د افغانستان جمهوریت د محکمو له واك څخه دي (۹۵ ماده) او همدارنګه د ذکر شوي قانون ۹۶ ماده د هغه بهرنیانو په مورد چې په افغانستان کې د سکونت محل نلري دا ډول صراحت لري ((د هغه بهرنی تبعې پر دعوی

www.ketabton.com په انټرنېټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

باندې رسیده ګۍ چې په افغانستان کې استوګنځی ونه لري په لاندنیو حالتونو کې د افغانستان جمهوریت په محکمو پورې اړه لرې: (۱) په هغه صورت کې چې بهرنی سړی د افغانستان په جمهوریت کې په خپله اختیاری استوګنځی ولرې (۲)په هغه صورت کې چې د عقد موضوع یا د تنفیذ ځای یې د افغانستان په جمهوریت کې وی (۳)په هغه صورت کې چې د ترکې په غوښتنې پورې مربوط دعوې د افغانستان پـه جمـهوریت کې پېل شوې وی (۴)په هغه صورت کې چې د متروکې ټول مالونه او یا یوه برخه یې د افغانستان په جمهوریت کې وی)).

پدې ترتیب سره محکمو ته د لاس رسي اصل په کلي ډول د هیواد د ټولو اوسیدونکو لپاره که داخلي اتباع وي او یا بهرنیان منل شویدی. لکه څه ډول چې د اساسي قانون په ۱۲۰ ماده کې د اشخاصو څخه په کلي ډول یادونه شویده، چې د هغې څخه هدف داخلي او بهرني حقیقي او حکمي اشخاص دي.(۵۵ : ۱۰۸) د جزائې له نقطه نظره هم بهرني اتباع کولای شي د افغانستان په جزائې محاکمو کې د خصوصي مدعی په عنوان د حق د احقاق غوښتنه وکړي او په مدني محاکمو کې هم مدعی یا مدعی علیه د محل اقامت هیواد محکمو ته د لاس رسي حق لري. په حقیقت کې د افغانستان په حقوقي نظام کې دا نظره چې محاکم یواځې او یواځې د افغانې اتباعو دعوی ګانو ته مختص شویدي هیڅکله مطرح نه ده، بلکې په کلي ډول افراد او اوسیدونکي که داخلي اتباع وي یا بهرنیان د افغانستان مدني او جزائې محاکمو ته د مراجعې حق لري او کولای شي چې د افغاني محاکمو له لورې موضوع ته د رسیده ګی غوښتونکي شي.(۵۵ : ۱۱۰)

د نوموړي حق څخه په نړیوالو اسنادو کې یادونه شویده یعنی که چیرې د یو چا اساسي حقوق تر تیري لاندې راشي حق لري، چې قانون د هغه تلف یا له لاسه تللي حقوق په اغیزناکه توګه جبران کړي، چې پدې مورد د بشر حقوقو نړیوالې اعلامیې په ۸ ماده کې دا ډول یادونه شویده((د هغو عملونو په وړاندې چې د یو وګړي په هغه بنسټیزو حقوقو تیری وکړي چې هغه د اساسي قانون یا کوم بل قانون له خوا هغه ته ورکړل شوي وي. هر څوک حق لري چې د صلاحیت لرونکو ملي محکمو ته مراجعه وکړي)) په همدې ترتیب سره د بشر حقوقو نړیوالې اسلامي اعلامیې له مخې هم کله چې په ټولنه کې څوک تر فشار لاندې

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

راځي او یا پر هغو ظلم او تیری کیږي او یا د هغو حق تر پښو لاندې راشي، حق لري چې د ظلم د له منځه وړلو او حقوقو د بیرته ترلاسه کولو لپاره محکمې ته ورشي او دغه حق د ټولو لپاره تضمین شوی دی، چې پدې مورد د ذکر شوي اعلامیې ۱۹ ماده ۲ فقره محاکمو ته د افرادو د لاسرسي په مورد دا ډول لیکلي دي ((محکمې ته مراجعه او پناه وړل هغه حق دی، چې د ټولو لپاره تضمین شوی دی)) همدارنګه د پناه وړونکو په وضعیت پورې د ۱۹۵۱کال اړوند کنوانسیون ۱۶ ماده هم پدې مورد دا ډول صراحت لري ((۱- هر پناه وړونکی کولای شي د ژمنو دولتونو په خاوره کې قضایې محکمو ته آزادانه مراجعه وکړي. ۲- هر پناه وړونکی به د هغه ژمن دولت په خاوره کې چې د هغه د عادي استوګنې ځای دی ، محکمو ته له لاس رسی له هغې جملې له قضایي معاضدت څخه د ګټې اخیستنې او د غورونې د لګښتونو د تضمین له سپارلو څخه د معافیت په هکله له هم هغه چلند څخه چې د نوموړي دولت د اتباعو په باره کې عملي کیږي ، برخمن شي. ۳- هر پناه وړونکی به د خپلې دایمي استوګنې د ځای له خاورې پرته د نورو ژمنو دولتونو په خاوره کې، په ۲ بند کې د درج شوو مواردو په هکله له هغه چلند څخه برخمن شي چې د هغه د دایمي استوګنې د ځای د هیواد د اتباعو په باره کې عملي کیږي)) او د بهرنیانو په مورد د ملګرو ملتونو سازمان د ۱۹۸۵ کال اعلامیې ۵ ماده بهرنیان د محل اقامت هیواد د داخلي قوانینو او نړیوالو تړونونو مطابق د لاندې حقوقو لرونکي بولي(( ج – د محاکمو، حکمیت او نورو د عدالت اجرا کوونکو ادارو او نهادونو په وړاندې د یو شان او مساوي حقوقو څخه برخمن کیدل او د ضرورت په صورت کې په جزائې قضیو کې ژباړن ته د لاسرسی حق او همدارنګه د قانون د تجویز په صورت کې په نورو دعوی ګانو کې هم د دې حق څخه استفاده کولای شي)).

په اخر کې کولای شو ووایو بهرني اتباع او اشخاص د میزبان هیواد محاکمو ته د لاس رسي حق لري، چې دغه حق په نړیوالو معتبرو اسنادو لکه د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه، د بشر حقوقو نړیواله اسلامي اعلامیه او همدارنګه د افغانستان اساسي قانون او نورو قوانینو کې په صریح ډول پیشبیني شوی دی او هیڅ بهرنی پدې عنوان چې د محل اقامت دولت تابعیت نلري د هیواد محاکمو ته د مراجعې او لاس رسي د حق څخه محروم کیدلی نشي. (۵۵ : ۱۱۱)

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

**دوهم جز – د جزا حقوقو په ساحه کې د بهرنيانو وجايب**

پورتني بحث ته په توجه سره داسې تصور باید ونکړو، چې بهرني اتباع په افغانستان کې جزائي مکلفيت نلري ځکه په افغانستان کې د بهرنيو اتباعو د مسافرت او اقامت قانون د ۴۲ مادې له مخې بهرني اتباع د نورو جرايمو تر څنګ په مشخص ډول د لاندې جرايمو د ارتکاب په صورت کې مجازات کيږي:

۱- د پاسپورت پرته د افغانستان قلمرو ته د دخول په صورت کې: هغه شخص چې د پاسپورت پرته د افغانستان اسلامي جمهوريت قلمرو ته داخل شي د عدلي تعقيب لاندې نيول کيږي، چې پدې مورد په افغانستان کې د بهرنيو اتباعو د مسافرت او استوګنې قانون ۴۵ ماده دا ډول صراحت لري ((هغه بهرنی تبعه چې د پاسپورت له لرلو پرته له افغاني سرحد نه راتېر شوی وي د قانون له حکمونو سره سم تر عدلی څارنې لاندې نيول کيږي))

۲- له ويزې پرته د افغانستان قلمرو ته د دخول په صورت کې: پر پاسپورت سربيره هغه بهرني اتباع چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د واکمنو مقاماتو څخه د ويزې اخيستلو پرته د هيواد قلمرو ته داخل شي د عدلي تعقيب لاندې نيول کيږي، چې پدې مورد په افغانستان کې د بهرنيو اتباعو د مسافرت او استوګنې قانون ۴۶ ماده دا ډول صراحت لري ((هغه بهرنی تبعه چې له ويزې پرته د افغانستان اسلامي جمهوريت ته سفر کوي، تر عدلی څارنې لاندې نيول کيږي او د قانون له حکمونو سره سم معامله ورسره کيږي)).

۳ – په تقلبي اسنادو سره د افغانستان قلمرو ته د دخول په صورت کې: هغه بهرني اتباع چې د افغانستان اسلامي جمهوريت قلمرو ته په تقلبي اسنادو سره داخل شي د مجازاتو لاندې نيول کيږي، چې پدې مورد په افغانستان کې د بهرنيو اتباعو د مسافرت او استوګنې قانون ۴۸ ماده دا ډول حکم کوي((هغه بهرنی تبعه چې په تقلبي سندونو سره د افغانستان اسلامي جمهوريت ته راننـــــوځي تر عدلی څارنې لاندې نيول کيږي)).

په همدې ترتيب سره هغه بهرني اتباع چې د بل چا د اقامت پاسپورت او جدول په خپل نوم سره استعمال کړي د عدلي تعقيب لاندې نيول کيږي، چې پدې مورد په

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

افغانستان کې د بهرنیو اتباعو د مسافرت او استوګنې قانون ۴۹ ماده دا ډول صراحت لري ((هغه بهرنی تبعه چې د نورو د استوګنې پاسپورت او یا د مسافرت هر راز پاڼې یا جدولونه (فورمې) په خپل نامه استعمال کړي، ددغه قانون د اوه څلويښتمې مادې له حکم سره سم په سزا محکوميږي)).

## دريم پراګراف

### د کار حقوقو په ساحه کې د بهرنيانو حقوق او وجايب

کار حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو مجموعه ده، چې د کارګر او کارفرما تر منځ اړيکي تنظيموي. د کار حقوق د حقوقو د هغې څانګې څخه دی، چې په خصوصي حقوقو کې ريښه لري ، خو څرنګه چې امکان لري په دولتي اداره کې هم کار وکړي نو د دولت د مداخلې په وجه هغه عمومي حقوقو د څانګو څخه ګڼل کيږي. پر داخلي اتباعو سربيره بهرني اتباع هم د افغانستان په دولتي او غير دولتي ادارو کې د کار حق لري . که څه هم زياتره دولتونه د کار د شرايطو او مقرراتو د تنظيم او د اشتغال د ايجاد په مورد داخلي اتباعو ته خاص اولويت او لومړيتوب په نظر کې نيسي، خو د هيواد د ضرورتونو او غوښتنو په نظر کې نيولو سره زياتره هيوادونه بعضاً بهرني اتباع هم د صنعت، تجارت او يا خدمت لپاره په کار کې نيسي، خو د دې باوجود په مختلفو هيوادونو کې د بهرنيانو کار کول او اشتغال د بيلابيلو مقرراتو تابع دی.

په کلي ډول د کار کولو د مقرراتو په تنظيم کې، د داخلي اتباعو لپاره په حرفه، تجارت، صنعت، پانګې اچونې او نورو برخو کې لمړيتوب په نظر کې نيول کيږي، خو د انساني عواملو يا انساني نيرو له حيثه د هيواد د ضرورتونو او کمبوداتو او په خاص ډول تخصص او د هيواد داخل ته د پوهې او دانش انتقال ته په توجه سره هيوادونه د بهرنيانو لپاره د کار د شرايطو تعين او ټاکلو ته اقدام کوي. د نړيوالو اصولو پربنسټ دوه ډلې بهرنيان په ميزبان دولت کې د کار کولو د حق څخه محروم دي:

۱ – توريستان(سياحين): د ۱۹۶۳ کال د توريستي چارو مربوط نړيوال کنفرانس د توريست په تعريف کې ويلي دي ''توريست يا موقت ليدونکی هغه شخص دی ،

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

چې د خپل اقامت هیواد څخه پرته د بل هیواد څخه لیدنه کوي مشروط پردې چې لیدنه یې دهیڅ ډول شغل او کسب د احراز لپاره نه وي"

۲ – هغه بهرنیان چې د ویزې د لغوه کولو د مقرراتو څخه په استفادې سره بل هیواد ته داخلیږي: څه ډول چې ځیني هیوادونه د یو او بل اتباعو د تګ راتګ د تسهیل لپاره د دوه اړخیزو تړونونو له لارې د یو او بل هیواد ته د طرفینو د اتباعو د ورود او خروج ویزو لغوه کولو ته اقدام کوي، چې په نتیجه کې د دغه هیوادونو اتباع د بل طرف هیواد ته د ورود او خروج لپاره د ویزې په اخیستلو محتاج نه دي. هغه افراد چې د دې حق څخه استفاده کوي او بل هیواد ته داخلیږي په هیڅ وجه سره په هغه هیواد کې د کار حق نلري، مګر داچې هغه هیواد ته د اخلیدو وړاندې یې د کار ویزې غوښتنه کړې وي. فرضاً که چیرې یو افغانۍ سوداګر وغواړي چې ترکیې ته سفر وکړي ، نو د هغه دوه جانبه تړون په اساس چې له پخوا څخه د افغانستان او ترکیې تر منځ د ویزې د لغوه کولو په هکله منعقد شوی دی، د ویزې اخیستلو ته اړتیا نه لري. خو که په ترکیه کې د کار قصد ولري نو باید وړاندې له سفره یې د ترکیې هیواد څخه د کار ویزې غوښتنه کړې وای (۲: ۲۲۵) د بهرنیانو د کار کولو د حق په مورد نشو کولای چې یو صریح نظر وړاندې کړو او همدارنګه نشو کولای ووایو، چې بهرنیان د هر کار د کولو حق لري او د کار څخه د بهرنیانو مطلق محرومیت هم نشو اعلامولی. ځکه پدې مورد مختلف هیوادونه بیلابیل مقررات لري، خو څرنګه چې وویل شول ځیني کارونه د داخلي اتباعو په انحصار کې دي او طبعاً بهرنیان د دا ډول کارونو څخه محروم دي. مثلاً دولتي کارونه او دندې چې د هغې لپاره تابعیت شرط ګڼل شویدی، خو په ځینو مواردو کې بهرنیان دغه کارونو ته راغواړي.(۵۵ : ۱۰۰)

په افغانستان کې بهرنیو اتباعو د استخدام او اشتغال مربوط موضوعات د هیواد د نافذه قوانینو لکه د کار قانون، د خصوصي پانګونې قانون او بهرنیو اتباعو د استخدام مقرره او نورو قوانینو او مقرراتو کې پیشبیني شوي دي. د کار قانون ۶ ماده په بهرنیو اتباعو باندې د کار قانون د احکامو د تطبیق په مورد دا ډول صراحت لري(( ۱- هغه بهرني اتباع چې دمخکنیوجلا قراردادونو مطابق یا پرته له هغې ئې د افغانستان په اسلامي جمهوریت کې دکار جوازترلاسه کړی یا ئې

www.ketabton.com په انټرنېټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

وروسته ترلاسه کوي اوپه دولتي يا غيردولتي گډو يا خصوصي ادارو کې استخداميږي،د دغه قانون دحکمونو تابع دي، دهغوی د استخدام شرايط د جلا مقررې په واسطه تنظيميږي. ۲- حکومت کولای شي دهغو دولتونو د اتباعو لپاره چې دهغوی په قوانينو کې د افغانستان داسلامی جمهوريت اتباعو ته دکارحقوق محدود شوي دي، متقابل محدوديتونه وضع کړي)). څه ډول چې ليدل کيږي د ۶ مادې ۱ فقره د بهرنيو اتباعو د استخدام په مورد زيات تفصيل د يوې ځانګړي مقررې په وضع کولو پورې موکول کړيدي، چې خوشبختانه د لومړي ځل لپاره دغه مقرره د کار قانون د حکمونو په رڼا کې په ۱۳۸۴ کال کې د ۱۶ مادو په لرلو سره تصويب او د جمهور ريس له لورې توشيح شوه. د ذکر شوي مقررې د ۳ مادې د صراحت له مخې (( بهرني اتباع د دوه اړخيزو يا څو اړخيزو موافقتنامو په اساس په ادارو کې د دې مقررې د حکمونو مطابق استخدام کيدای شي)) همدارنګه د ۴ مادې د صراحت له مخې (( هغه بهرني اتباع چې په ادارو کې استخداميږي، مکلف دي چې د نافذه قوانينو او د د دغې مقررې د حکمونو رعايت او د افغانستان د خلکو د عقايدو او عنعناتو احترام وکړي)) او همدارنګه د بهرنيو اتباعو د استخدام مقررې د ۵ مادې د صراحت له مخې:هغه خارجي اتباع چې د اتلس کلنی عمر يې تکميل کړی او د کار په قانون کې درج شوی د تقاعد نهايي سن ته نه وي رسيدلی او د خپل متبوع هيواد او د افغانستان د عامې روغتيا وزارت د مربوطه مراجعو څخه يې د صحت تصديق ترلاسه کړی وي په لاندې ډول په ادارو کې استخداميږي..... د پورتنی مادې مطابق د بهرنيو اتباعو د استخدام شرايط په لاندې ډول دي: ۱- د اتلس کلنی عمر بشپړول. ۲- د افغانستان د کار قانون مطابق د تقاعد نهائې سن ته نه رسيدل. ۳- د متبوع هيواد د صحي تصديق لري. ۴- د افغانستان د عامې روغتيا وزارت د صحي تصديق لرل. ۵- د کار او اقامت ويزې درلودل. نو څه ډول چې ليدل کيږي بهرني اتباع د کار قانون او په افغانستان کې د بهرنيو اتباعو د استخدام مقررې په اساس په دولتي او غير دولتي ادارو کې د ضرورت په نظر کې نيولو سره د کار کولو حق لري او کيدايشي د يوه کارکوونکي په صفت استخدام شي، خو هغه شرط چې په نوموړي مقرره کې راغلی دا دی، چې د لومړيتوب او اولويت حق افغاني کارکوونکو ته ورکول کيږي او په هغه صورت کې چې په هماغه ساحه کې افغاني کارکوونکي شتون ولري د بهرنيو اتباعو د استخدام مخنيوی کيږي، لکه چې پدې مورد د پورته ذکر

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

شوي مقررې ۶ ماده دا ډول صراحت لري ((د داخلي او خارجي كاركوونكو د موجوديت په صورت کې داخلي كاركوونكو ته اولويت وركول كيږي)).

د افغانستان د خصوصي پانګونې قانون هم داخلي منظور شويو تشبثاتو ته اجازه وركوي، چې بهرني اتباع استخدام کړي، د ذكر شوي قانون ۲۰ ماده پدې هكله دا ډول صراحت لري ((۱- منظور شوى تشبث حق لري په مستقيم يا غيرمستقيم صورت سره د نافذو تقنينـي سندونو مطابق، اداري كاركوونكي او بهرني متخصصين استخدام کړي. ۲- منظور شوى تشبث حق لري د خپلو سوداګريزو فعاليتونو دسرته رسولو په منظور ، له بهرنيو اشخاصوسره خدماتي قراردادونه عقد کړي ، پدې صورت کې د منظور شوي تشبث بهرنيو كاركوونكو ته د اړوند تقنيني سند مطابق د كارجواز وركول كيږي، پدې شرط چې بهرني كاركوونكي په افغانستان کې د اوسېدو په وخت کې نافذقوانين په پام کې ونيسي. ۳- بهرني او كورني منظور شوي تشبثات چې بهرني پانګه اچوونكي هم پكې ونډه لري، هڅول كيږي څو افغاني كاركوونكي استخدام كړي)) د يادولو وړ ده چې هغه بهرني اتباع چې افغانستان ته د كار لپاره سفر كوي مكلف دي ، چې اقامت او كار ويزې د اړوندو مراجعو څخه ترلاسه کړي، چې له هغې پرته به د كار قانون او د بهرنيو اتباعو د استخدام مقررې د مفادو څخه نشي برخمن كيداى (د بهرنيو اتباعو د استخدام مقررې د ۱۱ مادې څخه په استفاده).

د اسلام مقدس دين له نظره هم غير مسلم بهرنيان د نورو سره د قرارداد د تړلو څخه په استفادې سره د خپلو مصارفو د تامين لپاره ازاد دي ، چې كار انتخاب او د مسلمانانو په شان په مختلفو اقتصادي فعاليتونو کې په مستقيم ډول ګډون وكړي، يعنى غير مسلم په اسلامي ټولنه کې د مسلمانانو پشان كولاى شي په اقتصادى فعاليتونو کې سهيم شي. خو د ځينو هيوادونو لكه تركيه او سعودي عربستان په قوانينو کې د بهرنيانو د استخدام په مورد يو سلسله محدوديتونه شتون لري او زياتره ډير عايد لرونكي كارونه په صراحت سره داخلي اتباعو ته تخصيص شوي او د بهرنيانو لپاره ممنوع اعلام شويدي.(۱۷-۱۰۴) په همدې ترتيب سره په نړيوالو معتبرو اسنادو کې هم د بهرنيانو د كار په حق باندې تاكيد شويدى. لكه د بشر حقوقو نړيوالې اعلاميې ۲۳ ماده کې د كار حق د پرته د كوم توپير څخه د ټول

بشر لپاره پدې ډول په رسميت پيژندلی دی (( ۱- هر څوک حق لري چې کار وکړي. په آزاد ډول ځانته کار غوره کړي، د کار عادلانه او منصفانه شرايط ولري او د بې کاری په وړاندې يې حمايت او ملاتړ وشي. ۲- ټول وګړي حق لري چې د مساوي کار په بدل کې مساوي اجوره ترلاسه کړي. ۳- هر څوک چې کار کوي د مناسب معاش حق لري، چې د ده او د ده د کورنۍ لپاره د بشري کرامت وړ ژوند تضمين کړي او که ضروري وي، حق لري چې د نورو ټولنيزو محافظتي وسايلو په ذريعه خپل ژوند پياوړی کړي. ۴- هر څوک حق لري چې د خپلو ګټو د دفاع پخاطر له نورو سره اتحاديې جوړې کړي او همدا راز په اتحاديو کې ګډون وکړي)) همدارنګه د پناه وړونکو په وضعيت پورې د اړوند کنوانسيون ۱۷ ماده هم د پناه وړونکو د کار کولو يا اشتغال حق په مورد دا ډول صراحت لري ((۱- د اجورې په ترلاسه کولو سره په کار د بوختيدو د حق په هکله به، هر ژمن دولت د هغو پناه وړونکو په نسبت چې په منظمه توګه يې د هغه په خاوره کې استوګنه کړيده، هغه په زړه پورې چلند چې په دغسې مواردو کې يې د پرديو دولتونو د اتباعو په نسبت عملي کوي، عملي کړي. ۲- په هر حال کې هغه محدودوونکي مقررات به چې د پرديو يا د پرديو د استخدام په باره کې د کار د کورني بازار د ملاتړ په منظور وضع کيږي، د هغه پناه وړونکي په باره کې چې د ژمن دولت په خاوره کې د دې کنوانسيون د اجراء په نيټه نوموړی له د بحث وړ مقرراتو څخه معاف دی يا له لاندې شرايطو څخه د يوه لرونکي وي، اجرا نشي: **(الف)** درې کاله موده په هيواد کې د استوګنې سابقه لري. **(ب)** ميرمن لري چې دهغه د استوګنې د ځای د هيواد د تابعيت لرونکي ده. هغه پناه وړونکی چې له خپلې ميرمنې سره يې متارکه کړيده نشي کولای، د دې بند په مقرراتو استناد وکړي. **(ج)** اولاد يا اولادونه لري چې د هغه د استوګنې د ځای د هيواد د تابعيت لرونکي دي. ۳- ژمن دولتونه به په مساعد نظر سره هڅه وکړي چې د پناه وړونکو په استخدام پورې اړوند حقوق په خاصه د هغو پناه وړونکو چې د کارګر په استخدام پورې د اړوندو برنامو يا مهاجرتي برنامو په موجب د هغو خاورې ته ور دننه شوي، پدې برخه کې د خپلو اتباعو له حقوقو سره ورته او يو شان کړي)) او د ذکر شوي کنوانسيون په ۱۸ ماده کې د کار حق څخه د ازاد کار په نوم سره يادونه شويده او هغه د پناه اخيستونکو لپاره دا ډول تضمين کوي ((ژمن دولتونه به د هغو پناه وړونکو په نسبت چې د هغوی په خاوره کې ژوند کوي قانوناً د کرنې،

www.ketabton.com په انټرنېټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

صنعت، لاسي کارونو، سوداګرۍ او د سوداګریزو او صنعتي شرکتونو د تاسیسولو په برخو کې په کار باندې د بوختیدو په هکله هغه چلند وکړي، چې د امکان تر حده پورې مساعد وي او په هر حال کې له هغه چلند څخه چې په دغسې مواردو کې د پردیو په نسبت په کلي توګه عملي کيږي، زیات مساعد نه وي)). او همدارنکه د بهرنیانو په مورد د ملګرو ملتونو سازمان د ۱۹۸۵ کال اعلامیې په ۸ ماده کې هم د بهرنیانو د کار حق پدې ډول په رسمیت پیژندل شوی دی ((الف- سالم کاري محیط ته د لاسرسي حق او د مساوي کار په مقابل کې د مساوي او عادلانه اجورې دریافت د هغې هیواد اتباعو ته باالخصوص د ښځو په مورد د هر ډول تبعیض پرته)).

## څلورم پراګراف

### د مالي حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو وجایب

د هر هیواد او د هغې د جملې څخه د افغانستان اسلامي جمهوریت د او سیدونکو د وجایبو څخه یوه وجیبه دولت ته د مالیې او محصول ورکړه ده چې نه یواځې د هیواد اتباع بلکې په هیواد کې میشت بهرني حقیقي او حکمي اشخاص هم د مالیې او محصول په ورکړه مکلف دي. دغه امر د مساواتو اصل د رعایت او همدارنګه په افغانستان کې د پانګونې لپاره د بهرنیانو د تشویق پخاطر په نظر کې نیول شوی دی، چې پدې مورد د اساسي قانون ۴۲ ماده دا ډول صراحت لري ((هر افغان مکلف دی د قانون له حکمونو سره سم دولت ته مالیه او محصول ورکړي.

هیڅ راز مالیه او محصول د قانون له حکمه پرته نه وضع کيږي. د مالیې او محصول اندازه او د ورکړې ډول یې د ټولنیز عدالت په رعایت د قانون په وسیله ښوول کيږي. دا حکم د بهرنیو کسانو او موسسو په برخه کې هم تطبیقيږي. هر ډول ورکړه شوې مالیه، محصول او عایدات دولتي واحد حساب ته تحویليږي)).

په مشخص ډول باید وویل شي هغه بهرني حقیقي اشخاص چې د افغانستان په ادارو کې کار کوي د مالیې په ورکړه مکلف دي، چې پدې مورد د بهرنیو اتباعو د استخدام مقررې ۱۰ ماده ۱او ۲ فقره دا ډول صراحت لري ((۱- بهرني اتباع چې د دغې مقررې د احکامو مطابق استخدام کيږي، د کار د اړوندو تقنیني اسنادو

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

مطابق د اجورې سره د رخصتی حق لري. ۲- د هفتې د ختم رخصتي د خارجي کارکوونکو لپاره هم د نورو دولتي ادارو کارکوونکو پشان د جمعې په ورځ تعین کیږي)).

## دوهم مبحث

### د خصوصي حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق او وجایب

خصوصي حقوق د هغه قواعدو مجموعه ده، چې د اشخاصو ترمنځ خصوصي روابط تنظیموي. بهرنیان پر عمومي حقوقو سربیره د خصوصي حقوقو په ساحه کې هم د یو سلسله حقوقو لرونکي دي، خو د دې باوجود د خصوصي حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق مطلق نه دي او پدې مورد یو سلسله استثنات هم شتون لري. مدني قوانینو د افرادو خصوصي حقوق په ټولو برخو کې مشخص کړيدي، افراد په ژوندي ډول تولد سره د حق څښتن ګرځي او د عمر تر پایه دهغې څخه استفاده کولای شي. دا حقوق تر اندازې پورې اهمیت لري، چې هیڅوک نشي کولای په کلي ډول د دغه حقوقو د تمتع یا اجرا حق د ځان څخه سلب کړي.(۵۳ : ۱۲۷) د خصوصي حقوقو څخه استفاده په ټولنه کې د ژوند لپاره لازمي ده او نشو کولای یو چاته هیواد ته د ورود او داخلیدو اجازه ورکړو، خو هغه د مدني او خصوصي حقوقو څخه محروم کړو. هیڅ هیواد پخپلو قوانینو کې د بهرنیانو لپاره په ممنوعیت او محرومیت نه قایلیږي، خو هغه څه چې زیات د بحث وړ دي د دې حقوقو څخه د استفادې څرنګوالی دی نه اصل او ماهیت. کلي اصل دا دی چې هر بهرنی کولای شي د ټولو مدني حقوقو څخه متمتع شي مګر په هغه مواردو کې چې د قانون پواسطه د ځینو خاصو ملاحظاتو په اساس مستثنی شوی وي.(۵۵ :۷۰) د مدني حقوقو د لرلو اصل هماغه د نړیوالو خصوصي حقوقو د یوه عالم والټ Valett نظر دی، چې پدې مورد یې په تفصیل سره څرګند کړی وو او ویل به یې 'چې خصوصي حقوق داسې څه نه دي، چې وکولای شو د بهرنیانو او داخلي اتباعو ترمنځ توپیر رامنځته کړي. بهرنی هم د داخلي اتباعو پشان دخصوصي حقوقو څخه استفادې ته محتاج او نیازمند دی او که په ځینې مواردو کې لازم وي د بهرنیانو لپاره په محدودیتونو قایل کیږي او قانون یې باید په صراحت سره قید کړي تر هغه وخته پورې چې په قانون کې د یوه حق سلب کیدل اعلام شوي نه وي

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

د بهرنیانو وضع د داخلي اتباعو پشان ده.(۵۳ : ۱۲۷) خصوصي حقوق په عیني حقوقو، فامیل حقوقو، وجایبو حقوقو، تجارت حقوقو او میراث حقوقو باندې ویشل کیږي. د خصوصي حقوقو څخه د بهرینانو د استفادې حدود او شرایط په مختلفو هیوادونو کې متفاوت دي، چې پدې ځای کې په افغانستان کې د بهرنیانو حقوقو او وجایب د خصوصي حقوقو په ټولو پورته ذکر شویو څانګو کې د مطالعې لاندې نیسو .

## لومړی پراګراف

### د عیني حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق او د هغې محدودیتونه

عیني حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو ټولګه ده، چې د اموالو سره د افرادو روابط تنظیموي او د عیني حقوقو د بحث اصلي موضوع مال او مالکیت دی . د اساسي قانون د احکامو مطابق ټول حقیقي او حکمي اشخاص د ملکیت د لرلو حق لري هغه که داخلي وي یا بهرنی چې د پدې هکله د اساسي قانون ۴۰ ماده دا ډول صراحت لري ((ملکیت له تیري څخه خوندي دی. هیڅوک د ملکیت د ترلاسه کولو او په هغه کې د تصرف کولو څخه نه منع کیږي مګر د قانون د احکامو په حدودو کې ..... )) چې پدې ماده کې د ملکیت د لاسته راوړلو او په هغې کې د تصرف کولو په رابطه یوه استثنا ذکر شویده، چې هغه د قانون حکم دی او هغه استثنا چې پدې مورد کې د بهرنیانوپه رابطه  په افغانستان کې وضع شویده  د عقاري یا غیر منقولو اموالو د لرلو څخه د بهرنیانو محرومیت دی چې د اساسي قانون په ۴۱ ماده کې دا ډول بیان شویدی ((بهرني اشخاص په افغانستان کې د عقاري مالونو د ملکیت حق نه لري. د عقار اجاره د پانګې اچونې په منظور د قانون له حکمونو سره سم جواز لري. د بهرنیو ملکونو پر سیاسي نمایندګیو او پر هغو بین المللي موسسو چې افغانستان پکې غړیتوب لري د عقاري مالونو پلورل د قانون له حکمونو سره سم جواز لري)) په همدې ترتیب سره د بهرنیان نشي کولای په افغانستان کې عقاري یا غیر منقول اموال د وصیت په اساس تملک کړي، چې پدې مورد مدني قانون ۲۱۱۲ ماده دا ډول حکم کوي ((د نورو هیوادونو خلک د دې مادې په په ۱ فقره کې د درج شوي وصیت په اساس نه شي کولی، چې په افغانستان کې په عقاري مالونو باندې د ملکیت حق پیداکړي)).

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

ذکر شوي موضوع د هيواد په پخوانيو اساسي قوانينو کې هم تسجيل شوي وه، ځيني هيوادونه په خپلو اساسي قوانينو کې د بهرنيان په وړاندې پدې ډول ممنوعيت قايل دي. پدې ځای کې د مقنن هدف د هيواد د قلمرو او ساحې د ساتلو په خاطر د لازم احتياط او د نورو هيوادونو، دهغې د اتباعو او يا د هغې د اړوندو موسساتو پواسطه د بهرنيو هيوادونو د اختيار لاندې واقع کيدو څخه مخنيوی دی، ځکه افغانستان د رشد او توسعې په حال کې هيواد دی او ملي پانګوال په پراخه پيمانه سره پکې شتون نلري او دا خطر متصور دی، چې ګواکې د يوه بهرني هيواد د نماينده ګانو پيسې او سرمايه د هيواد د يوې برخې د معاملې مورد نشي، چې له هغه طريقه د هيواد په سياستونو، استراتيژيو او داخلي او خارجي پاليسيو په تدوين باندې د بهرنيانو تسلط نقش پيداکوي .(۱۰: ۴۰۶)

پدې ځای کې يوه پوښتنه پيداکيږي هغه دا چې که يو افغانی تبعه، چې د هيواد د نافذه قوانينو په موجب د عقاري اموالو د لرلو حق لري افغانی تابعيت ترک کړي، نو نوموړی شخص د افغانستان د قوانينو مطابق نور افغاني تبعه نه ګڼل کيږي، نو د هغې د غيرمنقولو اموالو سرنوشت به څه ډول کيږي؟ ايا پدې حالت کې چې شخص افغاني تبعه نه ګڼل کيږي کولای شي چې موروثي غير منقول اموال ولري يا نه؟ د دې پوښتنې ځواب منفي دی ځکه په مجرد د دې چې د شخص حقوقي او سياسي رابطه دخپل متبوع دولت سره قطع شي نو پدې صورت کې د شخص رابطه پخپله او اتوماتيک ډول دعقاري ملکيت سره قطع کيږي.(۵۵ : ۱۵۳) د تابعيت قانون ۳۹ ماده د دې پوښتنې په ځواب کې وايې چې (( ۱- د افغانستان اسلامي جمهوريت په تابعيت پورې اړوندې چارې د واکمن هيئت (کميسون) له خوا څيړل کيږي. ۲- د افغانستان په اسلامي جمهوريت کې په تابعيت پورې د اړوندو چارو په واکمن هيئت(کميسون) کې د سترې محکمې، عدليې وزارت ، بهرنيو چارو وزارت، د کورنيو چارو وزارت او د ملي امنيت عمومي رياست استازي غړيتوب لري. ۳- هيئت(کميسون) د تابعيت په ورکولو پورې اړوند غوښتنليکونه او وړانديزونه په مقدماتي ډول څيړي، پايلې يې جمور ريس ته وړاندې کوي. ۴- د تابعيت په پريښودلو، اعاده کولو او سلبولو پورې اړوند غوښتنليکونه او وړانديزونه د هيئت(کميسون) له خوا له څيړنې وروسته د وزيرانو شوری ته ليږل کيږي)) نو پدې اساس څه ډول چې ليدل کيږي بهرني اتباع په هيڅ وجه نشي

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

کولای، چې په افغانستان کې غیر منقول اموال ولري، خو دا نقطه د یادولو وړ ده، چې بهرني اتباع په افغانستان کې د پانګونې په منظور کولای شي غیر منقول اموال د ۵۰ کالونو لپاره په اجاره واخلي، چې نوموړي موضوع د خصوصي پانګې اچونې قانون ۲۱ ماده دا ډول صراحت لري((بهرنی منظور شوی تشبث د خپلو فعالیتونو د پرمخ بیولو لپاره حق لري په افغانستان کې عقار، د قانون دحکمونو مطابق تر(۵۰) کلونو مودې پورې په اجاره واخلي)).

## دوهم پراګراف

### د فامیل حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق او وجایب

د فامیل حقوق هغه قواعد دي چې د اشخاصو روابط په فامیل کې تنظیموي د فامیل حقوقو د بحث موضوعات عبارت دي له خطبې، نامزدی، نکاح، طلاق، تفریق، رجعت او داسې نور لکه د نسب ثبوت، وصایت، حضانت، رضاع او داسې نور. بهرنی حقیقي شخص کولای شي چې په افغانستان کې د ازدواج عقد منعقد او منحل کړي چې هر یو یې بیل بیل د مطالعې لاندې نیسو .

### لومړی جز – د ازودواج عقد په مورد د بهرنیانو حقوق

د ازدواج یا نکاح عقد دوه ډوله شرایط لري، ماهوي شرایط او شکلي شرایط د ماهوي شرایطو له نظره د هغې د صحت، لزوم او نفاذ لپاره یو سلسله شرایط شتون لري چې عبارت دي له د انعقاد شرایط، د صحت شرایط، د لزوم شرایط او د نفاذ شرایطو څخه او د ازدواج شکلي شرایط عبارت دي له د مدني قانون مطابق په محکمه کې د هغې ثبت او د نکاح خط د اخیستلو څخه (۱۴- ۱۸۱) نو پدې اساس په افغانستان کې د بهرنیو اتباعو د ازدواج د حقوقو په مورد د مدني قانون ۱۹ او ۲۰ مادې د بهرنیانو لپاره دا حق ورکوي، چې د ازدواج عقد د متني او ماهوي قواعدو له حیثه د زوجینو د متبوع دولت د قوانینو تابع دی، خو د ازدواج شکلي شرایط د محل اقامت هیواد د قوانینو تابع دي چې دواړه یې په لنډ ډول د مطالعې لاندې نیسو .

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

**الف ـ د ازدواج په متني قواعدو د تطبيق وړ قانون**

لکه څه ډول چې مخکې هم وویل شول په هیواد کې د بهرنیو اتباعو ازدواج د زوجینو د متبوع هیوادونو د قوانینو تابع دی، چې پدې مورد د مدني قانون ۱۹ ماده دا ډول صراحت لري ((د ازدواج د صحت د موضوعي شرطونو په مورد د دواړو زوجینو قوانین تطبیق کیږي او د ازدواج د شکلي شرطونو په مورد کې د هغه هیواد د قانون حکمونه مراعت کیږي، چې ازدواج پکې صورت موندلی وي)) باید یادونه وکړو چې د بهرنیو اتباعو د ازدواج په متني شرایطو د واکمنو قواعدو د ټاکلو په مورد، چې دواړه زوجین د یوه هیواد تابعیت ولري کوم مشکل نه رامنځته کیږي، خو هغه وخت مشکل رامنځته کیږي چې زوج او زوجه دواړه د مختلفو هیوادونو تابعیت ولري او د دوی د متبوع هیوادونو قوانینو د خپلو اتباعو د ازدواج په متني شرایطو په مورد متفاوت لیدلوری ولری . پدې حالت کې باید معلوم کړو چې ایا د یواځې د یوه اړخ د متبوع هیواد قانون په خاص ډول د زوج د متبوع هیواد د قانون پلي کول کافي دي یا د دواړو طرفونو د متبوع هیوادونو قوانین باید په نظر کې ونیول شی؟ دغه مشکل په خاص ډول سره هغه وخت مطرح او رامنځته کیږي ، چې طرفین واحده اقامتګاه ونلري یعنی د عقد د اړخونو د اوسیدو ځای په یوه هیواد کې نه وي او د هغوی په متبوعو هیوادونو کې د قوانینو تعارض هم متفاوت وي یعنی یو د تابعیت پر عامل او بل د اقامتګاه پر عامل باندې مبنی وي. نو پدې ډول حالت کې نشو کولای د یوه طرف د متبوع هیواد قانون څخه د بل طرف د متبوع هیواد د قانون په نفع سترګې پټې کړو او باید پدې حالت کې د دواړو هیوادونو قوانین په نظر کې ونیسود افغانستان مدني قانون د هغه بهرنیو زوجینو ترمنځ چې مختلف تابعیتونه ولري کومه خاصه د حل لار نه ده پیشبیني کړي. همدارنګه د یو تعداد هیوادونو د قوانینو لکه د فرانسې، المان، اطریش، ایټالیا، سویس او نورو هیوادونو د قوانینو له مخې دواړه ښځه او میره کولای شي چې د خپلو شخصي قوانینو څخه پیروي وکړي چې دا هم د قوانینو د تعارض د حل لپاره یو بل حقوقي مشکل دی. (۵۵ : ۸۰)

**ب ــ د ازدواج په شکلي شرایطو د پلي کیدو وړ قانون**

څرنګه چې مخکې هم یادونه وشوه په هر حقوقي عمل کې دوه ډوله قواعد مطرح دي. یو متني قواعد او بل شکلي قواعد چې متني قواعدو د تطبیق د څرنګوالي څخه

www.ketabton.com په انټرنېټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

بحث کوي. او متني قواعد چې موضوع تعریفوي. نو څرنګه چې د ازدواج په متني قواعدو د پلي کیدو وړ قانون مو په پورته ډول مطالعه کړ او ومو ویل چې د هیواد د نافذه قوانینو په اساس د بهرنیو اتباعو ازدواج د متني له لحاظه د دهغوی د متبوعو هیوادونو د قوانینو تابع دی. خو د ازدواج عقد شکلي شرایط د یوه حقوقي عمل په عنوان د عقد د محل وقوع هیواد د قوانینو تابع دی یا په بل عبارت د ازدواج عقد د تشریفاتو د اجرا کیدلو محل بلل شویدی. لدې جهته ده چې د هیواد مدني قانون د ازدواج عقد شکلي شرایط د ازدواج عقد د محل وقوع هیواد د قوانینو تابع بولي، چې پدې مورد د مدني قانون ۱۹ ماده دا ډول صراحت لري ((د ازدواج د صحت د موضوعي شرطونو په مورد د دواړو زوجینو قوانین تطبیق کیږي او د ازدواج د شکلي شرطونو په مورد کې د هغه هیواد د قانون حکمونه مراعت کیږي، چې ازدواج پکې صورت موندلی وي)). په همدې دلیل د نړیوال عرف په له مخې د احتمالي معضلاتو د مخنیوي پخاطر عموماً هیوادونو د هیواد څخه بهر د خپلو اتباعو د ازدواج د تشریفاتو اجرا کول د خپلو قونسلي مامورینو په غاړه ایښودلي دي، خو که دغه مراسم د قونسلي مامورینو له لورې ترسره نشي او د هغې برعکس د میزبان هیواد په محاکمو کې د هغې هیوادونو د قاضیانو له لورې اجرا شي پدې صورت کې د ازدواج د شکلي شرایط په مورد د ازدواج د مراسمو د اجرا د محل قانون یا د عقد د وقوع د محل قانون او د ازدواج د متني شرایطو په مورد شخصي قانون [19] یا د طرفینو د متبوع هیوادونو قوانین د پلي کیدو وړ دي.

**دوهم جز – د طلاق په مورد د بهرنیانو حقوق**

د افغانستان مدني قانون د حکمونو په اساس د بهرنیو اتباعو د طلاق په مورد د هغه هیواد قانون د پلي کیدو وړ دی، چې زوج د طلاق پر مهال دهغه دولت تابعیت ولري چې دغه مطلب د مدني قانون د ۲۰ مادې په ۲ فقره کې دا ډول بیان شویدی((د طلاق په باره کې د هغه دولت د قانون حکمونه تطبیق کیږي، چې میړه د طلاق په وخت کې د هغې تابع وي)) فرضاً که چیرې یو ایرانی تبعه په افغانستان کې خپلې ښځې ته چې د تاجکستان هیواد تبعه ده طلاق ورکړي نو دا ډول طلاق د میړه د متبوع هیواد یعنی ایران د قوانینو تابع دی نو پدې اساس

---

[19] *Lex personality*

www.ketabton.com په انټرنېټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

افغاني قاضي هم بايد خپل حکم د ايران د قانون مطابق صادر کړي مګر په هغه صورت کې افغاني قاضي د افغانستان قانون تطبيق کوي چې په پورته مثال کې يو د طرفينو څخه افغانی تبعه وي يعنی دا ډول طلاق د افغانستان د قوانينو تابع دی، چې پدې مورد د افغانستان مدني قانون ۲۱ ماده دا ډول صراحت لري ((د دې قانون د (۱۹ او ۲۰) مادو په درج شويو حالونو کې که د زوجينو څخه يو د ازدواج د عقد په وخت کې افغان وي، نو د اهليت د شرطونو څخه غير يواځې د افغانستان د قانون حکمونه تطبيقيږي)) څه ډول چې ليدل کيږي د مدني قانون په ۲۰ ماده کې د طلاق څخه په کلي ډول يادونه شويده، چې کولای شو ووايو د ذکر شوي مادې څخه منظور د طلاق متني يا ماهوي شرايط دي نه شکلي او تشريفاتي شرايط چې د طلاق د محل وقوع هيواد د قوانينو تابع دي. که څه هم د افغانستان مدني قانون د طلاق د شکلي شرايطو څخه يادونه نه ده کړي خو د يوې کلي قاعدې په حيث لکه څه ډول چې مخکې وويل شول په عمومي ډول د حقوقي اعمالو شکلي شرايط د محل وقوع هيواد د قوانينو تابع وي، لکه څه ډول چې د مدني قانون ۱۹ ماده د ازدواج شکلي شرايط د هغه هيواد د قوانينو تابع بولي چې ازدواج پکې ترسره شويدی، نو د طلاق د شکلي شرايطو په مورد هم کولای شو د محل وقوع هيواد قانون د پلي کيدو وړ وبولو.

**دريم جز – د ازدواج عقد په مالي آثارو د پلي کيدو وړ قانون**

په صحيح ډول د ازدواج عقد انعقاد د يو سلسله ټاکليو آثارو د ايجاد باعث ګرځي لکه د مهر ورکړه او د نفقې برابرول ، چې د دې ډول آثارو انجامول زوج ته متوجه وي، نو پدې اساس په صحيح ډول د ازد واج عقد د انعقاد څخه وروسته زوج پدې مکلف ګرځي، چې د خپلې زوجې مهر ورکړي او نفقه ورته برابره کړي. مالي حقوق هغه حقوق دي، چې په مال او منافعو پورې تړاو ولري او د هغې موضوع مال يا منفعت وي لکه د ارتفاق حق، د خيار حق، د شفع حق او په ثمن د بايع حق او په مبيعه د مشتري حق. چې د ښځې مالي حقوق په عمومي صورت سره په مهر، نفقې او ميراث باندې ويشل کيږي(۱۸: ۱۸۱) او د مهر او نفقې په موضوع کې د هغه کس شخصي قانون د پلي کيدو وړ دی، چې د نفقې په برابرولو باندې مکلف وي، پدې مورد د مدني قانون ۲۴ ماده دا ډول صراحت لري ((په نفقه باندې د مکلف کولو په باره کې د هغه شخص د متبوع دولت د قانون

حکمونه تطبیقیږي، چې د نفقې په ورکولو مکلف وي)). د دې مادې څخه داسې استنباط کیږي، چې په هغه صورت کې چې په افغانستان کې دوه بهرني اتباع ازدواج وکړي او د دوی ترمنځ د نفقې په مورد دعوی مطرح شي، نو د افغانستان د واکمنې محکمې قاضي باید پدې ډول دعوی کې د هغه شخص د متبوع هیواد د قانون پواسطه حکم صادر کړي، چې د نفقې د تامین مکلفیت لري. خو په هغه صورت کې چې پدې ډول ازدواج کې یو د طرفینو څخه افغاني تبعه وي نو کوم مالي آثار چې د دې ازدواج په موجب رامنځته کیږي د افغانستان د قانون تابع دي، نو پدې اساس زوج مکلف دی چې د افغانستان د قوانینو مطابق زوجې ته نفقه برابره کړي. د مدني قانون ۲۱ ماده پدې هکله دا ډول صراحت لري ((د دې قانون د (۱۹ او ۲۰) مادو په درج شویو حالونو کې که د زوجینو څخه یو د ازدواج د عقد په وخت کې افغان وي، نو د اهلیت د شرطونو څخه غیر یواځې د افغانستان د قانون حکمونه تطبیقیږي)).

**څلورم جز – په قضائې تفریق د پلي کیدو وړ قانون**

د زوجینو ترمنځ د قضایې تفریق په مورد د هغه هیواد قانون د پلي کیدو وړ ګڼل کیږي، چې زوج د دعوی د اقامه کولو پر مهال د هغه دولت تابعیت ولري. د مدني قانون ۲۰ ماده ۳ فقره پدې هکله دا ډول حکم کوي ((د جلاوالي او انفصال په حالونو کې د هغه هیواد قانون ته اعتبار ورکول کیږي، چې میړه د دعوی د اقامه کیدو په وخت کې د هغې تابع وي)) نو پدې اساس که چیرې یوه ایرانۍ تبعه د خپل مصري خاوند په وړاندې د افغانستان په محاکمو کې د قضائې تفریق غوښتنه وکړي، نو د واکمنې محکمې قاضي مکلف دی، چې د قاضائې تفریق په مورد د مصر قانون اجرا کړي، خو که یو د طرفینو څخه مثلاً زوجه افغانۍ وه، نو پدې صورت کې د ذیصلاح محکمې قاضي خپل حکم باید د افغانستان د قوانینو مطابق صادر کړي، چې پدې مورد د مدني قانون ۲۱ ماده دا ډول صراحت لري ((د دې قانون د (۱۹ او ۲۰) مادو په درج شویو حالونو کې که د زوجینو څخه یو د ازدواج د عقد په وخت کې افغان وي، نو د اهلیت د شرطونو څخه غیر یواځې د افغانستان د قانون حکمونه تطبیقیږي)).

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

**پنځم جز – د والدينو او والدانو ترمنځ په وجايبو باندې د تطبيق وړ قانون**

د ازدواج عقد آثار نه يواځې دا چې د ازدواج عقد طرفينو ته متوجه دي، بلکې د دې عقد څخه ناشي اولاد ته هم متوجه کيږي، نو پدې اساس هغه مهمترين حقوق پلار يې د خپلو اولادونو په مقابل کې لري د هغې په رعايت کولو مکلف دی، لکه د نيک نوم ايښودل، د طفل څخه ساتنه او حضانت، د تعليم او تربيې او نفقې برابرولو حقوق. او په مقابل کې اولادونه هم د خپلو والدينو په وړاندې د يوسلسله حقوقو په رعايت کولو مکلف دي لکه احترام، اطاعت او داسې نور......

په پلار باندې د اولاد او په اولاد باندې د پلار د حقوقو په رابطه هغه چې طفل د بلوغ سن ته نه وي رسيدلی، نو د پلار د متبوع هيواد قانون تطبيق کيږي. بنا پردې که چيرې يو مراکشی سړی په افغانستان کې د يوې مصرۍ ښځې سره ازدواج وکړي او نوموړی ازدواج د زوی يا لور د تولد سبب شي او دوی ټول په افغانستان کې ژوند کوي، نو هغه وجايب او مکلفيتونه چې پلار او اولادونه يې يو د بل په وړاندې لري د مراکش د قانون پواسطه تنظيم کيږي. پس که چيرې د لور يا زوی د نسب د ثبوت، د نفقې د تامين، حضانت او نورو حقوقو په هکله دعوی په افغانستان کې مطرح شي، نو د افغانستان د ذيصلاح محکمې قاضي د پلار د متبوع هيواد قانون په اجرا کولو باندې مکلف دی، چې پدې مورد د مدني قانون ۲۲ماده دا ډول صراحت لري ((هغه مسلې چې د پلارانو او زامنو تر منځ د زوی ولۍ، ولايت او نورو وجايبو پورې مربوطې وي، د پلار د متبوع دولت د قانون حکمونه تطبيق کيږي)).

## دريم پراګراف

### د وجايبو حقوقو په ساحه کې د بهرنيانو حقوق او وجايب

د وجايبو حقوق دهغه قواعدو او مقرراتو ټولګه ده، چې يو د بل پر وړاندې د اشخاصو وجايب تنظيموي. چې دغه وجايب به يا د حقوقي اعمالو او يا د حقوقي حوادثو څخه ناشي وي چې دواړه په لنډ ډول د مطالعې لاندې نيسو.

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

**لومړی جز ــ د عقد څخه د ناشي وجايبو په مورد د بهرنيانو حقوق**

د عقد څخه د ناشي وجايبو په مورد د مدني قانون ۲۷ ماده دا ډول صراحت لري ((د هغه التزاماتو په باره کې چې د عقودو څخه پيدا شوي وي، د هغه دولت قانون تطبيقيږي چې د عقد د دواړو خواوو په کې اوسيدنه غوره کړي وي، په هغه صورت کې چې د اوسيدنې ځای اختلاف ولري، دهغه دولت قانون تطبيقيږي چې عقد په کښې پوره شوی وي پدې شرط چې د عقد دواړو خواوو د يو ټاکلي قانون د حکمونو د تطبيق په باره کې موافقه نه وي کړي او يا د قرينو څخه معلومه نه شي چې د عقد د دواړو خواوو مرام د بل قانون تطبيق وو. په عقار پورې مربوط د پوره شوو عقدونو په باره کې د عقار د ځای قانون تطبيقيږي)) د دې مادې د نص څخه په واضح ډول معلوميږي، چې د عقد څخه د ناشي وجايبو په مورد څلور حالتونه متصور دي .

**الف ــ د طرفينو د اختياري اقامتګاه قانون:** په هغه صورت کې چې طرفين د واحدې اختياري اقامتګاه لرونکي وي، نو د طرفينو د اختياري اقامتګاه قانون د تطبيق وړ دی. مثلاً يو افغان د يو مصري سره د راکړې ورکړې يوه معامله کوي او دواړه په مصر يا افغانستان کې اختياري اقامتګاه ولري، نو پدې حالت کې د عقد د آثر په مورد د طرفينو د اقامتګاه قانون د پلي کيدو وړ دی.

**ب ــ د عقد د تکميل د محل قانون :** په هغه صورت کې چې طرفين واحده اقامتګاه ونلري د عقد د تکميل د محل قانون د پلي کيدو وړ دی. د غير عيني عقدونو احکام په استثنا د وصيت په مجرد د ايجاب او قبول سره ثابتيږي، خو عيني عقدونه هغه وخت تکميل کيږي، چې مورد موضوع عين مقابل لورې ته تسليم شي. نوموړي عقدونه عبارت دي له هبې، عاريت، قرضې او رهن څخه. په هغه عقدونو کې چې په تليفون او مماثله وسايلو سره منعقد کيږي د ټولو فقهاو په اتفاق نظره سره عقد هغه وخت تکميل کيږي، چې د قابل له لورې قبول اعلان شي. بنا پردې د قبول په نسبت د موجب علم شرط نه دی. د مثال په ډول که چيرې متعاقدين د تليفون له لارې خبرې وکړي او يو د هغوی څخه ووائې چې خپل کور يا موټر مې پر تاسو باندې خرڅ کړ او مقابل لوری هم ووائې، چې قبول مې کړ نو عقد په مجرد د قبول په اعلان سره منعقد کيږي. خو د مدني قانون مطابق د غايبو طرفينو ترمنځ عقد

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

هغه وخت تکمیل کیږي، چې قابل د مقابل اړخ څخه اطلاع حاصله کړي، نو پدې اساس د مدني قانون مطابق په هغه صورت کې چې عقد د تلیفون او مماثله وسایلو په واسطه منعقد کیږي نو عقد هغه وخت تکمیل کیږي ، چې موجب د قابل د قبول څخه اطلاع حاصله کړي وي.(۱۸: ۱۸۸) د مدني قانون ۵۲۳ ماده پدې هکله دا ډول صراحت لري ((۱- د دوه غایبو خواوو تر منځ عقد په هغه زماني او ځای کښې پوره ګڼل کیږي چې ایجاب کوونکی د مقابل لورې د قبول څخه علم حاصل کړی وي، پدې شرط چې دواړو خواوو یا قانون د هغې په خلاف تصریح نه وي کړی. ۲- ایجاب کوونکي ته د قبول په د رسیدو سره داسې فرض کیږي چې علم پرې حاصل شوی دی)) د دې مادې د مفادو مطابق د غايبينو تر منځ د عقد اتمام کیدایشي په لاندې صورتونو سره ترسره شي:

۱- په غه صورت کې چې د عقد طرفین غایب وي او وغواړي، چې عقد د تلیفون له لارې منعقد کړي. مثلاً بایع مشتري ته ووائې چې خپل موټر مې په تا باندې خرڅ کړ او مقابل اړخ هم ووایې چې قبول مې کړ، خو که بایع د تلیفون د قطع کیدو په اثر د مقابل لورې قبول وا نه وري، نو عقد نه تکمیل کیږي مګر داچې بایع او مشتري بیرته یو د بل سره تماس ونیسي او یو بل ته ایجاب او قبول اعلام کړي او بایع هم د مقابل اړخ قبول واوري.

۲- په هغه صورت کې چې عقد د لیک له لارې منعقد شي او موجب خپل ایجاب د لیک په واسطه مقابل لورې ته اعلام کړي، شرط ده ، چې مقابل اړخ هم باید خپل قبول د لیک پواسطه موجب ته ولیږي او موجب لیک وصول او د قابل د قبول څخه اطمینان حاصل کړي د یادونې وړ ده، چې د ایمیل له لارې د لیک لیږل هم د دغه حکم تابع دی.

۳- په هغه صورت کې چې عقد د استازې له لورې منعقد کیږي او استازی هم د مرسل ایجاب مرسل الیه ته انتقال کوي، شرط ده چې استازی د مرسل الیه قبول هم مرسل ته انتقال او مقابل جانب له قبول څخه اګاهي حاصله کړي.

**ج- د ارادې د انتخاب قانون:** دعقد د تکمیل د محل قانون په هغه صورت کې د پلې کیدو وړ دی، چې د عقد طرفینو د تطبیق وړ قانون نه وي مشخص کړی. لکه یو

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

افغانی سوداګر د یوه مصري سوداګر سره د اخیستلو او خرڅولو په عقد توافق کوي د مشکل د بروز په صورت کې د مصر یا افغانستان قانون د پلي کیدو وړ دی.

**د ــ د عقد د محل قانون:** په هغه صورت کې چې د عقد محل عقار وي، نو د عقار د محل قانون قابل د تطبیق دی. د مثال په ډول که چیرې یو افغانی په مصر کې د مصري تبعه څخه عقار واخلي او وروسته د عقار د ملکیت د انتقال په مورد د بایع او مشتري تر منځ کوم مشکل رامنځته شي د مصر قانون د پلي کیدو وړ دی، خو که عقار په افغانستان کې وي نو د افغانستان قانون د تطبیق وړ دی.(۱۸: ۱۸۹)

خو د عقد د شکلي شرایطو په مورد هغه قانون د تطبیق وړ دی، چې عقد په هغه محل کې منعقد شوی وي د مدني قانون ۲۸ ماده پدې هکله دا ډول صراحت لري ((د عقودو د شکلي شرطونو په باره کې د هغه دولت د قانون حکمونه تطبیقیږي، چې عقد پکې پوره شوی وي)) همدارنګه په هغه صورت کې چې د عقد موضوع عقار وي لکه کور، ځمکه او داسې نور د عقار د محل قانون د پلي کیدو وړ دی، چې پدې مورد هم د مدني قانون ۲۷ ماده دا ډول صراحت لري ((د هغه التزاماتو په باره کې چې د عقودو څخه پیدا شوي وي، د هغه دولت قانون تطبیقیږي چې د عقد د دواړو خواوو په کې اوسیدنه غوره کړې وي، په هغه صورت کې چې د اوسیدنې ځای اختلاف ولري، دهغه دولت قانون تطبیقیږي چې عقد په کښې پوره شوی وي پدې شرط چې د عقد دواړو خواوو د یو ټاکلي قانون د حکمونو د تطبیق په باره کې موافقه نه وي کړې او یا د قرینو څخه معلومه نه شي چې د عقد د دواړو خواوو مرام د بل قانون تطبیق وو. په عقار پورې مربوط د پوره شوو عقدونو په باره کې د عقار د ځای قانون تطبیقیږي)).

**دوهم جز ــ د حقوقي حوادثو څخه په ناشي وجایبو باندې د پلي کیدو وړ قانون**

حقوقي حوادث هغه وقایع دي، چې د هغې حقوقي آثار د شخص د ارادې څخه پرته رامنځته کیږي یعنی د شخص د ارادې نتیجه نه وي او د قانون په حکم منځته راځي، که د حادثې ایجاد ارادي وي لکه غصب، ائتلاف او یا طبیعي وي لکه تولد مرګ او نور ..... پس که چیرې یو شخص د بل چا ملکیت غصب کړي په امري

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

صورت او د قانون په حکم مکلف دی، چې هغه مغصوب منه ته رد کړي، خو په هغه صورت کې چې هغه تلف کړي د ضمان په ورکړي مکلف دی. همدارنګه که چیرې د شخص د تقصیر په اثر د داسې عمل مرتکب شي، چې نورو ته ضرر پیښ کړي، نو په امري صورت او د قانون په حکم باید دهغې ضمان ورکړي.(۱۸:۱۹۰) د مدني قانون مطابق غیر تعاقدي وجایب که مضر فعل، که مفید فعل او که فضولي ارادې څخه ناشي وي دهغه قانون تابع دی، چې حادثه په هغه ځای کې پیښیږي. چې پدې مورد د مدني قانون ۲۹ ماده دا ډول صراحت لري (( ۱- د غیر تعاقدي التزامونو په باره کې د هغه دولت د قانون حکمونه تطبیقیږي ، چې په هغې کې د التزام پیداکوونکي حادثه واقع شوي وي. ۲- که التزام د داسې حادثې څخه پیدا شوي وي، چې د افغانستان څخه دباندې واقع شوي وي او حادثه په هغې ځای کې قانوني نه وي او په افغانستان کښې قانوني وپيژندل شي، د دې مادې د لمړۍ فقرې حکم تطبیقیږي)) .

## څلورم پراګراف

### د تجارت حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق او وجایب

تجارت حقوق د هغه قواعدو او مقرراتو ټولګه ده، چې د تجار او تجارتي معاملاتو څخه بحث کوي. په افغاني اتباعو سربیره بهرنیان هم په افغانستان کې د تجارت حقوقو په ساحه کې د ځانګړو حقوقو څخه برخمن دي، چې په هغې پورې مربوط مسایل د افغانستان کې د خصوصي پانګونې قانون پواسطه تنظیم کیږي، د دې قانون مطابق بهرني حقیقي اشخاص هم کولای شي چې په افغانستان کې پانګونه وکړي: ۱- ددې قانون په پنځمه ماده کې د درج شوو مواردو په استثنی، کورني او بهرني اشخاص کولای شي دهېواد په ټولو اقتصادي سکتورونو کې پانګه اچونه وکړي. ۲- بهرني اشخاص کولای شي یوازې دبهرنیو پانګواچونو یا په هېواد کې په موجود منظور شوي تشبث کې دبیاپانګو اچونولـه لارې، پانګه اچونه وکړي(۴ ماده). خو په افغانستان کې پانګونه ځینې ممنوعیتونه هم له ځان سره لري چې د افغانستان د خصوصي پانګونې قانون په ۵ ماده کې بیان شویدي((۱- په لاندې ساحوکې پانګه اچونه ممنوع ده: ۱-دهستوي انرژۍ په پراختیاکې. ۲-

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

دقمارخانو او هغوته د ورته ځایونو تأسیسول. ۳- دمخدره موادو او نشه راوړونکو موادو تولید.

کمېسیون واك لري دهېواد لوړوګټوته په پام سره، په دغو ډګرونو کې، ددې فقرې په (۲) جزء کې د درج شوي حکم په استثني، وخت په وخت بدلونونه راوړي.

(۲) کمېسیون واك لري وخت په وخت په ځینو صنایعو او په ټاکلو اقتصادي برخو او سوداګریزو شرکتونو کې بهرنی انتفاعي مالکیت محدود او دبهرني مالکیت مجازه فیصدي وټاکي. په منظور شوي تشبث کې موجودې پانګې اچونې لدې امر څخه مستثني دي.

(۳) کمېسیون مکلف دی د اقتصادي سکتورونوپه ځینوډګرونو او د پانګواچونو څخه په ځینو ډولونوکې له اړوندو وزارتونو او ادارو سره مفاهمه وکړي او دهغو په موافقې سره، نوموړې پانګه اچونه منظوره کړي . په دغهٔ ډول پانګواچونو کې کمېسیون کولای شي داسې شرایط وضع کړي چې له هغو عمومي شرایطو څخه چې ددې قانون دحکمونو مطابق په نورو پانګواچونو باندې تطبیقېږي، توپیرولري، پدې شرط چې دمالیې وزارت ددې قانون د مندرجاتوپه غیرنورډېرامتیازونه منظور کړي.

(۴) محدود شوي اقتصادي سکتورونه عبارت دي له :

۱- د وسلې ، مهماتو او چاودېدونکو موادو تولید او پلورل. ۲- غیربانکي مالي فعالیتونه . ۳- بیموي فعالیتونه . ۴- (دځنګلونوپه شمول ) په طبیعي سرچینو او (دمخابراتي تأسیساتو،دودانولو او پایپلاین دنصبولو په شمول ) په بنستونو (زېربناوو) کې پانګه اچونه، خوداچې اړوند قوانین، په دغوسکتورونو کې پانګه اچونه مجاز ګڼلې وي، پدې صورت کې پانګه اچونه دهغو دخاصو قوانینو مطابق تنظیمېږي.

www.ketabton.com په انټرنېټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

(۵)کمېسیون واك لري ددې مادې په درج شووپانګو اچونو کې وخت په وخت بدلون راولي))

## پنځم پراګراف

### د میراث حقوقو په ساحه کې د بهرنیانو حقوق

میراث حقوق د هغه قواعدو ټولګه ده، چې د متروکې څخه د هر یوه وارث برخه معلوموي. د میراث حقوقو د بحث موضوع د ترکې ویش او د هر وارث د برخې ټاکل دي. د مدني قانون مطابق بهرني اتباع هم کولای شي د خپلو مورثینو څخه میراث واخلي، ځکه د ارث له طریقه د اموالو او شتمنۍ کسب کول هغه حقوق نه دي ، چې یواځې په افغاني اتباعو پورې منحصر وي. نو پدې اساس که چیرې یو بهرنی په افغانستان کې مړ شي او له خپل ځان څخه مال او شتمني پرېږدي د هغې وارثان کولای شي د هغې اموال او شتمني د ارث له طریقه ترلاسه کړي.(۱۸: ۱۸۶)

او همدارنګه بهرنیان د ارث په مورد د خپل متبوع دولت د قوانینو تابع دي، چې پدې مورد د مدنی قانون ۲۵ ماده دا ډول صراحت لري (( ۱- د میراث، وصیت او نورو تصرفونو پورې موضوعي مربوط حکمونه چې د مرګ څخه وروسته زمانې پورې مربوط وي د مورث، وصیت کوونکي یا د هغه چا چې د هغه د مرګ په وخت کې ورڅخه تصرف شوی وي، د متبوع دولت د قانون حکمونه یې تطبیقیږي. ۲- د وصیت د شکلي حکمونو په باره کې د وصیت په وخت کې د وصي د قانون حکمونه یا د هغه ځای د قانون حکمونه چې وصیت په کښې پوره شوی وي تطبیقیږي ، همدارنګه د شکلي حکمونو نور تصرفونو چې د مرګ څخه وروسته زمانې ته منسوب وي د دې حکم تابع دی)).

## دریم مبحث

### د بهرنیانو د ورود ، عبور ، اقامت او اخراج حقوق او دهغې محدودیتونه

د ورود ، عبور، اقامت او خروج حقونه په نړیواله کچه د بهرنیانو د حقوقو څخه ګڼل کیږي، چې د دې حقوقو په اساس دولتونه باید پدې مواردو کې د بهرنیانو په رابطه هیڅ ډول محدودیتونه وضع نکړي، خو په عمل کې هیوادونه د سیاسي،

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

اقتصادي، اجتماعي او امنيتي مصلحتونو په نظر کې نيولو سره د بهرنيانو په رابطه د ذکر شويو حقوقو په مورد يو سلسله خاص محدوديتونه او شرايط وضع کوي. د مثال په ډول دولتونه د بهرنيانو د تګ راتګ د کنترول لپاره پر پاسپورټ سربيره چې د شخص د تشخيص وسيله ده، ويزه هم چې هيواد ته د ورود اجازه ده ضروري بولي . همدارنګه هيوادونه په هغه صورت کې چې د بهرنيانو حضور پخپل هيواد کې د عمومي نظم مخل تشخيص کړي، نو هغه اخراجوي . چې د بهرنيانو نوموړي حقوق او د هغې محدوديتونه او شرايط په لاندې ډول د مطالعې لاندې نيسو .

## لومړی پراګراف

### د بهرنيو اتباعو د ورود حق

د پورته توضيحاتو په نظر کې نيولو سره د بهرنيانو د حد اقل حقوقو د تامين لپاره، چې د نړيوالو خصوصي حقوقو د يوه اصل په حيث منل شويدی داسې نتيجه اخيستل کيږي، چې دا حق يو ثابت معيار نلري لکه څرنګه مو چې مخکې هم يادونه وکړه د دغه حقوقو د ميزان او اندازې تعين کول د دولتونو په طرز تفکر پورې تړاو لري، چې پدې مورد دوه ډوله ليدلوري شتون لري اخلاقي طرزتفکر او سياسي طرزتفکر، چې پدې مورد بحث موضوع کې د دغه دواړو ليد لوريو تاثير مشاهده کوو. چې د دغه ليدلورو سره سم يو ډله په هيواد کې د بهرنيانو د قبول د مطلقې آزادی طرفدار دي او بله ډله يې د دې آزادی د محدوديت طرفدار دي، چې دواړه يې په لاندې ډول د مطالعې لاندې نيسو.

### لومړی جز – د بهرنيانو د قبول مطلقه آزادي

د دې نظرئې پلويان پدې باور دي ، چې دولتونه نشي کولای پخپل زړه هيواد ته د بهرنيانو د ورود او اقامت څخه مخنيوی وکړي او يا داحق محدود کړي. ويتوريا Vitoria چې يو هسپانوی حقوقدان دی وائي چې که د بشريت تاريخ ته وګورو وبه وينو، چې په ابتدا کې ټول شيان د خلکو ترمنځ شريک وو او هيڅ قيد او شرط د افرادو لپاره شتون نه درلود او هر کس په آزادانه ډول کولای شول، چې د هر ډول ممنوعيت پرته مسافرت وکړي او دهغې څخه وروسته هم کله چې اموال او املاک

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

د اشتراکي صورت څخه بهر او فردي ملکیت پیدا او رامنځته شو، د دغې تحول الزام هم دا نه وو چې د خلکو ترمنځ د تګ راتګ لپاره کوم مانع ایجاد شي. خو البته په استثنائي حالاتو کې کله به چې واقعاً د بهرنیانو د ورود او اجتماع څخه خطر احساس شو ، نو خپل سرحد به یې د هغې په مخ تړلو او هیواد ته به یې د هغې د ورود څخه مخنیوی کولو.(۵۵ : ۱۱۴)

**دوهم جز- د بهرنیانو د قبول محدودیت**

د لومړی نظرئې پر خلاف بله عقیده هم شتون لري، چې کاملا د لمړنۍ عقیدې برعکس ده. د دې عقیدې پلویان وایي چې دولتونه دخپل هیواد قلمرو ته د بهرنیانو د ورود او اقامت په مورد د مقرراتو په تنظیم کولو کې د مطلقې آزادی څخه برخمن دي، د دې نظریې مطابق په هغه صورت کې چې د دولتونو تر منځ عهدنامه نه وي منعقد شوي، نو هیڅ هیواد مجبور نه دی چې د بل هیواد اتباع په خپل هیواد کې قبول کړي.

دغه نظریه د نړیوالو حقوقو موسسې له لورې د ۱۹۲۸ کال په غونډه کې چې په جینوا کې تشکیل شوي وه د تائید وړ وګرځیده، خو ذکر شوي هیت وویل چې عدالت د دې غوښتنه کوي چې دولتونه باید د دې اختیار څخه سوء استفاده ونکړي. او د بهرنیانو د ورود او اقامت ازادي یواځې په هغه مواردو کې محدوده کړي، چې واقعاً د هیواد د سیاسي حیات لپاره خطرناک پیشبیني شوي وي. نن ورځ نړیواله رویه دا ده، چې دولتونه د بهرنیانو د ورود او اقامت په مورد اصولاً ازاد دي، خو د دولتونو لپاره همیشه دا حق محفوظ دی چې دا حق د خپل لازمه مقرراتو مشمول وګرځوي او حتی د ضرورت په صورت کې دله ایز مهاجرت په کلي ډول ممنوع او یا دا چې په سختو شرایطو سره مجاز کړي . (۵۶ : ۱۰۶) لکه څه ډول چې داموضوع د مدني اوسیاسي حقوقو نړیوال میثاق په ۱۲ماده کې دا ډول تصریح شویده ((۱- هر څوک چې په قانوني توګه په خپله دولتي سیمه کې استوګن وي د ازاد تګ راتګ او په ازاده توګه هلته د اوسیدنې د ځای حق لري . ۲- هر څوک ازاد دی چې هر هیواد لدې جملې څخه خپل هیواد پریږدي. ۳- نوموړی حق تر هیڅ ډول بندیز لاندې نشي واقع کیدای، مګر هغه محدودیتونه او بندیزونه چې د قانون له مخې رامنځته شوي وي او د ملي امنیت ، عمومي نظم د ټینګښت، د

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

عمومي ګډوډيو يا د نورو د حقوقو او ازاديو دپاره لازم وګڼل شي او په دغه تړون کې له نورو حقوقو سره سمون ولري. ۴- هيڅوک نشو کولای په خپل سره پرته له کوم دليل څخه هيواد ته د ورتګ څخه بې برخې کړو)).

بايد يادونه وکړو چې د يوه هيواد څخه د بهرنيانو عبور يا ورود د يو سلسله تشريفاتو او خاصو مقرراتو مستلزم دی ، چې د هغې جملې څخه کولای شو پاسپورت او ويزې ته اشاره وکړو ، څرنګه چې مخکې هم يادونه وشوه هيواد ته د بهرنيو اتباعو د ورود ازادي د نړيوالو خصوصي حقوقو په برخه کې يو اصل دی چې دا اصل پر نړيوالو اسنادو سربيره د افغانستان په قوانينو کې هم پيشبيني شويدی، خو سربيره پردې هيوادونو او د هغې د جملې څخه افغانستان ته د بهرنيانو ورود په پاسپورت او ويزې پورې تړلی دی، چې دا دی په تفصيل سره يې په لاندې ډول مطالعه کوو .

**الف- پاسپورت[20] او د هغې ډولونه**

پاسپورت هغه سند دی، چې د يوه هيواد د واکمنو مامورينو له لورې دهغه هيواد اتباعو ته د مسافرت او په بل هيواد کې د اقامت لپاره صادريږي، چې په حقيقت کې د پيژندنې معتبر ترينې پاڼې او د صادروونکي هيواد د تابعيت څرګندوی دي. پاسپورت د هيوادونو ترمنځ د دخول او عبور لپاره مهترين سند دی، چې دهغې پرته نشي کولای چې د هيواد څخه خارج او يا هغې ته داخل شي او که چيرې يو شخص د پاسپورت پرته يو هيواد ته داخل او يا د هغې څخه بهر شي دا عمل جرم ګڼل کيږي او په قانون کې يې د متخلفينو لپاره مجازات پيشبيني شويدي.(۳ : ۱۹۵) يا پاسپورت هغه مطبوع سند دی چې د قانون له حکم سره سم د واکمنو مقاماتو له خو د يوه مملکت د اتباعو لپاره بهر ته د مسافرت يا هيواد ته د راستنيدو په منظور ويشل کيږي.(۵۷ : ۳۷) د افغانستان د پاسپورت قانون ۲ ماده د پاسپورت په تعريف کې دا ډول بيان کوي (( پاسپورټ هغه رسمي سند دی چې د دي قانون له حکمونو سره سم د واکمنو مراجعو له خوا بهر ته د هېواد د اتباعو د سفر او هېواد ته د هغوی د راستنيدو په مقصد صادريږي )) همدارنګه هيواد ته ورود او دخول د پاسپورت قانون په ۴ ماده کې دا ډول بيان شويد ((۱- هغه څوك چې له افغانستان

[20] *Passport*

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

نه ځي يا افغانستان ته راځي، مکلف دی چې د دې قانون له حکمونو او له نـړيوال تعامل سره سم پاسپورټ يا د مسافرت د تېرېدلو (عبوري) سند ولري)) په همدې ترتيب سره هغه بهرني اشخاص چې د پاسپورت څخه پرته د افغانستان قلمرو ته داخل شي دعدلي تعقيب لاندې نيول کيږي، چې د افغانستان اسلامي جمهوريت کې د بهرنيانو د مسافرت او استوګنې قانون ۴۵ ماده پدې مورد دا ډول صراحت لري ((هغه بهرنی تبعه چې د پاسپورت له لرلو پرته له افغاني سرحد نه راتېر شوی وي د قانون له حکمونو سره سم تر عدلي څارنې لاندې نيول کيږي)) .

د پاسپورت په لرلو سربيره يوه بله وجيبه چې بهرنيان يې لري د ځينو معلوماتي فورمو ډکول او خانه پري کول دي، چې د دولت له لورې د بهرنيو اتباعو د وضعيت څخه د معلوماتو د ترلاسه کولو په غرض تهيه او ترتيب کيږي، چې پدې مورد د افغانستان اسلامي جمهوريت کې د بهرنيانو د مسافرت او استوګنې قانون ۲۲ ماده دا ډول صراحت لري ((هغه بهرنی تبعه چې، د افغانستان اسلامي جمهوريت ته راځي مکلف دی د سرحدي ادارې او د هوائي ډګرونو هغو مؤظفو مامورينو نه چې د ننوتلو او وتلو لپاره ټاکل شوي وي خپل پاسپورټ او منضمه جدول (فورمه) چې په بهر کې د افغانستان اسلامي جمهوريت د سياسي نماينده ګيو له لارې ډکه شويده وړانــــدې کړې، د ويزې خاوندان کله چې د افغانستان اسلامي جمهوريت ته رسيږي مکلف دي په سرحدي سيـــــمو او هوائي ډګرونو کې د ننوتلو او وتلو جدول (فورمه) ډکه کړي)) پاسپورت زيات ډولونه لري، چې دلته د قانون له مخې د پاسپورت د ډولونو څخه په لاندې ډول يادونه کوو:

### ۱ـ سياسي پاسپورت

سياسي پاسپورت له هغې رسمي او مشخص سند څخه عبارت دی چې د نړيوالو موازينو سره سم د اړوندو مراجعو له خوا د قانون له حکمونو سره سم صادريږي.(۵۷ : ۱۹۱)د پاسپورت قانون د ۱۰ مادې په اساس سياسي پاسپورت عبارت دی له ((سياسي پاسپورټ له نړيوالو موازينو سره سم د بهرنيو چارو د وزير يا د هغه شخص په لاسليك سره صادريږي چې د بهرنيو چـــــارو وزير هغه ته واك ورکړی وي )) جمهور ريس، د جمهور ريس مرستيالانو، د سترې محکمې ريس او معاون، د ملي شورا د مجلسينو ريسانو، وزيرانو او د سياسي او

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

قونسلي نمائنده ګیو استازو او نظامي آتشې ته په ټولو رسمي او غیر رسمي سفرونو کې ورکول کیږي، همدارنګه دغه پاسپورت د پارلمان وکیلانو، د سترې محکمې د عالي شورا غړو، د ولایتونو والیانو، د کابل ښاروال، د فوق او مافوق رتبې مامور او هغه افسرانو ته چې د تورن جنرالی او د هغې څخه د پورته رتبې لرونکی وي یواځې د رسمي سفر په وخت کې ورکول کیږي او له رسمي سفرونو څخه پرته د خدمت پاسپورت ورکول کیږي (( د پاسپورت قانون د ۱۱مادې څخه په استفادې سره)).

**۲- د خدمت پاسپورت**

د خدمت پاسپورت هغه پاسپورت دی چې د رسمي سفرونو او د دولتي دندو د ترسره کولو او د غیر رسمي سفرونو په موخه بهر ته د اړوند مقاماتو له خوا د قانون له حکمونو سره سم صادریږي.[۵۷ : ۱۲۱]د پاسپورت قانون د ۱۴ مادې په اساس د پاسپورت قانون عبارت دی له ((د خدمت پاسپورټ د رسمي سفرونو، د امارتي دندو د تر سره کولو او د غیر رسمي سفرونو په مقصد د بهرنیو چارو د وزیر د مرستیال یا د هغه شخص په لاسلیك سره چې واك ورته ورکړ شوی وي، لاندینیو اشخاصوته صادریږي: ۱- د دې قانون په یوولسمه ماده کې درج شوي متقاعدو اشخاصو ته. ۲- هغه شخص ته چې د دولت په تجویز د رسمي چارو د تر سره کولو په مقصد بهر ته ولاړ شي. ۳- هغه شخص ته چې د دولت په تجویز په علمي او تربیتي غونډو (کنفرانسونو او سیمینارونو) او د هغه په څیر په نورو کې ګډون وکړي. ۴- درییمه رتبه او له هغه نه لوړ بر حال او متقاعد امارتي مامور او په وسله وال پوځ کې د هغو معادلو ته چې د حج د فریضې او عمرې د ادا کولو د متبرکو اماکنو د زیارت، یا د درملنې په خاطر یا د ملګري شخص په توګه او یا د سیاحت په مقصد سفر وکړي. ۵- د وسله وال پوځ معیوبینو معلولینو او ناروغانو ته، یا هغو کسانوته چې د افغانستان اسلامي دولت د حریم نه په دفاع کې معلول یا معیوب شوي دي او د درملنې په مقصد بهرته استول کیږي. ۶- هغه شخص ته چې د ورزشي او هنري فعالیتونو یا په نورو فرهنګي فعالیتونو کې د ګډون په مقصد د دولت له خوا بهرته واستول شي. ۷- هغو شمیر خصوصي متشبثینو او ملي سوداګرو ته چې د رسمي هیأتونو په ترکیب کې بهرته ځي. ۸- د دولتي تصدیو، د خصوصي او ګډو شرکتونو هغو

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

مامورینو ته چې د دولت په تجویز بهر ته ځي. ۹- نورو اشخاصوته د اړوندو ادارو له رسمي ورپیژندنې او د بهرنیو چارو وزارت له تشخیص وروسته )).

**۳- تحصیلي پاسپورت**

تحصیلي پاسپورت هغه مشخص رسمي سند یا پاسپورت دی چې د اوږدې یا لنډې مودې لپاره د تحصیل په مقصد د اړوندو مقاماتو له خوا د قانون له حکمونو سر سم صادرېږي.(۵۷ : ۵۲) پاسپورت قانون د ۱۸ مادې په اساس تحصیلي پاسپورت عبارت دی له ((تحصیلي پاسپورټ د اوږدې مودې یا لنډې مودې د تحصیل په مقصد د اړوندې ادارې په ورپیژندنې، د بهرنیو چارو وزارت له لارې، د وزیر د مرستیال یا د هغــــــه شخص په لاسلیك صادرېږي چې واك ورته ورکړ شوی وي)).

**۴- عادي پاسپورت**

عادي پاسپورت هغه مشخص رسمي سند یا پاسپورت دی چې د ځانګړو مقاصدو(سیاحت، کار، د مدني معاملو تصفیه، د خپلوانو لیدلو او د متبرکو اماکنو زیارت کولو) لپاره د اړوندو مراجعو له خوا د قانون له حکمونو سره سم صادرېږي.(۵۷ : ۲۰۵)د پاسپورت قانون د ۲۰ مادې په اساس عادي پاسپورت عبارت دی له (( عادي پاسپورټ د دې قانون د حکمونو په رعایتولو سره د لاندې مقصدونو لپاره صادرېږي: ۱- سیاحت. ۲- سوداګرۍ. ۳- د خپلوانو لیدل. ۴- د مدني او تجارتي معاملو تصفیه. ۵- کار. ۶- وظیفوي اړتیا. ۷- د حج د فریضې او عمرې ادا کول، د متبرکو اماکنو زیارت کول. ۸- درملنه )) دا پاسپورت د هیواد په داخل کې د کورنیو چارو وزیر په امر د هغه شخص له لورې چې ده صلاحیت ورکړی او په ولایاتو کې د ولایت د والي یا امنیه قومندان په امر او د هیواد څخه بهر د سیاسي او قونسلي نماینده ګیو له لورې صادرېږي . چې پدې مورد د افغانستان د پاسپورت قانون ۲۱ ماده دا ډول صراحت لري ((دغه لاندې مراجع د عادي پاسپورټ د صادرولو واك لري: **(۱) د هېواد په دننه کې: الف-** د کورنیو چارو د وزیر یا د هغه شخص په امر چې د کورنیو چارو وزیر هغه ته واك ورکړی. ب- د والي یا د اړوند ولایت د پولیسو د قوماندان په امر. **(۲) له هېواد**

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

**نه بهر:** افغاني سياسي يا قـــونســــلي نماينـده ګۍ. (۳) د پاسپورټ مرکزي اداره او د هغې ولايتي څانګې د پاسپورټ د چارو په اجراء کولو مکلفې دي)).

**ب ــ ويزه [21] او د هغې ډولونه**

که څه هم د يوه هيواد قلمرو ته دخول او ورود د يو سلسله خاصو تشريفاتو مستلزم دی لکه د پاسپورت لرل، خو بايد يادونه وکړو چې يوازې د پاسپورت لرل کافي نه دي بلکې د هيواد د واکمنو او ذيصلاح مقامونو څخه د اجازې اخيستل هم ضروري دي، چې دغه مجوز د متبوع دولت د مامورينو له لورې په مبدا هيواد کې صادريږي، چې د ويزې په نوم سره ياديږي(۵۷ : ۱۹۷) او ويزه هغه مهر لرونکی اجازه ليک دی چې د بهرنيو اتباعو لپاره بل هيواد ته د ننوتلو، وتلو او استوګنې لپاره په پاسپورت او يا جلا پاڼه کې صادريږي.(۵۷ : ۲۹۶)د افغانستان د اقامت او مسافرت قانون د ۳ مادې ۱ فقرې له مخې ويزه عبارت ده له ((۱- ويزه: هغه مهر لرونکی اجازه ليک دی چې د بهرنيو اتباعو د ننوتلو، وتلو او استوګنې لپاره په پاسپورټ او يا په جلا پاڼه کې ورکول کيږي)) په همدې ترتيب سره بهرنيان چې هيواد ته داخليږي پر پاسپورت سربيره ويزه هم بايد ولري چې پدې مورد د افغانستان اسلامي جمهوريت کې د بهرنيانو د مسافرت او استوګنې قانون ۱۵ ماده دا ډول صراحت لري ((هغه بهرني اتباع چې د افغانستان جمهوريت ته راننوځي، مکلف دي چې خپلې ويزې د افغانستان اسلامی جمهوريت له سفارتونو او قونسلګريو او يا د هغو نورو دولتونو په سفارتونو کې، چې د افغانستان اسلامی دولت د ګټو دفاع کوي او په هېواد کې د افغانستان اسلامي جمهوريت له اړوندو مقاماتو نه ترلاسه کړي)) د افغانستان اسلامي جمهوريت کې د بهرنيانو د مسافرت او استوګنې قانون په اساس ويزه مختلف ډولونه لري، چې په لاندې ډول ورڅخه يادونه کوو:

**۱- ورودي ويزه**

د افغانستان اسلامي جمهوريت کې د بهرنيانو د مسافرت او استوګنې قانون د ۴ مادې په اساس ورودي ويزه يا د ننوتلو اجازه ليک عبارت ده له (( د ننوتلو اجازه ليک (ويزه): دغه ډول ويزه هغو بهرنيو اتباعو ته چې د افغانستان اسلامي

---

[21] *Visa*

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

جمهويت ته راځي په بهر کې د افغاني سياسي او قونسلي نماينده ګيو له خوا او په استثنائې ډول د هوائې ډګرونو او د پولو (سرحدي) مؤظفينو له خوا د افغانستان اسلامي جمهوريت د بهرنيو چارو وزارت په موافقه صادريږي او ددغه شان ويزې د اعتبار موده د رسيدو له نېټې نه (پنځلس) ورځې ده او لرونکی ئې له اړوندو مراجعو نه د وتلو د ويزې په ترلاسه کولو مکلف دی. د هغه تمديدولو ته د اړتيا په وخت کې مکلف دی چې د افغانستان اسلامي جمهوريت د بهرنيو چارو وزارت موافقه تر لاسه کړي . هغه بهرنی تبعې ته چې سياسي مخصوص او د خدمت پاسپورت لري، که چېرې د سياحت لپاره د افغانستان اسلامي جمهوريت ته راشي ، د ننوتلو ويزه ورته صادريږي دغه راز په ځينو خاصو حالاتو کې د ځينو بهرنيو هېوادونو سيلانيانو ته د ننو تلو ويزه صادريږي )) چې ورودي ويزه په خپل وار سره په دوه ډوله ويشل کيږي

- د کار ورودي ويزه: د کار ورودي ويزه په بهر کې د افغانستان اسلامي جمهوريت د سياسي نماينده ګيو او قونسلګريو له لورې هغه بهرنيانو ته ورکول کيږي، چې د ځينو اعمالو د اجرا په غرض لکه تجارت، صنعت، په دولتي او غير دولتي دستګاو کې کار او داسې نورو ته صادريږي، چې د افغانستان اسلامي جمهوريت کې د بهرنيانو د مسافرت او استوګنې قانون ۵ ماده پدې هکله دا ډول صراحت لري (( د کار لپاره د ننوتلو ويزه: دا ډول ويزه د قانون له حکمونو سره سم په بهر کې د افغانستان اسلامی جمهوريت د سياسي نماينده ګيو او قونسلګريو له خوا، هغو بهرنيو اتباعو ته صادريږي چې د ځينو کړنو د ترسره کولو لکه د سوداګری، بازار موندلو ، صنعت په دولتي او غير دولتي مؤسسو کې د کار د بهرنيو دولتونو په سياسي او قونسلی نمايندګيو او د ملګرو ملتونو په نماينده ګيو او په نورو ورته ځايونو کې

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

د کارونو د ترسره کولو په مقصد، د افغانستان اسلامی جمهوریت ته قانون له حکمونو سره سم راځی...... )).

- ❖ د کار پرته ورودي ویزه: دا ډول ویزه د بهرنیو چارو وزارت یا په بهر کې د افغانستان د سیاسي نمایندګیو او قونسلګریو له هغه اشخاصو ته ورکول کیږي، چې د تحصیل، د خپلوانو ملاقات، د مدني او تجارتي معاملاتو د تصفیې، علمي څیړنو، مطبوعاتي او فرهنګي چارو، معالجې، بدني روزنې او په علمي غونډو او کنفرانسونو کې د ګډون لپاره نوموړي هیواد ته سفر کوي. همدارنګه د کار پرته ورودي ویزه هغه اشخاصو ته ورکول کیږي، چې خپلوان یې د کار په ورودي ویزه سره په نوموړي هیواد کې په کار مشغول وي، چې د افغانستان اسلامي جمهوریت کې د بهرنیانو د مسافرت او استوګنې قانون ۶ ماده پدې هکله دا ډول حکم کوي ((له کار پرته د ننوتلو اجازه لیک (ویزه): دغه شان ویزه د قانون له حکمونو سره سم په بهر کې د افغانستان اسلامي جمهوریت د سیاسي نماینده ګیو او قونسلګریو له خوا او یا د افغانستان اسلامي جمهوریت د بهرنیو چارو وزارت له لارې، هغو بهرنیو اتباعو ته صادریږي چې د زده کړې، د خپلوانو د کتنې، د مدني یا تجارتي معاملو د تصفیه کولو، علمي کتنو مطبوعاتي او کلتوري چارو د ترسره کولو، علاج، بدني روزنې او په هېواد کې په علمي مجلسونو (کنفرانسونو) غونډو او تربیتي مجلسونو (سیمینارونو) او په حکومتي رسمي میلمستیاوو کې د ګډون په مقصد د افغانستان اسلامي جمهوریت ته سفر وکړي او یا د هغو بهرنیانو د کورنیو غړو ته صادریږي چې د کار لپاره د ننوتلو د ویزې سره د افغانستان اسلامي

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

جمهوريت کې په کار بوخت وي او استوګنه ولري او د اعتبار موده ئی د اړوندې اداري په ليکلي غوښتنې سره ټاکل کيږي او اوږديږي)).

**۲- د اقامت ويزه**

د افغانستان اسلامي جمهوريت کې د بهرنيانو د مسافرت او استوګنې قانون د ۷ مادې له مخې د اقامت يا استوګنې ويزه عبارت ده له ((د استوګنې ويزه: دا ډول ويزه هغو بهرنيو اتباعو ته چې د ننوتلو د کار لپاره د ننوتلو يا له کار پرته د ننوتلو سياحت او د تمديد شوی تېرېدنې (عبوري) له ويزو څخه يوه ويزه ولري، د قانون له حکمونو سره سم د واکمنو مقامونو له خوا صادريږي او د اعتبار موده ئی له يوې مياشتې نه تر شپږو مياشتو پوري ده او د رسمي غوښتنې په صورت کې اوږديدای شي )) او همدارنګه د د نوموړي قانون د ۳۷ مادې له مخې ((د کورنيو چارو وزارت، د عادی پاسپورت ويزه د بهرنيو سيلانيانو، ماهرانو، د سفارتونو د عادی مامورينو، د غير حکومتی نړيوالو مؤسسو د غړو او د هغوی د کورنيو د غړو، بهرنيـــــو ژورنالستانو او خبرياالانو او د ملګرو ملتونو د عادی مامورينو د پاســــــپورټونو په شان اجراء کوی)).

**۳- د ترانزيټ ويزه**

د افغانستان اسلامي جمهوريت کې د بهرنيانو د مسافرت او استوګنې قانون ۸ ماده د ترانزيټ يا تيريدنې ويزې په تعريف کې وايې ((د تېرېدنې (ترانزيت) ويزه: دا ډول ويزه په بهر کې د افغانستان اسلامي جمهوريت دسياسي نماينده ګيو او قونسلګريو له خوا يا د نړيوالو هوائي ډګرونو د مؤظفينو له خوا د بهرنيو چارووزارت په موافقه د قانون له حکمونو سره سم هغو بهرنيو اتباعو ته صادريږي چې د افغانستان اسلامي جمهوريت، د مسافر د لارې په تګ لوري (مسير) کې وي او د اعتبار موده ئې په هر حالت کې د هواله لارې دوه او يا ساعته او د ځکمې له لارې، د ننوتلو له نېټې وروسته شپږ ورځې ده، دغه ويزه په دغه قانون کې د درج شوی مجبره حالت پرته د اوږديدو وړ ن، د اوږدېدو (تمديد) په حالت کی بهرنی د وتلو د ويزی په اخيستلو مکلف دی)).

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبی انلاين کتابتون

**۴ـ دوه طرفه تیریدو ( ډبل ترانزیت) ویزه**

د افغانستان اسلامي جمهوریت کې د بهرنیانو د مسافرت او استوګنې قانون د ۹ مادې له مخې عبارت ده له ((د دوه طرف تـــــېرېدو (ډبل ترانزیت) ویزه: دا ډول ویزه د متقابله ورته موافقه لیک او چلند له مخې په بهر کې د افغانستان اسلامي دولت د سیاسي نماینده ګیو او قونسلګریو له خوا، هغو بهرنیو اتباعو ته صادریږي ، چې د افغانستان اسلامي جمهوریت ، د دوی د سفر په تګ لورې (مسیر) کې د بیا تېرېدو په وخت کې واقع شوي وي او د اعتبار موده ئې د (بیاتېرېدو) په دواړو حالتونو کې د ځمکې او هواله لارې په اتمه ماده کې د درج شوي مودې مطابق ده او په دغه قانون کې د درج شویو مجبره عواملو په شتوالی سره اوږ دېدای شي او د اوږدیدو په صورت کې د تېرېدنې (ترانزیت) د ویزې جدول (فورمه) صادریږي )).

**۵ـ د سیاحت ویزه**

دا ډول ویزه هغه افرادو ته ورکول کیږي چې د سیاح په عنوان سره افغانستان ته داخلیږي. سیاح د افغانستان د سیاحت قانون د ۱ مادې په اساس د هغه شخص څخه عبارت دی، چې په موقت ډول او حداقل د ۲۴ ساعتونو لپاره د مملکت څخه لیدنه کوي، مشروط پردې چې په هغه ځای کې په عاید لرونکي دنده باندې مشغول نشي.

د افغانستان اسلامي جمهوریت کې د بهرنیانو د مسافرت او استوګنې قانون ۱۰ ماده د سیاحت ویزې په تعریف کې دا ډول صراحت لري ((د سیاحت ویزه: دا ډول ویزه د قانون له حکمونو سره سم په بهر کې د افغانستان اسلامي جمهوریت د سیاسي نماینده ګیو او قونسلګریو او په استثنائې ډول د نړیوالو هوائی ډګرونو د مؤظفینو له خوا، هغو بهرنیو اتباعو ته صادریږي چې د تفریح، استراحت او یا د سیاحتي (توریستیکي) سیمو د کتنې په مقصد د افغانستان اسلامي جمهوریت ته سفر کوي او د سیاحت د ویزې د اعتبار موده د افغانستان اسلامي جمهوریت ته د راننوتلو له نېټې نه تریوې میاشتې پورې ده او خاوند ئې د دغې مودې د تر سره کېدو په پای کې د وتلو د ویزې په ترلاسه کولو مکلف دی. د مراجعې په صورت کې سیلانی کولی شي د ګرځندوی د ادارې په تصدیق، خپله ویزه تریوې بلې میاشتې پورې چې ټوله موده ئی دوه میاشتې کیږي ، اوږده کړي . د سیاحت ویزه د کورنیو چارو وزارت له خوا اجرأ کیږي)).

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

**۶- د تک او راتګ ویزه**

د افغانستان اسلامي جمهوریت کې د بهرنیانو د مسافرت او استوګنې قانون ۱۱ ماده د تک او راتک ویزه دا ډول تعریفوي ((د تګ راتګ ویزه: دا ډول ویزه د قانون له حکمونو سره سم د افغانستان اسلامي جمهوریت د واکمنو مقاماتو له خوا، هغو بهرنیو اتباعو او د دوی د کورنیو غړو ته صادریږي چې د کورنۍ رئیس ئی د کار او یا له کار پرته، د ننوتلو له ویزې سره سم افغانستان ته راغلی وي، او دلته استوګنه ولري. د کار لپاره د ننوتلو د ویزې لیږدوونکی، هغه وخت د تګ راتګ له ویزې نه کار اخیستلی شي چې د خپلو اړوندو وجیبو او مالي حقوقو (ټکسونو) سندونه د اړوندو دائرو او مؤسسو په تصدیق سره وړاندی کړی. د تګ راتګ د ویزی د اعتبار موده هر ځلی له یوی میاشتې نه تر دوو میاشتو پوری ده او د استوګنې د ویزې د مودې په اعتبار چې اخیستل شوېده، ورکول کیږي. بهرنیو سیلانیانو ته د تګ راتک ویزه، د ګرځندوی ریاست په غوښتنه له خاصو مقرراتو سره سم ورکول کیږی)).

**۷- د زیاتو سفرونو(کثیر المسافرت) ویزه**

د افغانستان اسلامي جمهوریت کې د بهرنیانو د مسافرت او استوګنې قانون د ۱۲ مادې له مخې کثیر المسافرت ویزه عبارت ده له ((د زیاتو سفرونو (کثیرالمسافرت) ویزه: دا ډول ویزه د قانون له حکمونو سره سم د افغانستان اسلامي جمهوریت د واکمنو مقامونو له خوا د حکومتونو د ورته موافقې او چلند له مخې ، د بهرنیو مؤسسو کار کوونکو د الوتنې عملیې، بهرنیو موټرچلوونکو او کلینرانو او د بهرنیو شرکتونو (کمپنیو) غړو ته صادریږي. د زیاتو سفرونو د ویزی د اعتبار موده له درېیو میاشتو نه تر شپږو میاشتو پوری ده)).

**۸- د وتلو(خروجي) ویزه**

د افغانستان اسلامي جمهوریت کې د بهرنیانو د مسافرت او استوګنې قانون د ۱۳ مادې له مخې خروجي ویزه عبارت ده له ((دوتلو (خروجي) ویزه: دا ډول ویزه د قانون له حکمونو سره سم د واکمنو مقاماتو له خوا هغو بهرنیو اتباعو ته صادریږي چې د کار او یا له کار پرته د ننوتلو له ویزې سره افغانستان ته راغلی وي او یا هغو کسانو ته صادریږي چې د تېرېدنې (ترانزیت) او یا د سیاحت ویزه

www.ketabton.com په انټرنېټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

ئی له ټاکلي مودې نه اوږده شوی وي او د اعتبار موده ئی له یوې ورځې نه تر شپږو ورځو پورې ده او د مجبره سببونو د شته والی په صورت کې اوږدېدای شي)) همدارنګه د ذکر شوي قانون د ۳۷ مادې له مخې ((د کورنیو چارو وزارت، د عادی پاسپورت ویزه د بهرنیو سیلانیانو، ماهرانو، د سفارتونو د عادی مامورینو، د غیر حکومتی نړیوالو مؤسسو د غړو او د هغوی د کورنیو د غړو، بهرنیـــــو ژورنالستانو او خبریالانو او د ملګرو ملتونو د عادي مامورینو د پاســــــپورټونو په شان اجراء کوي)).

باید یادونه وکړو چې هیڅوک نشي کولای د ویزې اخیستلو څخه پرته بل هیواد ته سفر وکړي مګر دا چې د دوو یا زیاتو دولتونو ترمنځ د ویزې د لغوه کولو قرارداد منعقد شوی وي، چې پدې صورت کې افراد کولای شي چې د ټاکلي وخت لپاره د تړون مقابل لورې هیواد ته له ویزې پرته یواځې د پاسپورت او یا د مسافرت د نورو اسنادو سره داخل شي. د مثال په ډول د اروپائې اتحاد ئې غړي د عادي او سیاسي پاسپورتونو لرونکو لپاره د ویزې د لغوه کولو قرارداد کړیدی، چې پدې اساس د اروپائې اتحادئې د غړو هیوادونو افراد د نوموړي اتحادئې نورو هیوادونو ته د داخلیدو لپاره د ویزې اخیستلو ته ضرورت نلري . د دې هیوادونو اتباع کولای شي د پاسپورت په لرلو سره دهیوادونو د سرحدونو څخه تیر او بل هیواد ته داخل شي، خو د افغانستان د مسافرت او اقامت قانون په اساس بهرني اتباع چې افغانستان ته داخلیږي مکلف ګڼل شویدي چې د افغانستان ورودي ویزه په بهر کې د افغانستان د سیاسي نمایندګیو او قونسلګریو څخه ترلاسه کړي، پدې مورد د افغانستان اسلامي جمهوریت کې د بهرنیانو د مسافرت او استوګنې قانون ۱۵ ماده دا ډول صراحت لري ((هغه بهرني اتباع چې د افغانستان اسلامي جمهوریت ته راننوځي، مکلف دي چې خپلې ویزې د افغانستان اسلامي جمهوریت له سفارتونو او قونسلګریو او یا د هغو نورو دولتونو په سفارتونو کې، چې د افغانستان اسلامي جمهوریت د ګټو دفاع کوي او په هېواد کې د افغانستان اسلامي جمهوریت له اړوندو مقاماتو نه ترلاسه کړي)).

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

**دریم جز ـ افغانستان ته د بهرنیو اتباعو د ورود حق استثنات**

په افغانستان کې د بهرنیو اتباعو د مسافرت او اقامت قانون په اساس د افغانستان اسلامي جمهوري دولت کولای شي ، چې د امنیتي ، صحي او عمومي مصلحتونو او داسې نورو پر بنسټ افغانستان ته د بهرنیو اتباعو ورود محدود یا ممنوع کړي، چې پدې مورد په افغانستان اسلامي جمهوریت کې د بهرنیانو د مسافرت او استوګنې قانون ۳۳ ماده دا ډول حکم کوي (( له لاندینیو حالاتو پرته ټول بهرني اتباع ددغه قانون له حکمونو سره سم د افغانستان اسلامي جمهوریت ته سفر کولای شي: ۱- پداسی حال کی چی دالحاد داعی وي او د اسلامي حکمونو او دیني اخلاقو درناوی ونه کړي. ۲- پداسې حال کې چې د واکمنو ادارو په تصمیم ، د بهرني تبعه راننوتل منع کړای شوي وي. ۳- په هغه صورت کې چې لنډه غر وي ، او د سفر لګښتونه د افغانستان اسلامي جمهوریت ته ورنه کړای شي. ۴- پداسې حـــال کې چې په بهر کې د افغانستان اسلامي جمهوریت سیاسي نماینده ګی په مؤجه دلائلو سره افغانستان ته د شخص راتګ نامطلوب بللی وي. ۵- هغه کسان چې د یوې ټاکلی مودې لپاره له افغانستان څخه ایستل شوی وي ، مګر ټاکلی مؤده ئی نه وي بشپړه کړې. ۶- هغه اشخاص چې د نامعلومې مودې لپاره ایستل شوی وي . ۷- هغه کسان چې د هغوی په هکله د امنیت او عمومي نظم د ګډوډولو اشتباه وي))
.

په همدې ترتیب سره دولت کولای شي، چې د هغه بهرنیو اتباعو د ورود څخه مخنیوی وکړي چې په خطرناکې ساري ناروغۍ مبتلا وي. همدرانګه د جګړې په حالاتو کې او یا دیته ورته نورو حالاتو کې، چې د هیواد ملي امنیت ته د بهرنیو اتباعو څخه د خطر احتمال موجود وي او یا دا چې د شخص د متبوع دولت سره د جنګ په حالت کې وي نو دولتونه کولای شي، چې د ویزې د صدور څخه ډډه وکړي.(۵۵ : ۱۲۰) همدارنګه که چیرې یو بهرنی تبعه د ټاکلو سرحدي سیمو څخه پرته په بله لار هیواد ته داخل شي که څه هم ویزه ولري، نو پخپله دا ډول عمل جرم ګڼل کیږي چې د مجازاتو مستوجب دی. په همدې ترتیب سره که بهرني اتباع پرته له پاسپورت څخه هیواد ته داخل شي د عدلي تعقیب لاندې نیول کیږي ، چې پدې مورد د افغانستان اسلامي جمهوریت کې د بهرنیانو د مسافرت او استوګنې قانون ۴۵ ماده دا ډول صراحت لري ((هغه بهرنی تبعه چې د پاسپورت له لرلو

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

پرته له افغانی سرحد نه راتېر شوی وي د قانون له حکمونو سره سم تر عدلی څارنې لاندې نیول کیږي)) خو پدې مورد یې مجازات او یا د بهرنیانو سره د چلند د څرنګوالي په مورد یې څه نه دي ویلي .

پدې ځای یوه پوښتنه مطرح کیږي هغه دا که چیرې یو شخص پرته له تابعیت څخه هیواد ته داخل شي آیا د دې ډول اشخاصو سره د هماغه ډول اشخاصو په شان دی، چې د یوه هیواد تابعیت لري خو د پاسپورت پرته هیواد ته داخلیږي او که بل ډول ؟ ځکه بې تابعیته اشخاص متبوع دولت نلري، چې د هغې پاسپورت ولري پدې مورد هم په افغانستان کې د بهرنیو اتباعو د مسافرت او اقامت قانون کوم صراحت نلري، چې دا موضوع هم د دې قانون په احکامو کې د دوباره غور او بررسی غوښتنه کوي، چې هیله ده په راتلونکي کې د دې موضوع لپاره منطقي د حل لاره ولټول شي.

## دوهم پراګراف

### د بهرنیو اتباعو د اقامت حق

دا چې اصول د دې غوښتنه کوي، چې اشخاص دې د خپل اوسیدنځای په انتخاب کې ازاد وي او دولتونو هم د دې اصل مطابق د بهرنیانو د اقامتګاه لپاره خاص مقررات وضع کړیدي چې غالباً د بهرنیو چارو وزارت له لورې تائید شوي وي.(۵۵ : ۱۲۴) اقامت ممکن موقت او ممکن دایمي وي. د افغانستان اسلامي جمهوریت د قوانینو مطابق بهرني اتباع د ویزې د اخیستلو وروسته په افغانستان کې د اقامت حق لري ، خو منتها د دوی اقامت په هغه وخت پورې تړاو لري چې د هغې په ویزه کې تصریح شوی وي. څرنګه چې مخکې هم یادونه وشوه اقامت ممکن دایمي او ممکن موقتي وي، چې دواړه یې په جلا جلا ډول د مطالعې لاندې نیسو.

**لومړی جز ــ موقت اقامت**

که چیرې په بل هیواد کې د بهرني توقف په موقت ډول وي دیته موقت اقامت وایې او په بله اصطلاح کې توقف هم ورته ویل کیږي. دادول اقامت هغه وخت تحقق پیداکوي، چې بهرنی تبع د تحصیل، سیاحت او د دې پشان نورو مواردو لپاره د بل

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

هيواد قلمرو ته داخل او وارد شي خو د دايمي اقامت قصد او اراده ونلري. البته دغه حق د يو لړ مقرراتو په رعايت سره مشروط دی ، چې د عمومي نظم او امينت د ساتنې لپاره وضع شوي وي.(۵۶ : ۱۰۸) د افغانستان اسلامي جمهوريت کې د بهرنيانو د مسافرت او استوګنې قانون په اساس هغه څوک چې پدې قانون کې د تصريح شويو ويزو د ډولونو څخه په د يوې په واسطه افغانستان ته داخل شي کولای شي په هيواد کې تر شپږو مياشتو پورې اقامت وکړي چې پدې مورد د ذکر شوي قانون ۸ ماده دا ډول صراحت لري ((د تېرېدنې (ترانزيت) ويزه: دا ډول ويزه په بهر کې د افغانستان اسلامي جمهوريت دسياسي نماينده ګيو او قونسلګريو له خوا يا د نړيوالو هوائې ډګرونو د مؤظفينو له خوا د بهرنيو چارووزارت په موافقه د قانون له حکمونو سره سم هغو بهرنيو اتباعو ته صادريږي چې د افغانستان اسلامي جمهوريت ، د مسافر د لارې په تګ لورې (مسير) کې وي او د اعتبار موده ئې په هر حالت کې د هواله لارې دوه او يا ساعته او د ځکمې له لارې ، د ننوتلو له نېټې وروسته شپږ ورځې ده ، دغه ويزه په دغه قانون کې د درج شوی مجبره حالت پرته د اوږديدو وړنه ، د اوږدېدو (تمديد) په حالت کی بهرنی د وتلو د ويزی په اخيستلو مکلف دي )).

لکه څه ډول چې مخکې هم يادونه وشوه په هيواد کې د اقامت د مواردو څخه يو هم سياحت دی ، چې بهرني اتباع موقتاً او د يوې محدودې مودې لپاره هيواد ته داخليږي او غواړي، چې خپل اصلي هيواد ته بيرته لاړ شي. د مسافرت او اقامت قانون له مخې بهرنيو اتباعو ته د ورود او اقامت ويزې له هيواد څخه بهر او يا هوايي ميدانونو او سرحدونو کې د اړوندو مسولينو له لورې صادريږي او د دوه مياشتو لپاره د تمديد وړ ده، چې پدې مورد د نوموړي قانون ۱۰ ماده دا ډول صراحت لري ((دا ډول ويزه د قانون له حکمونو سره سم په بهر کې د افغانستان اسلامي جمهوريت د سياسي نماينده ګيو او قونسلګريو او په استثنائي ډول د نړيوالو هوائی ډګرونو د مؤظفينو له خوا، هغو بهرنيو اتباعو ته صادريږي چې د تفريح، استراحت او يا د سياحتي (توريستيکي) سيمو د کتنې په مقصد د افغانستان اسلامي جمهوريت ته سفر کوي او د سياحت د ويزې د اعتبار موده د افغانستان اسلامي جمهوريت ته د راننوتلو له نېټې نه ترېوې مياشتې پوری ده او خاوند ئی د دغې مودې د تر سره کېدو په پای کې ، د وتلو د ويزې په ترلاسه کولو مکلف دی. د

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

مراجعې په صورت کې سیلانی کولی شي د ګرځندوی د اداري په تصدیق، خپله ویزه تریوې بلې میاشتې پورې چې ټوله موده ئی دوه میاشتې کیږي، اوږده کړي. د سیاحت ویزه د کورنیو چارو وزارت له خوا اجرأ کیږي)).

**دوهم جز – دایمي اقامت**

دایمي اقامت هغه اقامت دی چې بهرنی د یوه هیواد به قلمرو کې د خپل ځان لپاره قانوني اقامتګاه اختیار کړي. په بل عبارت په بل هیواد کې د بهرني دایمي اقامت خپل یا بل ثالث هیواد ته د مراجعې د حق څخه پرته په بل هیواد کې د بهرني د مداوم توقف څخه عبارت دی.(۷ : ۶۸) د یادونې وړ ده چې نن ورځ اصولاً دولتونه په خپلو هیوادونو کې د بهرنیانو د اقامت سره مخالفت نکوي، ولې دا امر د دې مانع نه ګرځي چې دا آزادي دخاصو مقرراتو او شرایطو لاندې راشي. دا نقطه هم د یادولو وړ ده، که چیرې د بهرنیو اتباعو اقامت په دسته جمعي ډول وي یا په بل عبارت دایمي اقامت د مهاجرت شکل ځانته اختیاروي پدې دلیل چې د هغې وخت نامحدود وي، خو هغه تشریفات چې بهرنیان یې باید د دایمي اقامت د اجازې د ترلاسه کولو په هکله رعایت کړي اصولا هماغه تشریفات دي، چې قانون د موقت اقامت لپاره مقرر کړیدي.(۵۶ : ۱۰۹) د افغانستان په اسلامي جمهوریت کې د بهرنیانو د مسافرت او استوګنې قانون ۷ ماده هم د اقامت ویزې څخه پدې ډول یادونه کړیده ((د استوګنې ویزه: دا ډول ویزه هغو بهرنیو اتباعو ته چې د ننوتلو د کار لپاره د ننوتلو یا له کار پرته د ننوتلو سیاحت او د تمدید شوی تېرېدنې (عبوري) له ویزو څخه یوه ویزه ولري، د قانون له حکمونو سره سم د واکمنو مقامونو له خوا صادرېږي او د اعتبار موده ئی له یوې میاشتې نه تر شپږو میاشتو پوري ده او د رسمي غوښتنې په صورت کې اوږدیدای شي)).

د یادونې وړ ده چې په افغانستان کې د بهرنیو اتباعو د مسافرت او اقامت قانون د دایمي او موقتي اقامت په مورد لازم توضیحات نه لري، **چې د یو شخص اقامت د کومو شرایطو لاندې موقت او د کومو شرایطو لاندې دي او ایا د دایمي او موقتي اقامت د حقوقو او امتیازاتو تر منځ کوم توپیر شتون لري یا دا چې د مساوي حقوقو څخه برخمن دي؟** چې دا موضوع د نوموړي قانون په احکامو کې د دوباره غور او بررسۍ غوښتنه کوي.

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

## دریم پراګراف

### د عبور حق

ځیني وختونه ممکن بهرنۍ تبعه په یوه هیواد کې د توقف او اقامت قصد ونلري بلکې یواځې وغواړي، چې بل هیواد ته د رسیدو لپاره د یوه هیواد څخه عبور وکړي، پدې صورت کې بهرنیان ضرورت لري تر څو د بهرنیو چارو وزارت د اړوندو مقاماتو او یا نورو ادارو څخه چې د ویزې د صدور صلاحیت لري د عبور ویزه ترلاسه کړي او په ټاکلي وخت کې د هیواد ټاکلیو سرحدونو ته داخل او په معینه موده کې دهغې څخه عبور وکړي.(۳ : ۲۰۴)

په افغانستان کې د بهرنیو اتباعو د مسافرت او اقامت قانون هم هغه بهرني اتباع ، چې افغانستان د دوی د لارې په مسیر کې وي مکلف ګڼل شویدي، چې د ترانزیټ یا عبور ویزه په بهر کې د افغانستان د سیاسي نماینده ګیو او قونسلګریو او یا هیوائې میدانونو څخه ترلاسه کړي. د دې ډول ویزې موده د هوا له طریقه ۷۲ ساعته او د ځمکې له طریقه ۶ ورځې ده، چې د عبوري ویزې د خصوصیاتو او وخت په مورد د ذکر شوي قانون ۸ ماده دا ډول صراحت لري ((دا ډول ویزه په بهر کې د افغانستان اسلامي جمهوریت دسیاسي نماینده ګیو او قونسلګریو له خوا یا د نړیوالو هوائې ډګرونو د مؤظفینو له خوا د بهرنیو چارووزارت په موافقه د قانون له حکمونو سره سم هغو بهرنیو اتباعو ته صادریږي چې د افغانستان اسلامي جمهوریت ، د مسافر د لارې په تګ لورې (مسیر) کې وي او د اعتبار موده ئې په هر حالت کې د هواله لارې دوه او یا ساعته او د ځکمې له لارې ، د ننوتلو له نېټې وروسته شپږ ورځې ده، دغه ویزه په دغه قانون کې د درج شوی مجبره حالت پرته د اوږدیدو وړنه ، د اوږدېدو (تمدید) په حالت کی بهرنی د وتلو (خروجي) ویزی په اخیستلو مکلف دی )) د مسافرت قانون کې د یو بل ډول ویزې څخه چې د دوه طرفه عبوري یا ډبل تراتزیت ویزې په نوم سره یادیږي هم یادونه شویده، چې زیاتره په موافقت نامو او بالمثل متقابله رویې باندې استوار وي چې د دې ډول ویزې وخت او مورد هم په ۸ ماده کې د ذکر شوي ویزې سره توپیر نه لري . دغه ډول ویزه هم د تمدید وړ ده لکه چې پدې مورد په افغانستان کې د بهرنیو اتباعو د مسافرت او استوګنې قانون ۹ ماده دا ډول صراحت لري ((د دوه

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

طرف تـــــيږېدو (ډبل ترانزيت) ويزه: دا ډول ويزه د متقابله ورته موافقه ليک او چلند له مخې په بهر کې د افغانستان اسلامي دولت د سياسي نماينده ګيو او قونسلګريو له خوا، هغو بهرنيو اتباعو ته صادريږي ، چې د افغانستان اسلامي جمهوريت، د دوی د سفر په تګ لورې (مسير) کې د بيا تيږېدو په وخت کې واقع شوي وي او د اعتبار موده ئې د (بياتيږېدو) په دواړو حالتونو کې د ځمکي او هواله لارې په اتمه ماده کې د درج شوي مودې مطابق ده او په دغه قانون کې د درج شويو مجبره عواملو په شتوالی سره اوږ دېدای شي او د اوږديدو په صورت کې د تيږېدنې (ترانزيت) د ويزې جدول (فورمه) صادريږي)). د يادونې وړ ده چې دعبوري ويزې خاصيت دا دی، چې دا ډول ويزه د نورو ويزو برعکس د خروجي ويزې د اخيستلو الزام نه لري ، مګر دا چې دا ډول ويزه د غير مترقبه عواملو په اساس تمديد شوي، پدې معنی که چيرې يو مسافر وغواړي چې د تاجکستان څخه پاکستان ته مسافرت وکړي نو ناچاراً بايد د افغانستان عبور وکړي البته د ځمکي له لارې. پدې صورت کې بايد د افغانستان د ترانزيټ ويزه په په ايران کې د افغانستان د قونسلګری څخه واخلي او هيواد ته داخلي او وروسته د افغانستان څخه عبور وکړي ، چې پدې صورت کې د افغانستن د بندرونو څخه د خروج په وخت کې د افغانستان سرحدي مامورين دهغې څخه د خروجي ويزې پوښتنه نه کوي اود يواځې د عبوري ويزې لرل کافي دي، پدې معنی چې شخص د خروجې ويزې اخيستلو ته ضرورت نلري.

## دريم پراګراف

## د خروج حق

دا يوه روښانه او واضح موضوع ده، چې بهرني اتباع هر کله وغواړي د اړوند مملکت د مقاماتو په اجازه سره د متوقف فيها دولت څخه خارج شي. اصولاً د هيواد څخه خروج او بهر کيدل د پاسپورت يا نورو لازمو مدارکو لکه د معتبرې او قانوني ويزې د ارايه کولو پرته خروج ممکن نه دی، پدې ترتيب سره د بهرنيانو د خروج په مورد د هر هيواد د مقرراتو په موجب لازمه ده، چې د دولتي مقاماتو څخه اجازه حاصله کړي. په افغانستان کې د بهرنيو اتباعو د مسافرت او اقامت قانون مطابق بهرني اتباع چې په قانوني ډول افغانستان ته داخليږي دخروج په

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

وخت کې مکلف دي بلل شوي تر څو خروجي ويزه واخلي او همدارنګه هغه وخت کولای شي، چې د افغانستان څخه خارج شي چې د عدلي تعقيب لاندې نه وي او يا دا چې مقروض نه وي، چې پدې مورد په افغانستان کې د بهرنيو اتباعو د مسافرت او استوګنې قانون ۳۲ ماده دا ډول صراحت لري ((هغه بهرنی تبعه چې د کار لپاره د ننوتلو ويزې سره، د افغانستان اسلامي جمهوريت ته را ننوځي او د استوګنې موده ئی تېره شي، پدې شرط له افغانستان نه وتلی شي ، چې د وتلو ويزه ترلاسه کړی. د وتلو ويزه هغه وخت د کورنيو چارو وزارت د څانګې له خوا هغه ته صادريږي چې: ۱- د حکومت او يا د اړوندې مؤسسې پوروړی نه وي. ۲- د قانون له حکمونو سره سم تر عدلی څارنې لاندېنه وي. ۳- محکمې له وتلونه د ده د مخنيوي په هکله کوم حکم يا قرار نه وي صادر کړی. هغه واکمن مقامات چې دوتلو د مخنيوی امر صادروي، مکلف دي چې د موضوع په هکله بهرنی تبعه او د کورنيو چارو وزارت اړوندو څانګو ته خبر ورکړي)) لکه څرنګه چې يو بهرنی کولای شي يو هيواد ته داخل شي په همدې ډول کولای شي د هيواد څخه بهر هم شي او دولتونه نشي کولای چې د بهرنيو اتباعو دخروج مانع وګرځي مګر په هغه صورت کې، چې د قانون پواسېه مشخص شوي وي. لکه څه ډول چې د ۳۲ مادې د حکم مطابق بهرني اتباع په دريو مواردو کې نشي کولای ، چې د افغانستان څخه خارج شي اولاً دا چې د دولت او خلکو مقروض نه وي ثانياً دعدلي تعقيب لاندې نه وي او ثالثاً د محکمې يا نورو واکمنو مراجعو له لورې ممنوع الخروج نه وي اعلان شوی.

د نړيوالو قواعدو پر بنسټ هم هر څوک حق لري خپل استوګنځی په خپله خوښه غوره او وټاکي . هر انسان حق لري چې په خپله خوښه له يو ځای نه بل ځای سفر وکړي او هستوګنه غوره کړي . د بشر حقوقو نړيوالې اعلاميې په اساس د ترک او خروج حق د بهرنيو اتباعو لپاره په رسميت پيژندلی دی او پدې مورد د ذکر شوي اعلاميې ۱۳ ماده دا ډول صراحت لري (( ۱- هر څوک حق لري د هر هيواد په دننه کې په ازادانه توګه د تلو او استوګنې ځای غوره کړي . ۲- هر څوک ازاد دي او حق لري د خپلې استوګنې ځای بدل کړي، او حق لري په هر هيواد کې چې وغواړي ژوند وکړي او يا هغه پريږدي)) همدارنګه نوموړی حق د بشر حقوقو اسلامي اعلاميې په ۱۲ ماده کې هم بيان شوی دی (( هر انسان د شريعت سره سم

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

د هیواد دننه یا بهر د استوګنځي د لیږدوني او غوره کولو حق لري....)) په همدې ډول د مدني اوسیاسي حقوقو نړیوال میثاق کې هم پدې حق باندې هم تاکید شوی دی ((۱- هر څوک چې په قانوني توګه په خپله دولتي سیمه کې استوګن وي د ازاد تګ راتګ او په ازاده توګه هلته د اوسیدنې د ځای حق لري . ۲- هر څوک ازاد دي چې هر هیواد لدې جملې څخه خپل هیواد پریږدي . ۳- نوموړی حق تر هیڅ ډول بندیز لاندې نشي واقع کیدای ، مګر هغه محدودیتونه او بندیزونه چې د قانون له مخې رامنځته شوي وي او د ملي امنیت، د عمومي نظم د ټینګښت، د عمومي ګټو یا د نورو د حقوقو او ازادیو دپاره لازم وګڼل شي او په دغه تړون کې له نورو حقوقو سره سمون ولري. ۴- هیڅوک نشو کولای په خپل سر پرته له کوم دلیل څخه هیواد ته د ورتګ څخه بې برخې کړو)) نو څه ډول چې پورته ذکر شول بهرني اتباع کولای شي د یو هیواد څخه بهر شي، چې عمدتاً د بهرني تبعه په قصد او اراده پورې تړاو لري اما داسې حالتونه هم شتون لري چې بهرنی تبعه د خپلې ارادې پرته د دولت له لورې د هیواد څخه خروج ته مجبوریږي.

## تبصره ـ اخراج

په ځینو خاصو حالاتو کې دولتونه د خپلو سیاسي ، ټولنیزو او امنیتي دلایلو په اساس په انفرادي او یو اړخیز ډول د نړیوالو نزاکتونو خلاف د بهرنیو اتباعو اخراج ته اقدام کوي ، دا اخراج نباید د نړیوالو اصولو سره په تضاد کې واقع شي. نو بناً دعدالت او انصاف د رعایت کولو لپاره باید صورت ونیسي.(۲- ۲۰۶) په واقعیت کې د دولتونو د حاکمیت اصل ته په توجه سره هر دولت د دې حق لري چې د خپل امنیت او استقلال د ساتنې په هغه صورت کې، چې بهرنی تبعه پخپل هیواد کې د عمومي نظم مخل وپیژني هغه اخراج کړي او دا د اخراج کوونکي دولت په سیاسي او ټولنیزو مصلحتونو پورې تړاو لري.

خو باید یادونه وکړو چې دولتونه یواځې په ځینو استثنایي مواردو کې چې د بهرني تبعه شتون واقعاً د مملکت عمومي نظم او امنیت مختل کړي کولای شي د بهرنیانو اخراج ته اقدام وکړي، خو پرته لدې چې بهرني شخص ته صدمه ورسیږي. سربیره پر دې اخراج د عدالت او انصاف په رعایت کولو سره صورت مومي ، خو په هر حالت کې هغه دولت ، چې د خپل قلمرو څخه بهرنیان اخراجوي پدې

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

مورد د هيڅ ډول دليل په ارايه کولو الزام نلري، مګر په هغه صورت کې چې پدې مورد د يوې نړيوالې مرجع له لورې دعوی مطرح شي، چې پدې صورت کې دولت د بهرني د اخراج په مورد کافي دلايل بايد ارايه کړي، چې لدې پرته د دولت د مسوليت سبب ګرځي.

بايد يادونه وکړو چې د يو مشخص هيواد اتباعو د نامعينو افرادو اخراج دهغې مملکت په نسبت يو ډول بد چلند او بده رويه ده، خو د دولت له لورې د لزوم په صورت کې د يوه مشخص هيواد د افرادو اخراج د هيواد د ملي مصلحتونو او عامه نظم د مطرح کيدو په صورت کې کوم مشکل نلري.(۵۵ : ۱۳۲) دا نقطه هم بايد له ياده ونه باسو د دې لپاره، چې اخراج د نړيوالو عمومي حقوقو د اصولو سره مطابقت ولري نو بايد فردي اړخ ولري نه فاميلي، ټولنيز او ډله ايز. او د جنګ او سياسي اړيکو د قطع کيدو پرته که يو دولت د خارجي اتباعو په اخراج باندې تصميم ونيسي او دهغې په موجب د معين هيواد ټول اتباع د خپل قلمرو څخه اخراج کړي، په حقيقت کې ذکر شوی دولت د نړيوالو حقوقو د منل شويو اصولو او نزاکتونو خلاف عمل ترسره کړيدی.(۵۶ : ۱۱۰)

دا موضوع د پناه وړونکو په وضعيت پورې اړوند د ۱۹۵۱کال کنوانسيون په ۳۳ ماده کې دا ډول صراحت لري ((۱- له ژمنو دولتونو څخه هيڅ يو به په هيڅ ډول پناه وړونکي هغو خاورو ته چې امکان لري په توکم(نژاد)، مذهب، مليت، په خاصه ټولنيزه ډله کې په غړيتوب يا د سياسي عقيدو په لرلو پورې په اړوندو علتونو د هغه ژوند يا آزادي تر ګواښ لاندې راشي ، ونه باسي ، يا به يې بيرته ونه ګرځوي. ۲- خو هغه پناه وړونکي به چې د کافي دلايلو له مخې يې وجود د هغه ته چې هلته ژوند کوي خطرناک وي يا د محکمې د قطعي قضاوت له مخې د مهم جرم يا جنايت په ارتکاب محکوم شوی وي او د هيواد د ټولنې حال ته مضر تشخيص شي، نشي کولای پدې ماده کې له ذکر شوو مقرراتو څخه د ګټې اخيستنې دعوی وکړي)) بايد ووايو چې هر هيواد حق لري هغه بهرنيان، چې په قلمرو کې يې د امنيت خلاف عمل کوي او عمومي نظم مختل کوي او يا د اخلاقو خلاف اعمال ترسره کړي د خپل هيواد څخه اخراج کړي، په عين حال کې د بهرنيو اتباعو اخراج بايد د انساني شرايطو سره سم صورت ونيسي او په متعارف ډول د

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

بهرنيو اتباعو د اخراج لپاره په مصلحتونو قايل شي تر څو بهرنی د ناڅاپي اخراج په صورت کې د مالي او ځاني زيان سره مخامخ نشي. بهرنيو اتباعو ته د مهلت ورکړه د بهرنيانو په نسبت د هيوادونو په شرايطو پورې تړاو لري او د هغې په موجب لکه څرنګه ، چې مخکې هم وويل شول دولت حق لري د مملکت د ضرورت او مصلحت په صورت کې په فوق العاده ډول دغه عمل ترسره کړي.

خو په هغه صورت کې چې بهرنی شخص په هغه هيواد کې د زيات وخت لپاره اوسيدلی وي او شغل او پيشه ولري او د خپل ژوند محور ئې په ثابت محور باندې برقرار کړی وي، پدې صورت کې د اخراج دلايل بايد موجه وي او د کافي مصلحت په نظر کې نيولو او د لازم اخطار سره صورت ونيسي. په هغه مواردو کې چې د بهرنيانو اخراج په غير قانوني ډول ترسره شوي او د اخراج کوونکي دولت د نړيوال مسوليت موجب شوی وي د اخراجي فرد د متبوع دولت په وسيله د نړيوالو مراجعو له طريقه د خسارې د جبران د غوښتنې سبب ګرځي.(۵۳ : ۱۹۹) د بهرنيو اتباعو د مسافرت او اقامت قانون په دوه مواردو کې د بهرنيانو د اخراج څخه يادونه کړيده چې پدې مورد د نوموړي قانون ۴۴ ماده دا ډول صراحت لري ((هغه بهرنی تبعه چې د قانع کېدونکو دلائلو له وړاندې کولو پرته، خپله ويزه چې موده ئې تېره شوي وي، تر پنځو ورځو پورې اوږده نکړي د هرې ورځې ځنډ په مقابل کې په يوه ورځ حبس محکوميږي او که چېرې دغه موده له يوې مياشتې نه زياته شي د بند د ټاکلي مودې له تېرولو وروسته د افغانستان نه ايستل کيږي)).

په همدې ترتيب سره که چيرې بهرنی تبعه افغانستان ته په غير قانوني ډول داخل شوی وي د واکمنو مراجعو پواسطه اخراجوي ، چې پدې مورد په افغانستان کې د بهرنيو اتباعو مسافرت او اقامت قانون ۵۱ ماده دا ډول صراحت لري ((هغه بهرنی تبعه چې د يوې ټاکلي مودې او يا د نامعلومې مودې لپاره، د افغانستان له اسلامي جمهوريت نه ويستل شوي وي او د واکمنو افغاني مقاماتو له موافقې پرته افغانستان ته بيا راننوځي، تر يوې مياشتې پورې په حبس محکوميږي، او د افغانستان اسلامي جمهوريت له حدودونه ايستل کيږي)) بنا پردې څه ډول چې ليدل کيږي په افغانستان کې د بهرنيو اتباعو د مسافرت او اقامت قانون د افغانستان څخه

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

د بهرنيانو د اخراج څخه يادونه کړيده، عمدتاً په دوه مشخصو مواردو کې عملي کيږي. پداسې حال کې چې د اخراج موارد زيات دي او بايد د دغه مواردو څخه په قانون کې په صراحت سره يادونه شوي واى، چې د هغې په موجب له يوه اړخه بهرنيو اتباعو د خپلو مکلفيتونو او وجايبو حدود پيژني او له بله اړخه د اخراج په مورد د اړوندو ادارو د صلاحيتونو حدود هم واضح واى ، تر څو د مسولينو د سوءاستفادې څخه مخنيوى کيدلو.

د مدني او سياسي حقوقو نړيوال ميثاق هم د بهرنيو اتباعو د قانوني اخراج څخه يادونه کړيده او هغه يې د هيواد د ملي امنيت او منافعو په حفظ پورې تړلى دى ، لکه چې پدې مورد د ذکر شوي کنوانسيون ۱۳ ماده دا ډول صراحت لري ((((۱- هر څوک چې په قانوني توګه په خپله دولتي سيمه کې استوګن وي د ازاد تګ راتګ او په ازاده توګه هلته د اوسيدنې د ځاى حق لري . ۲- هر څوک ازاد دي چې هر هيواد لدې جملې څخه خپل هيواد پريږدي . ۳- نوموړى حق تر هيڅ ډول بنديز لاندې نشي واقع کيداى ، مګر هغه محدوديتونه او بنديزونه چې د قانون له مخې رامنځته شوي وي او د ملي امنيت ، د عمومي نظم د ټينګښت ، د عمومي ګټو يا د نورو د حقوقو او ازاديو دپاره لازم وګڼل شي او په دغه تړون کې له نورو حقوقو سره سمون ولري. ۴- هيڅوک نشو کولاى په خپل سر پرته له کوم دليل څخه هيواد ته د ورتګ څخه بې برخې کړو)) چې د عين مسلې څخه د بهرنيانو په اړه د ملګرو ملتونو د ۱۹۸۵ کال ۷ ماده کې دا ډول يادونه شويده ( يو بهرنى وګړى د قانون د حکمونو مطابق هغه وخت د يوه هيواد څخه اخراج کيږي ، چې د بهرني پر وړاندې د هيواد د ملي امنيت په خطر کې اچولو په مورد کافي دلايل ولري ، بهرني وګړي حق لري چې د خپل عدم خروج دلايل هغه مقاماتو ته چې د دې هدف لپاره تعين شويدي تقديم کړي ، د رنګ، ژبې ، مذهب، فرهنګ، نسب، تابعيت او قوم په اساس د بهرنيو اتباعو ډله ايز اخراج ممنوع دى)) او د پناه وړونکو په وضعيت پورې اړوند د ۱۹۵۱ کال کنوانسيون ۳۲ ماده هم پدې مورد دا ډول صراحت لري ((۱- ژمن دولتونه به هغه پناه وړونکي چې په منظمه توګه د هغه په خاوره کې ژوند کوي و نه باسي، خو د ملي امنيت يا عمومي نظم د ساتنې په دليلونو. ۲- د دغه ډول پناه وړونکو ايستل به فقط د هغه تصميم په موجب صورت ومومي چې د قانوني موازينو مطابق نيول شوى وي ، نوموړي پناه

www.ketabton.com په انټرنېټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

وړونکي ته باید اجازه ورکړل شي چې له ځانه د تور د لیرې کولو لپاره مدارک وړاندې کړي ، د استیناف غوښتنه وکړي او د واکمنو مقاماتو یا هغه شخص یا اشخاصو ته چې واکمنو مقاماتو ټاکلي وي مراجعه وکړي ، خو دا چې دغه امر د ملي امنیت په دلایلو سره میسر نه وي. ۳- ژمن دولتونه به دغه ډول پناه وړونکي ته مناسب فرصت برابر کړي څو پدې موده کې وکولای شي د قانون له لارې بل هیواد ته د ورتګ مجوز ترلاسه کړي، ژمن دولتونه کولای شي په نوموړي موده کې هغه کورني اقدامات چې لازم دي ، ترسره کړي)) بنا پردې لکه څه ډول چې لیدل کیږي، چې د داخلي قوانینو او نړیوالو اسنادو په اساس بهرني اتباع حق لري، چې خپل هیوادونه ترک او بل هیواد ته داخل او د لنډ یا زیات وخت لپاره هماغلته اقامت وکړي او د اقامت په وخت کې د هغه د نافذه قوانینو په رعایت کولو مکلف دی. په همدې ترتیب سره بهرني اتباع د میزبان هیواد څخه د عبور او مرور حق او هیڅ دولت نشي کولای، چې د بهرنیانو د خروج مانع شي، مګر دا چې قانون د بهرنیو اتباعو خروج ممنوع ګڼلی وي او له بله طرفه دولتونه نشي کولای، چې د موجه دلایلو پرته بهرني اتباع د هیواد څخه اخراج کړي لکه څه ډول ، چې د دې موضوع څخه د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه او د مدني اوسیاسي حقوقو نړیوال میثاق کې هم یادونه شویده.

## څلورم مبحث

### په افغانستان کې د بهرنیو حکمی اشخاص حقوق او وجایب

لکه څه ډول چې مو مخکې هم یادونه وکړه، حقیقي اشخاص د مملکت څخه بهر د یو سلسله حقوقو او وجایبو لرونکي دي، چې دا ډول حقوق او وجایب د بهرنیو حکمي اشخاصو په مورد هم صدق کوي. لدې جهته بهرني حکمي اشخاص عیناً د هماغه حقوقو او وجایبو لرونکي دي، چې حقیقي اشخاص یې لري، مګر په ځینو خاصو مواردو کې.

که څه هم په پخوا وختونو کې له هیواد څخه بهر اړیکې او روابط یوازې او یوازې د حقیقي افرادو له لورې صورت نیولو او یواځې په حقیقي اشخاصو پورې محدودې او منحصرې وې، خو په اوسني عصر کې د تمدن، صنعت او تجارت په سریع پرمختګ سره د دې روابطو بر قرارې د حقیقي اشخاصو د توان او قدرت

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

څخه بهر او د هغې مجموعي افرادو له لورې صورت مومي، چې د مشترک هدف لپاره د انتفاع په منظور يو له بل سره ګډ فعاليت کوي او د قانون په موجب د خپلو متشکله افرادو څخه د يوه مستقل حقوقي شخصيت لرونکي وي.

نوموړي اشخاص چې په ملي او نړيواله کچه يې هره ورځ اهميت د زياتيدو په حال کې دی، بايد د دولتونو په وسيله د هغې د فعاليتونو د تسهيل او پرمختګ لپاره هغوی وپيژندل شي او د هغې شخصيت ته رسميت ورکړل شي. چې پدې مبحث کې به د انتفاعي او غير انتفاعي خصوصي حکمي اشخاصو ثبت او پيژندنه او د حکمي اشخاصو حقوق تر مطالعې لاندې ونيسو.

## لومړی پراګراف

## د بهرنيو حکمي اشخاصو ثبت او پيژندنه

بهرنی حکمي شخص د دې لپاره چې د خپل متبوع هيواد څخه بهر خپل فعاليت ته ادامه ورکړي، د ميزبان دولت له لورې د خپل حکمي شخصيت د پيژندلو نيازمند دی. که څه هم د حکمي شخص د پيژندلو په مورد په نړيوالو حقوقو کې کلي او مسلم اصل شتون نلري، خو دغه امر د دولتونو په سياست پورې تړاو او وابستګي لري، چې هر هيواد يې د خپلو نړيوالو اقتصادي او سوداګريزو ضرورتونو په اساس د قانون يا هغه معاهداتو په اساس چې پدې مورد يې د نورو دولتونو سره منعقد کړي وي، د بهرنيو حکمي اشخاصو په رسميت پيژندلو ته اقدام کوي. دغه ډول په رسميت پيژندنه بهرنيو عمومي حکمي اشخاصو ته نه شامليږي، ځکه نوموړي اشخاص په دولت پورې مربوط او په هغې پورې تړاو لري.(۴ : ۱۸۸) بناپردې پدې پراګراف کې د بهرنيو خصوصي انتفاعي او غير انتفاعي حکمي اشخاصو ثبت او پيژندنه د مطالعې لاندې نيسو.

### الف- د بهرنيو انتفاعي خصوصي حکمي اشخاصو ثبت او پيژندنه

دغه بحث ته د داخليدو څخه مخکې لازمه ده، چې انتفاعي خصوصي حکمي اشخاص په داخلي قوانينو کې بيان کړو. انتفاعي خصوصي حکمي شخص د قوانينو مطابق تجارتي او مدني خصوصي انتفاعي اشخاصو ته شامليږي او دا ډول شرکتونو د مشترک منفعت لاسته راوړل د عقد د طرفينو د ارادې عنصر دی، چې

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

د مدني قانون په ۱۲۱۶ ماده کې بيان شويدي((شرکت د داسې عقد څخه عبارت دی چې د هغې په موجب دوه يا د دوو څخه زيات اشخاص تعهد کوي چې د يو مالي فعاليت په کار اچولو دپاره د يوې اندازې مال په ورکولو، يا د يو کار د سرته رسولو يا په اعتبار په داسې توګه سره شريک شي چې ګټه او خساره به يې ترمنځ د هغې موافقې په اساس چې د دوی تر منځ شوي، ويشل کيږي)) نو پدې اساس مدني شرکت هغه عقد دی چې د دوو يا څو نفرو له لورې د يو امر څخه د انتفاع په قصد منځته راځي. دا ډول شرکت د ثبت او راجستر نيازمند دی او لدې پرته د نورو ثالثو اشخاصو سره د تعامل په وخت کې د هغې په عدم باندې استناد کيږي. که څه هم د مقنن فرض د هغې په تشکيل سره دی د ثالثو اشخاصو د حقوقو او د شرکتونو د مسوليت د ايجاد لپاره.

د تجارتي اصولنامې په ۱۱۶ ماده کې تجارتي شرکت دا ډول تعريف شويدی((تجارتي شرکت عبارت د څو کسانو د اشتراک څخه دی، چې په يوه يا متعددو موضوع کې د تجارتي معاملاتو د اجرا په مقصد وي)) يعنی تجارتي شرکتونه هغه وخت حکمي شخصيت ګڼل کيږي چې ثبت شوی وي. د سهامي او محدودالمسوليت شرکتونو قانون د (۲۲)۴ له مخې بهرنی حکمي شخص عبارت دی له((بهرنی حکمي شخص هغه شخص دی چې حقوقي شخصيت يې د افغانستان له قوانينو په غير قوانينو په چوکاټ کې مشخص شوی وي)).

بناپردې بهرنی حکمي شخص بايد په محل اقامت هيواد کې په صحيح ډول تشکيل شوی وي تر څو په افغانستان د هغې شخصيت وپيژندل شي، نوموړي شرکتونه په افغانستان کې د فعاليت لپاره بايد مجوز يا اجازه ليک ترلاسه او ثبت کړي، پدې دليل چې دهغې قانوني اقامتګاه معلومه وي همدارنګه د دعوی د اقامه کولو او طرحه کولو محل هغه محل دی، چې شرکت پکې په ثبت رسيدلی وي تر څو مدعی وکولای شي د هغې په وړاندې دعوی اقامه کړي.

په افغانستان کې د بهرنيو اتباعو د شرکتونو د ثبت قانون د ۱ او ۲ مادو له مخې هغه بهرني اتباع چې په افغانستان کې د تجارت او سوداګری قصد ولري، نو د تجارت وزارت له لوري د جواز په ترلاسه کولو مکلف دی. د نوموړي قانون په ۵ ماده کې د جواز د ترلاسه کولو مراتب پدې ډول ذکر شويدي((۱- د دريو قطعو

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

عکسونو سره یو ځای د تحریري غوښتنلیک تقدیم. ۲- د درخواست کوونکي د متبوع هیواد د قانوني مراجعو څخه د عدم مسولیت د تصدیق ارایه کول. ۳- د شرکت د نوم، د تاسیس نیټې، د پانګې د اندازې او د درخواست کوونکي په متبوع هیواد کې د اصلي مرکز د ادرس وضاحت. ۴- د متبوع هیواد د یوه بانک څخه د درخواست کوونکي د مالي اعتبار د لرلو د تصدیق ارایه کول. ۵- د درخواست کوونکي د مرکزي دفتر او د اړوند هیواد د اطاق تجارت له لورې په افغانستان کې د مورد تاسیس شرکت تضمین. ۶- ټول پورتني اسناد د درخواست کوونکي د متبوع هیواد د بهرنیو چارو وزارت د تصدیق او په هغه هیواد کې د مقیم افغاني سفارت د تائید او مهر کولو څخه وروسته د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت له لورې د سوداګرۍ وزارت ته لیږل کیږي)) او د سهامي او محدود المسولیت شرکتونو د ثبت او جواز ترلاسه کولو لزوم د ذکر شوي قانون په ۲ ماده[22] کې ذکر شویدي، چې د همدغه قانون د (۱۴)۴ مادې له مخې د ثبت مرکزي دفتر د هغې اداري څخه عبارت ده، چې بهرني سهامي او محدودالمسولیت شرکتونه په هغې کې ثبت کیږي، نو بهرني حکمي اشخاص مقدمتاً باید ثبت او متعاقباً د فعالیت لپاره د جواز په ترلاسه کولو مکلف دی.

## ب- د غیر انتفاعي خصوصي حکمي اشخاصو ثبت او پیژندنه

د مدني قانون د ۳۳۸ مادې[23] له مخې دا ډول حکمي شخص هم د خصوصي افرادو له ارادې څخه ناشي او د علمي، تربیتي، ادبي، هنري، فني، خیریه او نورو فعالیتونو په مقصد تشکیل کیږي، د افغانستان د غیر دولتي موسساتو قانون له مخې خارجي موسسه عبارت ده له((مؤسسه: غیر دولتي، غیر سیاسي او غیر انتفاعي سازمان دی چې کورنۍ او بهرنۍ مؤسسې پکې شاملې دي))[24] همدارنګه نړیواله بهرنۍموسسه د نوموړي قانون په اساس عبارت ده له ((نړیواله بهرنۍ مؤسسه: له

---

[22] هیڅ شخص نشي کولای د سهامي او محدودالمسولیت شرکت په توګه د جواز د لرلو او د مرکزي ثبت په دفتر کي د هغه له ثبت کولو پرته په افغانستان کي سوداګریزې معاملې او اعلانونه سرته ورسوي.

[23] حکمي شخصیت په نوعه دی: ۱- عام حکمي شخصیت چې د دولت د رکنونو، فرعي ادارو د هغې د مربوطو شعبو او عمومي تاسیساتو ته شاملیږي. ۲- خاص حکمي شخصیت چې د خصوصي افرادو د ارا دې څخه پیدا کیږي، لکه وقف، جمعیتونه، موسسې، مدني یا تجارتي شرکتونه، مګر داچې قانون دارنګه شخصیتونه عام ګرځولي وي.

[24] د غیر دولتي موسساتو قانون، ۵ ماده، ۱ فقره

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

غیر دولتي تشکیل ځخه عبارت ده چې له افغانستان ځخه بهر د بهرنیو دولتونو د قانون مطابق جوړېږي او فعالیت یې له یوۀ هېواد ځخه زیات احتواء کوي. د ملګرو ملتو مؤسسې او اړوند ارګانونه یې په دې تعریف کې شامل ندي))[25] په همدې ترتیب سره په ذکرشوي قانون کې د دا ډول حکمي اشخاصو غیر انتفاعي والی په ۵ ماده کې دا ډول بیان شویدی((غیر انتفاعي پدې مفهوم چې : ۱ـ مؤسسه نشي کولای ترلاسه شوې شتمنی، عایدات او ګټې دمؤسسې له کاري هدفونو پرته هېڅ شخص ته وویشي. ۲ـ مؤسسه نشي کولای له ترلاسه شوو شتمنیو، عایداتو او ګټو ځخه په مستقیم یا غیر مستقیم ډول د مؤسسینو، غړو، مدیره هیئت، مسؤولینو، کارکوونکو، مرسته ورکوونکو یا د هغوی د خپلوانو د شخصي مقصدونو او ګټو لپاره استفاده وکړی))[26].

دا ډول حکمي اشخاص د جواز اخیستلو او ثبت لپاره باید د سوداګری او صنایعو وزارت ته غوښتنلیک ورکړي همدارنګه هغه سند یا نور معتبر مدارک چې په بل هیواد کې د شرکت ثبت او فعالیت ثابت کړي باید د غوښتنلیک سره ضمیمه او د بهرنیو چارو وزارت ته یې وړاندې کړي، چې نوموړی وزارت یې د ثبت لپاره د سوداګری او صنایعو وزارت ته لیږي. په افغانستان کې د موسسې شخصیت په ثبت کولو سره تکمیل کیږي(د غیر دولتي موسساتو قانون ۲۰ماده). د دې ډول موسسو د حمایت په مورد د غیر دولتي موسساتو قانون ۷ ماده دا ډول صراحت لري((په افغانستان کې د مؤسسې پر هدفونو او فعالیتونو باندې هېڅ ډول محدودیت نشي وضع کېدای، خو د قانون په موجب)).

## دوهم پراګراف

### د بهرنیو حکمي اشخاصو حقوق او وجایب

لکه ځرنګه چې مخکې د بهرنیو حکمي اشخاصو ثبت او پیژندل د افغاني قانونګذار له لورې بیان شول، چې د دې پیژندنې په موجب بهرنیو حکمي اشخاصو

[25] هماغه قانون، ۵ ماده، ۴ فقره
[26] هماغه قانون، ۵ ماده، ۵ فقره

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

ته ځيني حقوق هم ايجاديږي او د مدني قانون د ۳۴۱ مادې[27] له مخې د ټولو هغو حقوقو لرونکي دي، چې د قانون له لورې حقيقي اشخاصو ته ورکول کيږي، مګر په هغه مواردو کې چې ذکر شوي حقوق يوازې په حقيقي اشخاصو پورې منحصر وي. البته قانوني ممنوعيتونه، لکه د اساسي قانون د ۴۱ مادې له مخې د بهرنيو اشخاصو له لورې د عقاري اموالو د عدم تملک بيان شوی دی. پداسې حال کې چې د افغانستان د غير دولتي موسساتو قانون په ۲۶ ماده ۱ فقره کې پدې مورد دا ډول حکم راغلی دی((مؤسسه د قانون د حکمونو مطابق د منقولو او غير منقولو مالونو لرونکې ده او له هغو څخه د غير انتفاعي مقصدونو او هدفونو د سرته رسولو لپاره ګټه اخلي)) نوموړی ماده په ځينو مواردو کې د اساسي قانون د ۴۱ مادې سره په تعارض او د اعمال قابليت نلري او دغه حکم يوازې د بين المللي موسساتو، چې افغانستان هم د هغې غړی وي د تطبيق وړ دی. او دغه موسسات کولا شي چې په افغانستان کې عقاري اموال تملکت کړي لکه نړيوال بانک او د ملګرو ملتونو سازمان.(۴ : ۱۹۳)

د بهرنيو حکمي اشخاصو پيژندې ته په توجه سره د هغوی لپاره د افغاني مقنن له لورې حقوق ايجاد کيږي، چې ځيني د دې حقوقو څخه په لاندې ډول دي: بهرنی حکمي شخص د داخلي حقيقي يا حکمي شخص پشان کولای شي، چې پخپله اساسنامه کې پيش بيني شوي معاملات او سرمايه ګذاري يا پانګونه وکړي، پرته له هغه معاملاتو څخه چې د بهرنيو اتباعو لپاره ممنوع وي(د ثبت قانون ۳ ماده). لکه د بهرنيو شرکتونو د ثبت قانون د ۹ مادې له مخې بهرني حکمي اشخاص کولای شي، چې افغاني توليدات په ټولو هيوادونو کې خرڅ کړي. د خصوصي پانګونې قانون د ۳ مادې له مخې داخلي او خارجي حقيقي او حکمي اشخاص کولای شي د دې قانون او د تجارت قانون د موادو مطابق د تجارتي فعاليتونو په برخه کې په ټولو اقتصادي فعاليتونو کې که توليدي وي يا خدماتي پانګونه وکړي، له هغه مواردو پرته چې قانون مستثنی ګرځولي دي.[28] همدارنګه د سهامي او

---

[27] حکمي شخصيت د ټولو هغو حقوقو لرونکی دی، چې د قانون په وسيله تاکل شوي وي. مګر هغه حقوق چې په حقيقي شخص پورې منحصر وي.

[28] د خصوصي پانګونې قانون د ۵ مادې له مخې په لاندې ساحو کې پانګونه ممنوع ده: ـ دهستوي انرژۍ په پراختياکې. ۲ـ دقمارخانو او هغوته د ورته ځايونو تأسيسول. ۳ـ دمخدره موادو او نشه راوړونکو موادو توليد...

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

محدودالمسولیت شرکتونو قانون د ۱۹ مادې له مخې((سهامي شرکت د حکمي شخصیت په توګه د غیر محدودې مودې لپاره فعالیت کوي، د خپلواک شخصیت د ټولو هغو واکونو لرونکی دی چې د سوداګریزو معاملو او نورو چارو د سرته رسولو لپاره په قانوني توګه فعالیت کوي، خو دا چې د شرکت په اساسنامه کې بل ډول تصریح شوی وي)).

د مدني قانون په ۳۴۲ ماده کې د داخلي او خارجي حکمي اشخاصو لپاره خصوصیات بیان شویدي، چې د بهرنیو حکمي اشخاصو د ثبت او پیژندلو څخه وروسته د هغې خصوصیات ګڼل کیږي. د ذکر شوي مادې له مخې د خصوصیات په لاندې ډول دي: ۱- ځانګړي مالي حقوق او وجایب. ۲- د هغه اهلیت چې په اساسنامه کې تحدید شوی او قانون مجاز ګڼلی وي. ۳- د دعوی د اقامه کولو او د دعوی د دفغ کولو حق. د اوسیدلو د ځانګړي ځای لرل او هغه د هغه ځای څخه عبارت دی، چې مرکزي اداره یې پکې واقع وي. د بهرنیو اتباعو په مورد چې د افغانستان د قوانینو مطابق د حکمي اشخاصو تاسیس ته اقدام کوي وروسته د ثبت او پیژندلو څخه د افغاني حکمي شخص په عنوان د افغاني تابعیت لرونکی او د خارجي شخص د وصف څخه هم خارجیږي. پدې ترتیب سره هماغه د داخلي شخص پشان د حقوقو څخه برخمن کیږي او دغه اشخاص کولای شي، چې عقاري اموال هم تملک کړي. ځکه د هغې حکمي شخصیت د هغې غړو، سهم یا ونډه لرونکو او مدیرانو د حقیقي شخصیت څخه جدا دی، چې دا موضوع د نومړو دوو اشخاصو تر منځ د تمایز نقطه ده ، چې د حقوقو علم ته هم د منلو وړ ده.(۴ : ۱۹۴)

www.ketabton.com په انټرنېټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

## پايله

د هر هیواد نفوس د دولت سره د فرد د اړیکو د نوعیت په لحاظ په دوو ډولونو باندې ویشل کیږي چې د داخلي اتباعو او بهرنیانو څخه عبارت دي، له همدې ځایه ده چې د نړیوالو خصوصي حقوقو دوه عنوانونه تابعیت او د بهرنیانو د وضعیت په نوم سره رامنځته کیږي. او هغه محتواګانې چې د دې عنوانونو لاندې مطرح کیږي د موضوع د مطالعې څخه د ناشي اختلافاتو څخه دي، یعنی د اتباعو څخه د ملي او داخلي حقوقو په قلمرو کې او برعکس د بهرنیانو څخه عمدتاً د نړیوالو خصوصي حقوقو او بعضاً د نړیوالو عمومي حقوقو په قلمرو کې بحث کیږي، چې په حقیقت کې د بهرنیانو حقوقي وضعیت د نړیوالو خصوصي حقوقو د عمده او اساسي مباحثو څخه ګڼل کیږي نو لکه څرنګه چې مخکې هم وویل شول چې، ننی عصر د ارتباطاتو او تګ راتګ عصر دی یعنی هره ورځ په زرګونو بهرنیان د خپلو هیوادونو د سرحدونو څخه تیر او د نورو هیوادونو قلمرو ته داخلیږي، چې ممکن د ټولنیزو، سیاسي، فرهنګي، اقتصادي، حقوقي او نورو اړخونو له حیثه یې د خپل هیواد څخه متفاوت وي او په عین حال کې دولتونه هم کوشش کوي او پدې هڅه کې وي، چې د خپلو اتباعو د ژوند او عامه اسانتیاو د برابرولو لپاره لازم اقدامات ترسره کړي. ځکه دولتونه د خپلو اتباعو پر وړاندې ملکفیتونه لري او په مقابل کې یې اتباع هم د دولت پر وړاندې د ټاکلیو وجایبو په ترسره کولو مکلف ګرځي، چې په حقیقت کې د ژان ژاک روسو په قول دا یو ډول ټولنیز تړون دی، چې د ټاکلیو افرادو او ټاکلي دولت تر منځ رامنځته او یو د بل پر وړاندې د حقوقو او وجایبو لرونکي وي.(۱۲: ۱۹)

نو په همدې ملحوظ عمدتاً د حقوقو څخه برخمن کیدل او د وجایبو تحمیل د تابعیت په اساس صورت مومي خو دا پدې معنی نه ده، چې بهرنیان او یا د بهرنیانو په مورد لکه چې په پخوا وختونو کې د محرومیت اصل معمول وو، یعنی دا چې په محل اقامت هیواد کې د بشر د اساسي حقوقو څخه برخمن کیدل او د وجایبو متحمل کیدلی نه شول، بلکه نن ورځ د نړۍ د زیاترو هیوادونو د قوانینو په اساس د اتباعو او بهرنیانو د یو شان والي او تساوي اصل په مجموع کې منل شویدی او د حد اقل حقوقو معیار په ملي او نړیواله کچه د حد اکثر حقوقو د معیار په په لورې سیر او میلان پیداکړیدی، خو دا چې قانون په صراحت سره هغوی د یو لړ ځانګړو حقوقو

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

څخه محروم ګڼلي او پر هغوی باندې يې وجايب تحميل کړي وي. بهرنی حق لري چې د يوه حقيقي شخص په عنوان په بل هيواد کې اقامت او هستوګنه وکړي او د يو سلسله امتيازاتو څخه مستفيد شي، لدې رويه بهرنيان کولای شي د محل اقامت هيواد محکمې ته د مدعی او مدعی عليه په عنوان مراجعه وکړي او د حق د احقاق لپاره د ټولو قانوني تسهيلاتو څخه ګټه پورته کړي او د خپل ځان څخه د دفاع لپاره مدافع وکيل وټاکي او د دې تر څنګ د محاکمې په جريان د پوهيدلو لپاره د ژباړن د لرلو حق لري. که د محل توقف دولت پدې مورد په بهرنيانو باندې محدوديتونه وضع کړي، نو بهرنی حق لري چې د خپل متبوع هيواد سياسي او قونسلي مامورينو ته په مراجعې سربيره د محل اقامت هيواد محاکمو ته هم د خپل حق د احقاق لپاره مراجعه وکړي.

په همدې ترتيب سره بهرنيان کولای شي په محل اقامت هيواد کې خپل ديني او مذهبي مراسم اجرا کړي او همدارنګه کولای شي په ميزبان هيواد کې ازدواج وکړي او د بې تابعيته اشخاصو په مورد د ملګرو ملتونو د ۱۹۸۵ کال اعلاميې مطابق بهرنيان کولای شي کوچني اولادونه او نور خپلوان ولري او همدارنګه کولای شي چې په خپله ملي ژبه خبرې او زده کړه وکړي. همدارنګه بهرنيان حق لري، چې د داخلي اتباعو په شان د عمومي خدمتونو لکه راديو، تلويزون، برق، ګاز، ښوونې او روزنې او نورو خدمتونو څخه استفاده وکړي، البته امکان لري ځيني د دې خدمتونو څخه د داخلي اتباعو لپاره وړيا او د بهرنيانو لپاره مالياتي وي.

که د بهرنيانو سره د بشر د لومړنيو حقوقو د برخمن کيدو له لحاظه مناسب چلند ونشي، نو په يقين سره بايد د دې توقع ونلرو چې نور هيوادونه به زمونږ د هيواد د اتباعو سره له هره حيثه انساني او عادلانه چلند وکړي، بنا پردې که وغواړو چې زمونږ هيواد د اتباعو سره په نورو هيوادونو کې مناسب او عادلانه چلند وشي، نو بايد د نورو هيوادونو د اتباعو سره هم انساني او عادلانه چلند وکړو. او که چيرې د بهرنيانو د ورود، اقامت، عبور او خروج په مورد مناسب او عادلانه قواعد ولرو او وضع کړو، نو يقيناً د نورو هيوادونو څخه هم بايد د افغاني اتباعو سره د عادلانه چلند توقع ولرو.

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون

که چیرې د هیواد نافذه قوانینو ته په لنډ ډول نظر وکړو، نو لیدل کیږي چې د افغانستان قوانین د بشري ژوندانه په مختلفو برخو کې بهرنیانو ته اساسي او بشري حقوق ورکړي دي. او د هغې رعایت یې په خپل ځان واجب بللی، لکه چې د اساسي قانون ۵۷ مادې د صراحت له مخې دولت په افغانستان کې د خارجي اتباعو حقوق او آزادی له قانون سره سم تضمینوي. دا کسان د بین المللي حقوقو د قواعدو په حدودو کې د افغانستان د دولت د قوانینو په رعایت مکلف دی. په همدې ترتیب سره د په افغانستان کې د بهرنیو اتباعو د مسافرت او استوګنې قانون هم بهرنیانو ته د داخلي اتباعو په شان حقوق ورکړیدي چې پدې مورد د نوموړي قانون ۲۵ ماده دا ډول صراحت لري: هغه بهـــــــرنی تبعه چې ددغه قانون له حکمونو سره سم د افغانستان اسلامـــــــــي جمهوریت ته راځي ، له هغو حـــــقوقو نه ګټه اخلي چې د افـــــغانستان اسلامي جمهوریت په قـــوانـــــــینو کی ورتـــــه ټاکـــــــل شوي دي.

بنا پردې څه ډول مو چې مطالعه کړل، په افغانستان کې د بهرنیو اتباعو حقوق او آزادی د هیواد د نافذه قوانینو او نړیوالو اسنادو مطابق بیان شویدي او دغه حقوق او آزادی چې مخکې هم ورته اشاره وشوه د قانون پواسطه تضمین شویدي. د یادولو وړ ده چې د بهرنیو اتباعو اساسي حقوق او آزادی په نړیوالو معتبرو اسنادو لکه د بشر حقوقو نړیواله اعلامیه، د بشر حقوقو نړیواله اسلامي اعلامیه، د مدني او سیاسي حقوقو نړیوال میثاق، د پناه وړونکو په وضعیت پورې اړوند کنوانسیون او د بهرنیانو په مورد د ملګرو ملتونو د ۱۹۸۵ کال په اعلامیه کې په پراخ ډول منعکس شویدي او د غړو دولتونو څخه غواړي، چې په محل اقامت هیواد کې د بهرنیانو د انساني حقوق او آزادی رعایت کړي.

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

## ماٴخذونه


1) قرانکریم

2) آل کجاف، حسین. حقوق بین الملل خصوصي(۱۳۹۰). دانشگاه پیام نور

3) ابراهیمي، سید نصرالله. (۱۳۷۳). حقوق بین الملل خصوصي. چاپ اول، تهران: سمت.

4) افضلي، عبدالوحد و محمد اسحق رحیمي.(۱۳۹۱). حقوق بین الملل خصوصي. چاپ اول، تهران: (سمت)مرکز تحقیق و توسعه علوم انساني و موسسه تحصیلات عالي ابن سینا، افغانستان.

5) الماسي، نجادعلي. (۱۳۸۵). حقوق بین الملل خصوصي. چاپ چهارم، تهران: نشر میزان.

6) انوري، حسین. (۱۳۸۵). فرهنگ فشرده سخن. چاپ دوم، تهران: انتشارات سخن.

7) جعفر لنگرودي، محمد جعفر. (۱۳۸۲). ترمینولوژي حقوق. چاپ سزدهم، تهران: کتابخانه گنج دانش.

8) د افغانستان د بشر حقوقو خپلواک کمیسون. (۱۳۸۵). د بشر حقوقو نړیوال ځانګړي سندونه، کابل: مطبعه حبیب الله حسیب.

9) دانش پژوه، مصطفی.(۱۳۸۶). اسلام و حقوق بین الملل خصوصي. چاپ سوم تهران: مرکز چاپ و انتشارات امور خارجه.

10) رسولي، محمد اشرف. (۱۳۸۹). تحلیل و نقد قانون اساسي افغانستان. چاپ اول، جلد اول، کابل: انشارات سعید.


www.ketabton.com په انټرنېټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

11)رسولي، محمد اشرف. (۱۳۸۹). تحليل و نقد قانون اساسي افغانستان. چاپ اول، جلد دوم، کابل: انتشارات سعید.
12)روسو، ژان ژاک.(۱۳۴۲). قرارداد اجتماعي. مترجم، عنایت الله شکیباپور، تهران: بنگاه مطبوعاتي فرخي.
13)ستيز، ملک.(۱۳۸۶). بې ځایه شوي، کډوال او پناه اخیستونکي. ژباړن، سید محی الدین هاشمي، کابل: د مدني ټولنې او بشر حقوقو شبکه.
14)سلجوقي، محمود.(۱۳۷۷). بایسته های حقوق بین الملل خصوصي. تهران: نشر میزان. .
15)شیخ الاسلامي، سیدمحسن.(۱۳۸۴). حقوق بین الملل خصوصي. چاپ اول، تهران: کتابخانه گنج دانش.
16)صافی، ودیر. (۱۳۷۰). حقوق بین الملل عمومي.کابل: مطبعه دولتي.
17)ضیائي بیگدلي، محمد رضا.(۱۳۸۱). حقوق بین الملل عمومي. چاپ نوزدهم، تهران: کتابخانه گنج دانش.
18)عبدالله، نظام الدین. (۱۳۹۱). حقوق بین الملل خصوصي. چاپ سوم، کابل: انتشارات سعید.
19)عدلیې وزارت . (۱۳۷۹). پاسپورت قانون.
20)ـــــــــ . (۱۳۵۵). جزا قانون.
21)ـــــــــ . (۱۳۴۳). د افغانستان اساسي قانون.
22)ـــــــــ . ( ۱۳۵۵). دافغانستان جمهوریت اساسي قانون.
23)ـــــــــ . (۱۳۶۶). د افغانستان جمهوریت اساسي قانون.
24)ـــــــــ . (۱۳۶۹). د افغانستان اسلامي جمهوریت اساسي قانون.
25)ـــــــــ . (۱۳۸۲). د افغانستان اسلامي جمهوریت اساسي قانون.

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

26)———— .(۱۳۵۹). د افغانستان جمهوریت دیموکراتیک ا اصول.
27)———— . (۱۳۱۰). د افغانستان علیه دولت اساسي اصول.
28)———— . (۱۳۰۱). د افغانستان علیه دولت اساسي نظامنامه.
29)———— . (۱۳۷۹). د افغانستان په اسلامي جمهوریت کې د بهرنیو اتباعو د مسافرت او استوګنې قانون.
30)———— . (۱۳۸۳). د افغانستان په ادارو کې د بهرنیو اتباعو د استخدام مقرره.
31)———— . (۱۳۹۲). د انتخاباتو قانون.
32)———— . د بهرنیو اتباعو د تجارتي شرکتونو د ثبت قانون.
33)———— . (۱۳۸۵). د پناه وړونکو په وضع پورې اړوند کنوانسیون.
34)———— . (۱۳۷۹). د تابعیت قانون.
35)———— . (۱۳۳۹). د تجارت اصولنامه.
36)———— . (۱۳۳۹). د تجارتي علایمو اصولنامه.
37)———— . (۱۳۸۲). د جزایي اجراتو موقت قانون.
38)———— . (۱۳۸۴). د ځارنوالی د تشکیلاتو او صلاحیتونو قانون.
39)———— . (۱۳۸۴). د خصوصي پانګونې قانون.
40)———— . (۱۳۸۵). د سهامي او محدودالمسولیت شرکتونو قانون.
41)———— . (۱۳۵۴). د سیاحت قانون.
42)———— . (۱۳۸۴). پر عایداتو د مالیاتو قانون.
43)———— . (۱۳۸۴). د غیر دولتي موسساتو قانون.
44)———— . (۱۳۸۵). د کار قانون.
45)———— . (۱۳۸۵). د مدافع وکیلانو قانون.

www.ketabton.com په انټرنیټ کې د پښتو ژبې انلاین کتابتون

46)ـــــــــــ . (۱۳۶۹). د مدني محاكماتو د اصولو قانون.

47)ـــــــــــ . (۱۳۵۵). مدني قانون. اول جلد.

48)ـــــــــــ . (۱۳۵۵). مدني قانون. دوهم جلد.

49)ـــــــــــ . (۱۳۵۵). مدني قانون. دريم جلد.

50)ـــــــــــ . (۱۳۵۵). مدني قانون. څلورم جلد.

51)ـــــــــــ . (۱۳۰۲). د مهاجرت نظامنامه.

52)عميد، حسن. (۱۳۸۳). فرهنگ عميد. چاپ بيست و ششم، تهران: موسسه انتشارات امير كبير.

53)مدني، سيدجلال الدين. (۱۳۸۴). حقوق بين الملل خصوصي. چاپ چهارم ، تهران: انتشارات جنگل.

54)ناصح، ولي محمد. (۱۳۹۲). حقوق بين الملل خصوصي. كابل: انتشارات سعيد.

55)ناصح، ولي محمد. (۱۳۸۸). حقوق و وجايب خارجي ها در افغانستان. چاپ اول، كابل: انتشارات سعيد.

56)نصيري، محمد. (۱۳۸۱). حقوق بين الملل خصوصي. تهران: موسسه انتشارات آگاه.

57)يوشمير مؤلفين. (۱۳۸۷). د حقوقي اصطلاحاتو قاموس.كابل پوهنتون د حقوقو او سياسي علومو پوهنځی، كابل: د USAID په مالي ملاتړ.

www.ketabton.com په انټرنيټ کې د پښتو ژبې انلاين کتابتون